2-APR-1
Copy ____ 1959

# کابل

دپښتو ټولنی ، ادبی ، تاریخی او اجتماعی خپرونه

پرله پسی گڼه ، ٤٦٨-٤٦٩-٤٧٠

ښاغلی ممنون باغوانیوال

# نوی خیال

تللی وم هغلته چه ژوندون پکښی سرسام نه و
چل نه وفریب نه ودانه نه وه اودام نه و

لاس دتگماری کښی درښتینی ژوندزمام نه و
جیل نه وکنځل نه وپه چا خوشی الزام نه و

ژوند ورڼاورځ کښی توره شپه دبدبختی نه وه
هلته بینائی وه آرامی وه اوسختی نه وه

هلته به دژبی او قلم هرچاعزت کاوه
هلته به له بدو ځینی هر سړی نفرت کاوه

هلته به ځلمیانو دوطن په نوم خدمت کاوه
هرچابه دپوهی په رڼا کښی حرکت کاوه

هلته تمدن وخود پوهی له رڼا سره
حسن تهٔ کاته وخود ښوستر گوبینا سره

هلته په درسونو کښی دنوی ژوند نهضت روان
هلته دتحریک کاروان په بیړه اوسرعت روان

هلته حقیقت اوعدالت په ښه جرئت روان
هلته تفکر او تعقل وپه عظمت روان

نه وتظاهر هلته دژوند له صداقت سره
گډه زندگی وه پرمختگ اوحرکت سره

ښځی وی وتلی کفنونو اوقبرونو نه
خلاصی وی محیط کښی دبی مغز وله ظلمونو نه

گردی وی خبری دعصری ژوندله درسونو نه
خوند به اخسته دوی دخوازه وطن کارونو نه

ژوند ولږ زیدلی دسکون دنیایی وړی وه
حق و پاریدلی دپرون ریایی وړی وه

تول خلک بینا ودړند وتوره دنیانه وه
ظلم منځ نه تللی اند یښنه نه وه ژړانه وه

کور کښی د بډای د عیشونو مشغولانه وه
تیل دخوار غریب باندی دچاخونه رڼانه وه

ژوند وهمرنگی کښی باداری اوآغائی نه وه
مینه ورورولی وه ځانځانی او جدائی نه وه

د ۱۳۳۷ کال دلیندی ۳۰ د ۱۳۷۷ ق کال دجمادی الثانی ۹ د ۱۹۵۸ م کال ددسمبر ۲۱

۲۸ کال ۱۶، ۱۷، ۱۸ -- گڼې

# کابل

## ادبی ، تاریخی او اجتماعی

د امتیاز خاوند : پښتو ټولنه

د پښتو ټولنې مشر : گل پاچا الفت

مسئول مدیر : محمد حسن کاکړ

د تیلفون لمبر : ۲۱۲۹۱

پته : نادر پښتون وات د پل خشتی ترڅنګه، کابل .

# په دی ګڼه کښې


| شماره ـ مضمون | لیکونکی یا مترجم | صفحه |
|---|---|---|
| ۱: پښتو په شوروی کښې | ښاغلی کاکړ | ۱ |
| ۲: تطبیقی ادب | « الهام | ۵ |
| ۳: یوه رښتیانی قصه | « الفت | ۲۰ |
| ٤: دداکتر پنزل دمقالی په باره کښې | « تزی | ۲۲ |
| ۵: دشاعر سوغات | « دوریانکوف | ۲۸ |
| ٦: دپښتنو دلرغونی تاریخ یو فصل | « خادم | ۳۰ |
| ۷: دماجی تحفه | « سعدالدین | ۳۳ |
| ۸: دتاشکند جرګه | « کاکړ | ۳٦ |
| ۹: دنړی له لیکوالو څخه .... | اعلامیه | ٤۳ |
| ۱۰: فلسفه روزنه ده | ښاغلی لایق | ٤٦ |
| ۱۱: لیوتولستوی | « ساپی | ۵۰ |
| ۱۲: دشوروی ننني جامعه | « کاکړ | ۵۲ |

# پښتو په شوروی کښی

دافرادواو همداراز دولسو نوله دوستی او اندیوالی څخه هغه وخت پوره خوند اونتیجه اخیستل کیدای شی چه یو دبل په ژبه او فکر ښه پوه شی ددی منظور دپاره هغه ولسونه چه له نورو سره درښتینی اندیوالی اوپخی دوستی تمه لری زیارباسی چه ها بل ولس ښه و پیژنی له ادب موسیقی کلچر او دژوندانه له طرز او خصوصیت سره ئی آشناشی.

داکار هلته ښه تر سره کیږی چه یو دبل په ژبی په عادت په رسم او رواج باندی پوه شی.

رښتیا چه په دی دول دولسونو تر منځ زړونه نزدی کیږی او بیا په زړونو کښی د یوه او بل په نسبت ددوستی او ورورګلوی احساسات زیادت کوی داخو معلومه ده چه افکار سرحد نه پیژنی یعنی په سرحدونو بند او وازنه دی په تیره بیا په هغو ولسونو کښی چه دمقابل احترام عمیق حس موجود وی ددوستی افکار ښه لاره پیدا کولی شی خو څه وخت چه ولسونه یو دبل په ژبی پوه وی په دوستی کښی ئی خوند او کیف هم ورننوځی او یو دبل په زړه کښی ځای او احترام پیدا کوی شاید دهمدی منظور دپاره وی چه زمونږ ولسی درنی ژبی پښتو ته په شوروی کښی په غتی او درنی سترګی کتل کیږی.

داحقیقت مونږ ته هغه وخت پوره څرګند شو چه له پښتو تولنی څخه یو هیئت د محترم خلیل الله خلیلی د اعلحضرت همایونی مطبوعاتی منشی دمحترم الفت صاحب دپښتو تولنی مشر ښاغلی محمد حسن ساپی ددی تولنی دادبیا تو څانګی مدیر اوزما په ګدون اتحاد شوروی ته وبلل شوو او هلته مو په علمی موسسو کښی دپښتو دزده کړی په غرض زیات شورویان او عمیق تحقیات ولیدل دشوروی ولسونو په باره کښی خوما په جلا دول یو څه لیکلی دی چه مجلی کښی به خپریږی برسیره پر هغه دلته یو څو خبری په دی باره کښی کوم چه پښتو او پښتون ولس ته په شوروی کښی څنګه کتل کیږی.

دتاشکند آسیائی او افریقائی لیکوالو له جرګی نه خو به دیر کسان خبروی. مګر دا به زیا تروته نه وی معلومه چه هلته دکتابو یوه ښوونه هم وه او په دی ښوونی کښی غړو هیواد وګډون کړی و او خپل ځینی مطبوع آثار ئی وراستولی وو.

پښتو تولنی هم دهیواد په نمایندګی پکښی ګدون کړی و او پښتو پاړسو کښی ئی ښایسته زیات کتابونه وراستولی وو د هغه میز دپاسه چه زمونږ کتابونه پری پراته وو دیر شورویان راغلل او په تیره بیا لیکوالو یی دیره علاقه ښوو له دوی

په افغانستان کښی د خپرونو ، کتابونو او مولفانو حال احوال پوښته دجریدو ، ورځپاڼو ، مجلو ، کتابخانو ، اونورو علمی موسسو نمایندگانو او همدار از نورو شورویانو د پښتو کتابونو په لیدلو زیاته خوښی کوله او ځینو ئی روسی ژبی ته دژپاړنی په غرض له مونږ څخه په دیره کلکه دکتابو غوښتنی هم کولی ددوی دزیاتی علاقی په ښوولو سره مونږ هم دنمایش له ختم نه وروسته څلور موسسو یعنی داز بکستان دساینس اکادمی ، دعلی شیر نوائی عامی کتابخانی ، دبین المللی ادبیاتو مجلی او د از بکستان ختیځ پیژندنی موسسی ته ځینی کتابونه وبښل.

دنمایش په یوی بلی کوته کښی موله نورو ژبو څخه په روسی کښی ترجمه شوی آثار ولیدل په دوی کښی یو شمیر پښتو کتابونه هم ووچه په روسی تاجکی ، قرغزی او ازبکی ژبو ترجمه شوی وو چه نومونه ئی دادی.

۱ـ حکایتونه او نظمونه (پخوانی او اوسنی)

۲ـ پښتو سندری (پخوانی او اوسنی)

۳ـ پښتو کیسی.

٤ـ غوره پښتو سندری د خوشال بابا ، رحمن بابا کاظم خان شیدا و نورو

٥ـ دافغانستان شاعران .

٦ـ پښتو گرامر چه پښتو ژغپوهنه او فعلونه پکښی څیړل شوی او مولفان ئی باقه خالد او عبدالحفیظ عنیف دی.

دشوروی هر اتحادی جمهوریت ځانله اکادمی هم لری دا اکادمی زیاتره دمربوط جمهوریت دخصوصیاتو په باره کښی علمی تحقیقات کوی د ازبکستان اکادمی دختیځ پیژندنی موسسه هم لری پدی موسسی کښی دپښتو دپاره یوه بیله څانگه شته چه له ښوونکو او څیړونکو نه برسیره اته تنه زده کوونکی هم لری داښاغلی دپښتو او پښتو ادب په زده کړی لگیا دی ستالین آباد د تاجکستان دجمهوریت نوی دیرش کلن ښار کښی لاتر اوسه د پښتو کومه څانگه نشته ، خو دهغه ښار دپوهنتون مشرو وبل چه په نوی درسی کال کښی به په پوهنتون کښی د پښتو دپاره یوه څانگه پرانیستله شی دمسکو د ختیځ پیژندنی موسسه خو په تول شوروی کښی دپښتو دپاره یو لوی مرکز دی په دی مرکز کښی (۱۵) تنه علمی کارگران یعنی متخصصین د پښتو دپاره کار کوی. ددی موسسی معین ښاغلی دوو ریانکوف نومیږی چه ښه روانه پښتو پوهیږی او برسیره په نثر لیکلو په پښتو کښی کله کله شعر هم وائی دده یوه شعری ترجمه په دی گڼی کښی ولولی.

ددی موسسی دپښتو نور کارگران دیر خندان او خوشاله ایسی او لکه څرنگه چه ئی له مونږ سره په مرکو او خبرو کښی ښکاره کړه دوی دیر خوښ دی چه دپښتون ولس ادب او کلچر څیړی او پښتو ئی زده کړی ده . ددی ښاغلو ، میرمنو او پیغلو نومونه دادی :

۱ـ ښاغلی اخراموویچ. دافغانستان د تاریخ په باب کښی متخصص :

۲ـ ښاغلی گوری ویچ ـ دافغانستان داقتصادیاتو په باب کښی متخصص :

له ښي خوا څخه ناست کسان

ښاغلي الفت ، خليلي ، دوريانکوف ، ساپي ، کاکړ او نور د شوروي پښتو پوهان



ښاغلی ساپی او کاکړ د ښاغلی دوریانکو سره

۳ – میرمن ارونووا - دمنځنیو پیریو تاریخ باندی لیکیاده .

٤ – بابه خوجه یوف دافغانستان دنولسمی اوشلمی پیری اوپه تیره بیا په افغانستان باندی دانګریز انو دتیریو په باب کښې متخصص

٥ – میرمن ګراسیمو وا دپښتو ادبیاتو متخصصه

٦ – ښاغلی ګیرس - دپښتو ادبیاتو متخصص

۷ – میرمن دوروفی یی وه دپارسو دادبیاتو متخصصه .

۸ - میرمن تاتیانا - دافغانستان دکولتور او پوهنی په باب کښې متخصصه .

۹ – میرمن افروز جفار ووا دافغانستان دکولتور په باب کښې متخصصه .

۱۰ – میرمن چرنی خوفسکیه دافغانستان داقتصاد یاتو په باب کښې متخصصه .

۱۱- ښاغلی داویدوف دافغانستان دجغرافیی او اقتصادیاتو په باب کښې متخصص .

۱۲ – اوپه پای کښې شاعر اوغوریالی دووریانکوف چه دپښتو ژبی او ادب متخصص دی ښاغلی اسلانوف اوښاغلی لبیدوف خو البته چه تول پښتانه لیکوال پیژنی ځکه چه دوی هغه محترم ښاغلی دی چه تر تولو دمخه یی په شوروی کښې پښتو زده کړی او دپښتو دپاره یی دیر زحمتونه ګاللی دی او دقدر وړ خدمتونه یی ګرانی پښتو ته کړی دی تر دی چه ښاغلی اسلانوف ددیر زحمت ایستلو له کبله اوس دیر ضعیف شوی هم دی دده پښتو - روسی قاموس خو په خاص دول دیاد ونی وړ دی چه مونږ پښتانه ورته په دیره درنه سترګه ګورو او دده دا خدمت به هیڅکله نه هیر وو په پای کښې پیغله لو دمیلا اوددی هغه ذوق او مینه چه له پښتو او پښتنو سره یی لری هم باید یاده کړو . دمسکو ختیځ پیژندنی موسسه په لینن ګراد کښې هم یوه بیله څانګه لری چه هلته هم پښتو متخصصین پکښې کارکوی. نومونه یی دادی :

ښاغلی رو مادین او ښاغلی ماسون دتاریخ متخصصان چه اوس دواړه دارکیالوجی آثارو له مخی دافغانستان په لرغونی تاریخ لیکلو لګیا دی اوښاغلی لیف شیتخ فلالوجست او نور پوهان چه اوس پښتو په تاریخی دوروکښې ګوری دامیرمنی اوښاغلی له پښتون ادب او کلچر سره وچ کلک علمی ارتباط نه لری بلکه برسیره په علمی ارتباط لرلو دوی له پښتو او پښتنو سره مینه او اخلاص هم لری دهمدغی مینی په اثر وچه شورویانو عموماً او دشوروی پښتو متخصصانو په خاص دول دپښتو تولنی هیئت دیر ښه و نمانځه داستا دالفت قدر او نمانځنه په دی چه دی دپښتون داکادمی مشروه دشوروی په هر ښار کښې په تیره بیا دپوهانو او لیکوالو له خوا زیاته کیده په تاشکند کښې دکنفرانس په فعالو شپو او ورځو کښې به اخباری نمایندګان دیرورته راتلل او دده نظریات به یی دشورویانو په باب کښې غوښتل .

له تاشکند څخه دمسکو په لارکښې دقازاقستان په یوه هوائی دګرکښې یوسو راوسپین ، غښتلی

ځوان پوه شو چه افغانی هیئت مسکوته روان دی او په دی دلی کښی ښاغلی الفت هم شته سمدستی یی له هغه ځایه څخه مسکوته تیلفون ورکړ او دوریانکوف یی خبر کړ چه افغانی هیئت مسکوته درروان دی په هغی بارانی شپی کښی کوم وخت چه مونږ د مسکو هوایی میدان ته کوز شوو. گورو چه د ووریانکوف زمونږ په خوا را درومی، وروسته بیا پوه شو چه دا ځوان الکزاندر خوراس نومیدو او دختیځ پیژندنی موسسی عکاس دی او بیا به ماورته ساشه ویلی. داسی معلومیده چه دشورویانو زړونه له مینی او خوښی نه دك دی او بیا دمینی نه په دکوزړونو له پښتو او پښتنو سره زیاته علاقه لری. دښاغلی داویدوف زموږ دترجمان خبری به هیڅکله زماهیری نه شی ده دپښتو دپاره یوه رساله په روسی لیکلی ده، په دی رسالی کښی ده په یوه بل روسی متخصص چه ړومبی دده دپښتو استاد هم و. انتقاد کړی و، څه وخت چه یی خپله رساله ماته دیادگار په دول بښله ماورته وویل چه تا پخپل استاد انتقاد کړیدی، ده په زغرده وویل چه هو او دا ځکه چه «رښتیا ترتولو مهمه ده او په تیره بیا په علمی تحقیقاتو کښی» بیائی وویل چه «دپښتو ملغلری او فوکلور باید وساتل شی او زه څوك نه ورپریږدم چه لاس پکښی ووهی او په سپکه سترگه ورته وگوری» په یوه بل صحبت کښی یی ښکاره کړه چه «پښتو ولسی ژبه ده نو ځکه مونږ ورته په درنه سترگه گورو» په دی دول مونږ ته په یو میاشتی سفر کښی را معلومه شوه چه شورویان دپښتو قدرلری او خوښ دی چه نور هم دا دوه ولسونه سره نزدی شی او زیات تگ او راتگ سره وکړی مونږ هم ددی آرزومند یو چه ددوستی دغه ښه روابط نور هم پسی تینگ شی او دواړه ولسونه دمتقابلی همکاری او متقابل احترام او اخلاق په اساس لا پسی صمیمی او خوازه شی داسی معلومیږی چه پښتو دپاره وروسته له افغانستان او پښتونستان څخه اتحاد شوروی دریم هیواد دی چه دفعالو ځوانانو پیغلو او متخصصینو له خوایی دپالنی روزنی او علمی کولو دپاره کوشش روان دی.

محمد حسن کاکړ

لیکوونکو : ج، ب

ترجمه کوونکی : ښاغلی محمد رحیم الهام.

# تطبیقی ادب

-۲-

## موضوعات ، قسمونه ، کیسی

### (الف)

### موضوعات

دموضوعاتو داصل او دهغو د اوښتنو څیړنه دنړی په بیلو بیلو ادبی آثارو کښې ظاهراً دیره آسانه او سطحی ښکاریږی په همدی علت دنړی دیرو څیړونکو دیوی موضوع او دهغو اغیزو په باب کښې چه دتولنو پر ادبیاتو باندی یی کړی دی دیر شیان لیکلی دی مګر ددوی دغه کارکوم علمی ارزښت نه لری دموضوعاتو دښې پیژندنی دپاره، باید دلیکوالو فکر او هنر ته پاملرنه وشی څکه چه دموضوع فکری او هنری جنبه، نظرو مواد وته زیات قیمت لری، او په دی خبره څان پوهول چه بیلو بیلو لیکوالو پلانکی کیسه دخپل هنر داصلی مضمون په عنوان غوره کړی ده. یا هغه مضمون ئی په بل صورت اړولی دی کومه مهمه نتیجه او فائده نه لری. بلکه دپاملرنی وړ موضوع اوخبره داده چه دهغو اوښتنو او تحولاتو اصلی علتونه ترکتنی لاندی ونیسی او ودی څیړی چه ولی کله سره ورته او دیر آشنا فکرونه او هیلی دمختلفو او بیلو کسو دلیکلو دپاره غوره کیږی او یا بالعکس نا آشنا او له یو بل څخه لیری او جلا فکرونه او آرزوګانی دیوی مشترکی کیسی دابداع دپاره تاکلی کیږی.

دنوی انسان هغه حیرانتیاوی چه دطبیعت او تقدیر په مقابل کښې ورته پیدا کیږی د «فاوست (۱) په غلبلو سره دده د کارکوته کښې د «ینیفرد» (۲) په ځوایونو کښې دآلسپ دغرونو په تیروځوکو کښې، او یا دعیسی (ع) په مناجاتونو کښې دوګنر (۳) په مشهوری، قطعی کښې بیانیږی.

دیر داسی پیښې شوی دی چه دیوی عامیانه موضوع اوښتنی او هغه راز راز شکلونه او بڼې او څیری چه یوه شخصیت څانته غوره کړی دی ترکتنی لاندی نیولی شوی دی او هغه اغیزی او تأثیرونه چه مختلفو لیکوالو یو پر بل باندی کړی دی، پریښودل شویدی.

حال دادی چه باید دلیکوالو دموضوع دفکری خپلواکی او ددغه خپلواکی دهغی درجی او اندازی په باب چه نظر و داخلی او خارجی زړو او پخوانیو لیکوالو ته بی لری، او همدغه راز

---

(۱) فاوست دآلمان دنامتو لیکوال «ګویتی» اثر دی.

(۲) *Meneperd* دپاپرون اثر.

(۳) دوینی *Montdesoliviers* اثر د(*Vigny*) په نامه:

دهر لیکوال دنبوغ ، هنر او ارماندونو او هـ یلو دسهم او بر خی په باب چه پخپل خاص طرز او سبک یی ورسره اصلی فکر بیان کړی دی څیړنه وشی .

مثلا که څوك په اسپانیی او فرانسی کښی د« سید (۱) دذرامی داختلافاتو دپیدا کولو دپاره دگیون دوگاسترو (۲) او « کرنی » د آثارو داختلافونو عوامل او اسباب وڅیړی او ددغو دوولیکوالو دفکر او بینش بیلوالی او جلا خصوصیتونه وښیء او هغه تغییرات چه « کرنی » دخپلی زمانی دغوښتنو له امله په دغه تراژیدی کښی ښوولی دی. پیدا کړی ، په تطبیقی ادب کښی بـه یوه گتوره څیړنه وی .

ځینی پوهان عقیده څرگندوی چه دعامیانه موضوعاتو ، اولسی اوکلیوالی سندرو او متلونو او اعتقادونو څیړنه دی دتطبیقی ادب له موضوعاتو څخه بهر وگڼله شی ، ځکه چه دا کار دفولکلور وظیفه ده او داده بیاتو په تاریخ پوری اړه نلری.

مگر بایدو پوهیږو چه دار از موضوعات ترهغی اندازی پوری په تطبیقی ادبیاتو کښی شاملیږی چه دادبی آثارو په تخلیق او ایجاد کښی برخه اواغیزه ولری ، ځکه چه ددغه راز څیړنو په سیوری کښی داحقیقت چه څرنگه یو لیکوال کومه لیکوالی کیسه یاسندره اخیستی او بی له دی یی چه لاس پکښی ووهی او بڼه یی واړوی پخپل اثر کښی رانقل کړی ده او یا دخپل روح اونبوغ څخه هم څه خونداو تأثیر ورسره یو ځای کړی دی څرگندیږی او کله چه ددغه اقتباس شکل او تازگی له نزدی څخه په یوی کیسی کښی وگورونو شاعر او دشاعر هنر لاښه پیژندلای شو برسیره پردی دا کاز دلیکوال یادشاعر دعمومی اطلاعاتو او معلوماتو او دده دذوق او هیلو په پیژندلو کښی مرسته کوی او نهائی هدف ته موچه « جهانی ادبیات » دی نزدی کوی.

کښتنی مثال وگوری ء:

دافغانستان په گردو فارسی زبانو ښارونو او کلیو کښی افغانی ماشومان دا سندره په خوراخوند او ذوق سره وائی :

پدرك مرا کشته
مایندرك مرا خورده

جان خوارك «۱» دلسوختیم (۲) هد کای (۳)

مرا چینده بشاخ درخت بسته
من بلبل سر بسته (یاسر گشته)

ددی سندری کیسه داده « چه دیو خسبه ښځه مری او ورڅخه یولور او یو زوی پاتی کیږی خسبه بل واده کوی مگر نوی ناوی میړه غولوی او دده زوی ورباندی وژنی دخسبه لور ، دورور هډوکی په یوه خلته کښی اچوی او دیوی ونی په څانگه کښی یی ځړوی هډوکی دیوی ښکلی بلبلی په

(۱) Cid

(۲) Gnillendecasrro

(۱) خوارك دفارسی دخواهر (خور) کلمه ده چه په عامیانه شکل تصغیر د (ك) ورسره زیات شوی دی .

(۲) دلسوختیم = فارسی دلسوخته ام) .

(۳) هد کای = هدکهای ـ هد (هد + ك تصغیر ها دجمعی علامه ) په پښتو کښی « هدو کی » .

بنه بدلیږی اوکله چه دباغونو کورونو اوکلیو په شاوخوا کښی الوزی دغه سندره وایی :

«پدرك مرا کشته .....» دپارس په هیواد کښی هم، همدغه سندره په دی شکل د ماشومانو له خولو څخه اوریدل کیږی :

منم منم بلبل سر گشته
از کوه و کمر بر گشته
پدر نامرد مرا کشته
مادر نابکار مرا خورده
خواهر دلسوز
استخوانهای مرا باهفت گلاب شسته
زیر درخت گل چال کرده منم شدم بلبل
پر... پر... پر...! (۱)

دتعجب اوحیرانی ځای دی چه همدغه سندره د«گویته» پرژبه د «فاوست» په ډرامه کښی جاری شوی ده او که لږ څه څیر شونو به عین همدغه سندره په آلمانی، آیرلیندی، فرانسوی او انگلیسی ژبو کښی پیدا کړو او که پخپلو څیړنو او کتنو کښی لاپسی څیر شو دیونان هغه مذهبی کیسه به مورا په یاده شی چه وایی «کله چه دزیوس لور غوښته چه نایوبی ماشومان مړه کړی، دامفیون ښځی په غلطه خپله لور ووژله او بیا وروسته له خپل دی کار څخه پښیمانه شوه او ارباب انواعو دغه نجلیء دبلبلی په بڼه واړوله.»

ددغی سندری څیړنه دبیلو بیلو تولنو او ولسونو په ادب او فولکلور کښی او د هغوا وښتنو پلتل او لتول چه د هر هیواد خلکو اولیکوالو د خپلو آدابو، افکارو او عنعنو له اصولو سره سم پکښی راوستلی دی د تطبیقی ادب له مهمو او غوره موضوعاتو څخه شمیرل کیږی. همدا رنگه دگویته دآثارو او دده د هغو مأخذونو له بابته چه یی استفاده ورڅخه کړی ده دا کار خورا زیات ارزښت لری.

دمضامینو په پیژندنی کښی د کیسو او متلونو موضوع زیاتره دفولکورسره تړلی ده د کیسو او متلونو ریښی دپیړیو او عصرونو په مهمو او تیارو گوتونو کښی د خلکو له سترگو څخه لری او پټی پرتی دی او له یوی تولنی څخه ئی بلی ته دتگ او تحول سیرنه دی څرگند لکه :

دهغه سړی کیسه چه خپل تیوری ور څخه ورك شوی و، دهغی گوتی کیسه چه څښتن یی دخلکو له سترگو څخه پټیږی، دپلار او زوی په منځ کښی نښته او جگړه دناشناسی په حال کښی (مثلاً دفردوسی دشاهنامی درستم او سهراب کیسه) هغه بزگر چه دیو شاهزاده په پلاز کښی له خوبه څخه راباڅیږی، هغه نجلیء چه د خپل پلار له قاتل سره واده کوی (دسیدا وکرنی شعرونه)، دهغه شهزاده دژوند پیښی چه له یوی داسی نجلیء پسی لاله هانده او سرگردانه گرزی چه په خیال کښی ور باندی مین شوی دی، دهغه میړه بیرته راتگ چه تولو ئی دمرگ گمان کاوه او ښځی یی بل میړه کړی و، هغه شومه او بدمرغه گوته چه خپل خاوند بدمرغه کوی او... دار از تولی کیسی دهغو موضوعاتو له جملی څخه دی چه هری یوی ئی دبیلو بیلو تولنو پر دیرو لیکوالو باندی اغیزه کړی ده.

(۱) د مرحوم صادق هدایت یاد داشتونه د«سخن» دمجلی دریمه دوره ۶–۷ گڼی

په‌وار، وارهغه ځای او سیمه چه شاعر، دراماتست یار ومان لیکونکی دخپلو آثارو او کیسو اتلانو ته پکښې ځای ورکړی دی ځیرل شویدی. دغه ځایونه او سیمې هریو ځانته تاریخچه او دژوند پیښه لری لکه ونیز، روم، یونان، کوهستان، رود، بیابان، دوزخ او داسی نور.

په‌تطبیقی ادب کښې دځینو گلا نوا و بوتو لکه سورگل، زنبق، یخگل، او ځینو حیواناتو لکه پشکه، سپی، وحشی غویی، خاچونی (بلبل) او دشاتو مچیء په باب کښې هم ځیرنی کولای شو مثلاً دخاچونی په‌باب کښې دهغو اشعارو ځخه‌چه ددی مستی سندرغاړی له آوازه یی الهام اخستی وی او دراز راز احساساتو له تحولاتو ځخه چه ددی دسندرو له اوریدو ځخه مختلفو شاعرانو ته ورپیښ شوی وی غږیدای شو.

## ب قسمونه :

هغه قسمونه چه‌په ادبیاتو کښې یی مونږ په دوو لویو برخو ویشلای شو :

بشری عمومی قسمونه :

خیالی او افسانه یی قسمونه د لومړیء برخی په باب کښې ځیرونکی هڅه کوی چه د مختلفو لیکوالو دځینو اجتماعی طبقاتو داحوالو او اوضاعو دنقاشی کولو له‌بریالیتوب ځخه‌بی لدی چه‌شخصی احساسات او تمایلات ورسره گډ کړی ځان خبر کړی پدی ډول دافغانی، فرانسوی، یهودی او حبشی ملی او نژادی خصوصیات، او معلم - ملا کشیش، طبیب دواخرځوونکی عسکر دد ولت دمامور او د بزگر تیپونه او قسمونه، او د زړی نجلیء اوباس او نورسړی اجتماعی یا اخلاقی موقعیتونه، او درانده قمارباز ممساك(۱)، قاتل او اخلاقی عیبونه او کمزوری ترکتنی او ځیرنی لاندی ونیسی.

په‌دوهمه برخه کښې خیالی او افسانه یی تیپونه شامل دی ددغو تیپونو یوه برخه دزړوا ولرغونو کیسو ځخه رارسیدلی دی او یوه بله برخه ئی دوگړو دتخیلاتو مخلوق دی - دا دوهم قسم ئی هم پخپل وار په درو بیلو بیلو قسمونو ویشل کیدای شی :

۱ـ هغه شخصیتونه چه د مذهبی آثارو له لاری ځخه ادبیاتو ته راغلی او د لیکوالو په لاسو کښې ئی بنې اوښتی دی. لکه: قابیل، یوسف (ع) او داسی نور،

۲ـ افسانه‌ئی شخصیتونه :

چه په‌اروپا کښې زیاتره یونانی ریښې لری او در وم او یونان له‌میتولوژی ځخه اخیستل شویدی، لکه : ایفی ژنی. پرومته زوپیتر او نور.

۳ـ هغه شخصیتونه چه له ملی تواریخو او ولسی کیسو ځخه زیږیدلی وی. لکه : رستم، رابیا، داکتر فوستوس او نور.

(۱) مثلاً دممسک او سخت سړی دتیپ په باب کښې دبالزاك دآثارو د«گرانده» شخصیت او دمویر دآثارو د«هاریاگون» تیپ سره پرتله کول او په اختلافاتو کښې ئی کتنه او دغو اختلافاتو د علتونو ځیرل دیره په زړه پوری موضوع ده.

له دغو تخیلی او شاعرانه نمونو سره یو څو تاریخی شخصیتونه هم زیا تولای شو. له دیرو پخوازمانو څخه اسکندر کلیوپاترا او... غوندی اشخاص هم په ادبیاتو کښی شامل شوی دی (هغو اسکندرنامو ته دی مراجعه وشی چه په پارسو لیکل شوی دی) منځنی پیریو هم لیکوالو ته یو زیات شمیر تاریخی شخصیتونه ایجاد کړی دی چه له څه تغییر او بدلون سره د مهمو آثارو دموضوعاتو په حیث غوره شوی دی، لکه د گردیز شوالیه گان شارلمانی او دده نمسی رولاند، ژاندارك ماری استوارت او نور.

(ج)

کیسی

دتطبیقی ادب څیړونکو ته دپاملرنی دیره وړ موضوع پر کیسو او د کیسو پر قهرمانانو او تلانو باندی څیړنه اوکتنه ده. ځینو څیړونکو دهغو او ښتونو په باب کښی چه کیسو ته دلیکوالو له خوا پیښ شوی دی څیړنی مونږ ته اجازه راکوی چه دلیکوالو داخلاقی او هنری خصلتونو او خویونو څخه سربیره دبیلو بیلو تولنو ولسونو ذوقی تحولاتو او ښتنو او دهغو وگړو له هیلو او ارمانونو څخه چه دغه آثار ورته لیکل شوی دی خبر شو. داچه دیوی ښکلی کیسی دتاریخی تگ لاره او مسیر دزمانی له تیریدو سره تعقیب او دهغی دشکلونو او ښتنی ښکاره کړو او ځان پدی وپوهوو چه مختلفو لیکوالو دغه کیسه په څه راز د کمال درجی ته رسولی ده او دخپلو خویونو او خیالونه په قالب کښی ئی دخپل فکر او ذوق په گاڼه ښایسته کړی ده او هغه لومړنی او اصلی سندری ته ئی وروورو دیوستر او زړه وړونکی هارمونو شکل او کیفیت وربښلی دی، څو مره به خوند وره وی!

زیاتره هغه کیسی چه څیړلی شوی دی له تورات یا زړو مقدسو کتابونو څخه اخستلی شوی دی. په دی مورد کښی دقابیل دکیسی نظمونه چه داصلی قهرمان له عنوانه سره سم د «لمړنی قاتل» نوم ورکړ شوی دی دیره په زړه پوری ده حتی چه په نولسمی پیړی کښی له قابل څخه په ځینو منظومو کښی دځښتن په مقابل کښی دقیام دسمبول په حیث کار اخیستل شوی دی. «قابیل» د «بایرون» اثر، «قابیل د «له کنت دولیل (۱)» اثر او «قابیل» د «هوگو» اثر له هغو منظومو څخه گڼل کیږی چه له دغه تریخ او انقلابی قیام څخه خبری کوی.

دکسو هغه بله برخه چه ادبیاتو ته ورننوتی ده دیرنان له میتولرژی څخه اخستله شوی ده. د «پرومته» او دیپ او ایفی ژنی او انتی گون غوندی کیسی تر اژیدی لیکوالو ته دالهامونو سبب شوی دی. ددغو کیسو یوزیات شمیر ددیروستر و ویونکو خیال له هومر څخه نیولی بیاتر او سنیو شاعرانو ځانته کش کړیدی. د روپا - حتی دد نیا په نوی ادب کښی دغه یونانی کیسی لویه برخه لری او د «ورقه» آنتی گون او دغه راز نورونو مونو سره دیر غوږ و نه آشنادی په تیره بیا «ژان ژیرودو» ژان پل سارتر. ژان انوی او نورو لیکوالو

(۱) *Le Contede Lisle*

ددغو کیسو نوی صورتو نه پخپلو آثارو کښی کښلی دی. ددغو افسانه ئی شخصیتونو په لړ کښی «پرومته» ترتولو جلبوونکی دی. دا «داورغل» او دا دبشریت دنړی مین چه دزئوس (دخدایانو خدای) قهرئی پرځان پارولی دی د گویته او شیلی او په پای کښی دآندره ژید په آثارو کښی دیوه سمبول په بڼه ځان راښیی او دشیطان او قابیل په څیرد «فکر عصیان» څرگندوی. لدی څیړنی څخه داسی ښکاریږی چه همهغه د «عصیان او قیام» اصلی سمبول دشیطان قابیل- پرومته ددرو مختلفو نومونو په قالب کښی ځان ښیی.

## سلامان او ابسال:

بایدداغلط خیال له ځانه لری کړو چه دار از کیسی یوازی دار وپادځو هیوادونو پرادب باندی اغیزی کړیدی بلکه باید داخبره ومنو چه دار وپا دتوی ادب له لاری څخه ئی په توله نړی کښی پدل غورځولی دی او دمختلفو لیکوالو له خوائی هر کلی شوی دی، داخبره هم دویلو وړ ده چه دغه راز اغیزی یوه پخوانی او زړه سابقه لری چه په تطبیقی ادب کښی ئی دژورو څیړنو په رڼا کښی ښودلای شو او له دی لاری څخه دنړی دهیوادونو دلیکوالو د آثارو او ادبی تاریخونو په څیړلو کښی مرسته کولای شو. دمثال په قوگه وایو چه دجامی هروی پر «سلامان او ابسال» باندی یوه کتنه له دغی کیسی منبع او مأخذ چه دیونامیتولوژی ده څرگندوی.

ددی کیسی لنډیز دادی:

«ابسال سره له دی چه تر خپل پی رودونکی زوی (سلامان) څخه شل کاله لویه ده پرده باندی مینه کیږی او په کودوئی تیر باسی. دا کار دپادشاه او دیوه حکیم سړی په نظر ناوړه ښکاریږی. حکیم دکهربایی قوی په وسیله (سلامان) دی ته مجبوروی چه په هغه مځکنی جنت کښی چه دزلمی ابسال سره پکښی تښتیدلی وه دسون دمواد ویوه لویه دیری غونډه کړی مین او مینه دواړه ځانونه داورلمبوته اچوی په پای کښی ابسال په سپیرو ایرو بدلیږی، مگر سلامان روغ رمت او په داسی حال کښی چه له تولو جسمانی او شهوانی هوسونو څخه پاك شوی وی دباندی راوزی.»

دکیسی قهرمان دیونان پادشاه، یو حکیم سړی سلامان دپاچا زوی ابسال دسلامان دایه او زهره (ونوس) دآسمانی ښکلا مجسمه، ده.

له هغو څیړنو څخه چه دتطبیقی ادب څیړونکو کړی دی څرگندیږی چه جامی صاحب دغه کیسه له هغو دوو بیاناتو څخه اخیستی ده چه امام فخرالدین رازی او خواجه نصرالدین طوسی دبلخی بوعلی سینا پراشاراتو باندی کښلی دی او اصلی یی له یونانی څخه په عربی ترجمه شوی دی (۱). ددغی کیسی دیونانی متن پرتله او تطبیق دجامی له منابعو سره او بیاوروسته دهغو مقایسه دسلامان او ابسال له کیسی سره

(۱) ادوارد برون پارس دادبیاتو تاریخ.

دتطبیقی ادب لهغوروڅیړنو څخهشمیرل کیږی او دجامی دعمومی خبرتیا او آفاقی معلوماتو څخه موخبروی او دیوناتی ادبی نفوذ دفارسی ژبی پرادب باندی، را څرگندوی.

° ° °

کله کله ځینی کیسی او هغه افسانه یی شخصیتونه او قهرمانان چه پورته مویاد کړل ځانته یو سمبولیک صفت غوره کوی:-

## تریستان او ایزولیت

لکه دتریستان او ایزولیت کیسه چه دمنځنیو پیړیو یوه ښکلی افسانه ده تریستان یو ښکلی حساس او پاك زلمی دی چه وروسته دخپلو خپلوانوله مرگ څخه د خپل تره په کور کښی دانگلستان دیوی سیمی تولواك دی.

لوی شوی دی. تریستان ماموریږی چه دتولواکمنی ایزولیت دخپل تر بره دنوی ناوی - سره آیرلیند تهروانشی. آیرلیند څخه دراگرزیدو په لاره کښی تریستان او ایزولیت اشتباها دعشق داکسیر شراب څښی او یو پربل زړه بایلی، او دتولواك له بیری څخه په یوه ځنگله کښی سره پتیږی خود تولواك استازی تریستان وژنی او ایزولیت هغه وخت رسیږی چه دتریستان ساه ختلی وی.

داکیسه چه ښایی دشیرینو او موءمن خان او موءژولیت، لیلی مجنون او ویس ورامین سره یی پرتله کړای شو د څو پیړیو په موده کښی دشاعرانو او سندرغاړو دپاره دالهام دمنبع په توگه کتله شوی او په راز راز قالبونو کښی ننوتلی ده او دداسی مینو دسمبول بڼه یی غوره کړی ده چه له اسرارو څخه یو دك سرنوشت یی سره نزدی کوی؟ مگر له عشق او مینی څخه بی له ربړ او ناکامی څخه بل شی نه پیژنی.

ترڅو چه په یوه غمجنه او دردناکه شیبه کښی له مینی اوژوند دواړو څخه سترگی پتوی.

دتولو هغو کیسو له جملی څخه چه دخپلو سمبولیکو اړخونو سره یی دنړی ادبیات تراغیزی لاندی نیولی دی د«فاوست» او «دون ژوان» دوو کیسو زیاتره دڅیړونکو نظر ورجلب کړی دی.

فاوست: دفاوست کیسه له (۱۸٤٤) کال څخه راپدیخوا دڅیړنی موضوع ده، او له هغی مودی څخه تر اوسه پوری هم داموضوع نوی ده او زړه شوی نه ده دڅیړنو اصلی زړه ئی دادی چه «داکتر فوستوس» چه یو نامتو کودگر، چالاکه او کیمیاگر سړی و او په شپاړسمه پیړی کښی ئی د «ساکس» په سیمی کښی هستوگنه کوله، څرنگه چه لومړی وار دمداریانو خوښ شوی او وروسته یی بیا خپل روح ددی دپاره چه پرپتو اسرار وخبرشی پرشیطان باندی خرڅ کړی دی، او په کوم صورت دکریستوفی مسارلو، گویته، گراب، لنو او په پای کښی دتوماس مان غوندی لیکوالو دشاهکارونو دقهرمان موقف یی غوره کړی او ددغو لیکوالو له خوا تکرار شوی دی.

دون ژوان : ددون ژوان کیسه د۱۸۸۷ کال څخه دیو لړ څیړنو د موضوع حیثیت غوره کړی دی ددعو څیړنو څخه مقصد دادی چه څرنګه داسپانیی د« سیویل » دښار دیو اشرافی سړی ژوند پیښه چه یو بیحیا او بداخلاقه سړی دی او حتی له موجودیت څخه یی هم انکار شوی دی د« اسپانیول » د کومیدی له لاری څخه « مولیر » ته رسیدلی او وروسته بیا پر ( الګساندر دوما ) او نور وباندی یی په هماغه نوم یا نور و نومونو اغیزه کړی ده ، او په تیره بیا په وروستی پیړی کښی د برنارد شاو او نور و سترو لیکوالو په واسطه په نویو بڼو څرګند شوی دی؟

مګر څیړونکی لره نه ښایی چه یوازی دهغو کتابو نو د فهرست په ښولو قناعت وکړی چه د« دون ژوان » په نامه لیکل شوی بلکه ښایی چه دنړی په ادبیاتو کښی پلټنه وکړی او هغه قهرمانان چه ددون ژوان خاص صفتونه او برجسته ساوك ولری وغواړی هلته به بیا ورته ثابته شی چه دون ژوان دغه عیاش او بیغمه مین دیوی محال او نه پیدا کیدونکی هیلی پسی لیوا له او لالهانده ګرزی او دلیکوالو شاعرانو ، او نندار لیکوالو یوه لویه دله یی راساً او په غیر مستقیم دول تراغیزی لاندی راوستلی ده.

## فکرونه او احساسونه

دولسونو او قومونو ادبیات نه یوازی دملتونو او شکلونو په لحاظ یو پر بل باندی اغیزی کوی ، بلکه دفکر طرز او داحساس څرنګوالی هم داغیزو له بابته پوره اهمیت او غوره برخه لری. دادول فکرونه او احساسونه چه دپر دیو لیکوالو تراغیزی لاندی او ددوی په لاسو پر اختیا مومی او ادبی شکلونه غوره کوی یوه داسی موضوع ده چه باید زیاته پاملرنه ورته وشی او په تطبیقی ادب کښی تر دی نه بل هسی ګران او سخت بحث نشو موندلای څکه هغه شی چه دملتونو ادب ته رښیانی یو والی ورپه برخه کوی او دیوه ملت ځینی لیکوالان دپر دیو لیکو لانو سره په یوه عجیبه بڼه آشنا کوی ددوی دتفکر دطرز له هغه شباهت او ورته والی څخه عبارت دی چه ددوی عقیدی دنړی انسان او ددوی عقیدی دهغو په باب کښی ښئی او ورسره ددوی هغه احساسات چه دښکلا ، طبیعت او مرینی په بابت کښی یی لری څرګندوی ،

په دی مرحله کښی ، مونږ داد بیا توهغی رښتیانی سیمی ته ګام وراخلو کوم چه هلته انسانی ارواح یو بل سره نزدی او سره نغښتلی اړیکی لری او دلیکوالی فن او عبارتونه پکښی یوازی دفکرونو دبیانولو آلات او وسیلی شمیرلی کیږی مګر خبره دلته ده چه له بده مرغه په دی موضوع کښی تر اوسه پوری هسی چه ښائسی کرمه صحیحه او مفصله څیړنه نه ده شوی ، او که چیری ددو لیکوالو دفکری اړیکو په باب کښی ځینو څیړنو او تحقیقاتو سره مخامخ شو ګورو چه ددوی د همفکری او مقابله اغیزو اړیکی پکښی په وضاحت سره سپړل شوی نه وی. نو په دی

وجه دلر از سطحی تحقیقات ناقص او مبهم ښکاری. که کله دنړی ادبی اثرونه په څیر او دقت سره ولتوونو به ګوروچه یو لیکوال خپل زیاتره فکرونه ددیرو پردیو لیکوالو او خارجی منابعو څخه رااخستی، او یاداچه یوه تاکلی مفکوره دمختلفو لیکوالو په اثرونو کښې بیان شوی وی. مونږ باید پدی موقع کښې له هغو افکارو څخه چه پر مختلفو لیکوالو باندی یی اغیزی کړیدی خبری وکړو او له هغو فکرونو او احساساتو څخه چه ادبیات یی داظهار ولو او څرګند ولو وسیله ده وغږیږو نو ځکه دلته لومړی مذهبی، فلسفی، اخلاقی او داسی نور افکار چه له ادبیاتو سره مستقیمه رابطه لری لکه دښکلا د پوهنی دڅیړنو لاری څیړو، او په پای کښې داحساساتو په بابت کښې ځینی اساسی تکی راسپړو.

## مذهبی او فلسفی فکرونه :

داد بیاتو او فلسفی دتاریخ دسیمو او موضوعاتو بیلول ګران شانته، کاردی او که څه هم هر یو ځانته بیل او جلا موضوعات لری خو بیاهم کله کله داسی حقایق مومخی ته راځی چه ادبیات او فلسفه، دواړه پکښې مشترکی او کډی برخی لری. دیوه ملت دفکر په تاریخ کښې داسی موضوعات او کتابونه موجودوی چه که څه هم په لومړی مرحله کښې نه دفلسفی له تاریخ سره ربط پیدا کوی او نه دمذاهبو او اجتماعی تقالیدو سره څه اړیکی لری خو په حقیقت کښې له دغو تولو موضوعاتو سره ارتباط لری. ددغه راز موضوعاتو تعلق له ادبیاتو سره له دی څخه ثابتیږی چه دلفظی تظاهراتو او دبیان دادبی دولونو په وسیله خپریږی او پرخلکو باندی اغیزه کوی چه پرلویدیځی نړی کښې دویلتر، روسو او مونتیسکو او نورو داسی لیکوالو آثار دد غه راز موضوعاتو په لړکښې دیادونی وړ دی.

ځینو لیکوالو په خپلو آثارو کښې له مذهبی عقایدو او دینی فکرونو څخه دفاع کړیده او دهغوی دخپریدنی او رواج دپاره یی هڅی او کوښښونه کړی دی لکه په فرانسی کښې کالون، پاسکال بوسوئه، فنلون او شاتوبریان چه دا آثار زیاتره له فرانسی څخه دباندی هم خپاره شوی دی. پدی لړکښې دفنلون تاثیر پر عارفانو او دویلتر دا پرالهیونو باندی دڅیړلو وړ موضوعات دی. دفلسفی دفکرونو یوه غوره برخه داد بیاتو له تاریخ سره هیڅ کوم تعلق نلری او که څه هم دا زفکرونه له یوه هیواد څخه ونور وملکوته انتقال مومی خو داانتقال په یوه خاص او محدود محیط کښې کیږی، ځکه چه دفلسفی فکرونو خوښوونکی او غوښتونکی هغه محدود متفکران دی چه ددوی دفکر رقم دعوامو له افکارو سره سرنه خوری او دلیکنو شکلونه او بنې یی دادب له نظر څخه دفزیک یاجیالوجی دیوی وړی رسالی څخه څه زیات ارزښت او اهمیت نلری دفیلسوفانو له دلی څخه، یوازی څوکسه لکه شوپنهاور برګسون او نیچه بریالی شوی دی چه دلیکوالی دخاصو دولونو په مرسته خپلو اعتقادنو

او فکرونو ته پر اختیا او عمومیت ورکړی.
پدی توگه، څوك چه په تطبیقی ادب کښی څیړنه
کوی مگر پخپله دفلسفی مورخ نه وی داراز
اغیزی داهمیت په دوهمی درجی کښی شاملی
بولی او فلسفی فکرونه یوازی لدی بابته مطالعه
کوی چه کله کله داجتماعی فکرونو او د ادبی
آثارو دتخلیق دمبدأ او منبع حیثیت لری نو ځکه
دکارت دده دمذهب «کارتیزین» په سبب
او سپینو زادده دوحدت الوجودی فکر
داهمیت له کبله اولایب نیتزدده دخاصو نظریو
او خوشبینی په وجه چه ورڅخه نورودیرو
زبده ولیکوالو (لکه ویلتر دکاندید په کتاب
کښی) الهامونه اخیستی دی وڅیړل شی. په دی
لړ کښی د گویته، ویلتر، روسو او شیلر دفلسفی
آثارو دخارجی منابعو په باب کښی مفصلی کتنی
او څیړنی شودی.

اخلاقی فکرونه: له اخلاقی فکرونو څخه
مراد هغه فکرونه دی چه سم له اخلاقی اصولو
سره دانسان دخوی او طبعیت او سرنوشت
په باب کښی بحث اودده پر اعمالو او کارونو
باندی قضاوت کوی او دژوندانه سمی لیاری
ورښئیی نظر و فلسفی فکرونو ته اخلاقی فکرونه
خپلی اړیکی تر زیاتی اندازی پوری له ادبیاتو سره
ساتلی شی. داخلاقی فکرونو ادراك په آسانه سره
کیږی صرف پدی چه ځانته څرگند او ښکاره
هدف لری. ددغه راز فکرونو دهدف په تعیینولو
کښی صرف په دی اکتفانه کیږی چه دمباحثو مبهم
او غیر واضح موضوعات دمتخصصانو دپاره
پیداشی بلکه هڅه کیږی چه دژوند معما حل
او دژوندانه راتلونکی لیاره وښوولهشی ترڅو
چه بشر پر دغو فکرونو باندی خپل امیدونه
او ناامیدی بنا کاندی. په همغه اندازه چه په اوسنیو
پیړیو کښی دافرادو فکری استقلال تثبیت شوی
او په همغه نسبت چه اخلاقی مترقی فکرونو دیرو
خلکو ته داسی لیاری او فرصتونه برابر کړی دی
چه ددین او مذهبی فکرونو څخه په خارجو سیمو
کښی نسبتاسم او دمنلو وړ فکرونه منځ ته راوباسی
اخلاقی فکرونو هم په ادبیاتو کښی ځانته پوره
اهمیت او موقع پیدا کړی ده.

دمختلفو قامونو اخلاقی متقابلی اغیزی په دی
مورد کښی ښی څرگندی دی خو څیړنی یی
زیاتره دافکارو په عمومی تاریخ پوری اړه لری
مثلا کله چه ددغو فکرونو تر تاثیر اتو لاندی دمیلمه
پالنی عادات یا دانتقام اخیستل (هاملت دستکسپیر
او آندرکانلی دپول پورژه اثرونه) او دوجدان
متابعت بیانیږی دادبی آثار و مستقیمی اغیزی
په ندرت سره پکښی لیدلی کیږی، په داسی مواردو
کښی دتطبیقی ادبیاتو دڅیړونکی کار یوازی
دفکرونو دتحولاتو پر څیړنو باندی منحصر
کیږی.

کله چه هاملت دبلی دنیا په باب کښی په بی
اطمینانی سره بحث او دهغی ویری نه چه بد مرغه
خلك له خودکشی څخه منع کوی غږیږی،
او کله چه دهیلویز په ناول کښی میلور دوارسن فرو

انتحا رته نه پریږدی او هغه وخت چه داکتر فاوست له پوهی او ژوندانه څخه ستړی او نا امیده دزهر وکاسه دڅښلو دپار په لاس کښی نیسی او داختر د ناقوسونو د غږ په اوریدلو دژوندانه یوه خوږه مینه احساسوی دتطبیقی ادب څیړونکی ته دمقایسی او پرتلی یوه عجیبه اوسره تړلی موضوع وروړاندی کوی.

فلسفی او اخلاقی شعرونه کولی شی چه دکوم شاعر عقیدی داخلاقی مسألو په باب کښی په مستقیمه توگه بیان کړی، مگر ښایی چه داهم وپلتله شی چه آیا دغه اخلاقی مسألی دشاعر و ذهن ته په کومه توگه اوله کومی لیاری څخه لیاری موندلی دی؟ آیا له ده نه پخوا نور هم ددغو مسألو په باب کښی غږیدلی دی که یه؟

( دپښتو داخلاقی او فلسفی شاعرانو په جمله کښی درحمان بابا اشعار هم له دی نظره دڅیړلو یوه ښه غوره موضوع ده ) .

همدغه راز کله کله ځینی قهرمانان له خپلو خاصو خویونو سره پیدا شوی او صفتونه یی ددیروستر ولیکوالو له خوا نقاشی شوی دی، لکه د«نجیب زاده پرنس» صفتونه او داسی نور چه شپاړسمی پیړی څخه تر اوولسمی پیړی پوری دماکیاول «دشاهزاده» له کتابه څخه نیولی بیاد گراسیان د«اتل» ترکتابه پوری کښل شوی دی او یاد «بوکاسیو» او پترارك اخلاقی رسالی چه په لاتینی ژبه دی او له پنځلسمی پیړی څخه ترشپاړسم قرن پوری په تولی لویدیځی نړی کښی لوستل کیدل او اقتباسونه او تقلیدونه ور څخه کیدل پترارك مخصوصاً دیوه ستر اخلاقی په حیث پیژندل کیږی دی لیکوال دمنځنیو پیړیو له ختمیدونه وروسته در نانس تر دوری پوری دانسان درهبری وظیفه پر اوږه اخیستی او ددی دپاره چه اخلاق له دین څخه جلا کړی دیری هڅی یی کړی دی دمونتنی «مقالی» په انگلستان کښی یو خاص ښونځی پرانیست چه ( بواسون) او (توماس بروان) یی رښتیانی او مسلم شاگردان گڼل کیږی. دفرانسی دشپاړسمی پیړی اخلاقیونو پر ( شوپنهاور) او مخصوصا پر ( نیچه ) باندی اغیزی کړی دی دژان ژاك روسو اخلاقی فکرونه دلویځی نړی پرتولو سیمو باندی منعکس شول او نظرونو روځایو ته په جرمنی کښی ورته په درنه سترگه وکتل شو روسو دبنیاد مانویو صادق رهبر چه د شیلر خبره «له مسیحیانو څخه یی بنیاد مان جوړول» درومانتک پیشروانو او تازه کارو ځلمیانو ته اخلاقی ارمان او ایدیال ورکړ خپلواکی او آزادی، طبیعت. هیجان او مینه گرد سره، دداسی موضوعاتو بڼی غوری کړی چه شعرونه، رومانونه او درامی ترینه دکی شولی او دآلمان ځلمی لیکوال پوری مجذوب شول په وروستی پیړی کښی هم دروسو اخلاقی او تربیتی فکرونه دتولستوی په آثارو کښی ښکاره شول نیچه هم په اخلاقی فکرونو کښی لوی انقلاب راوست ددی دپاره چه ددی اغیزه په فرانسی کښی وڅیړونو ښایی چه «نوی انجیل» یی وگورو

او ددی کتاب تأثیرات د(۱۸۹۲-۱۹۱۰) کلونو په ترڅ کښی ترڅیړنی او کتنی لاندی ونیسو.

## ادبی او جمالیاتی اصول

ښه به داوی چه دجمالیاتو په تیره بیا د لیکوالی او شاعری له هغو اصولو څخه په شعر او درامه کښی ورڅخه خبری کیږی دلته څه ونه وایو لیکن سره له دی هم په دار از څیړنو کښی له یو لړ داسی مبحثونو سره مخامخ کیږو چه له تطبیقی ادب سره خامخا ارتباط پیدا کوی در نسانس ددوری په لومړی سر کښی ادبیات (چه دیوه خاص هنر په سترګه ورته کتل کیده) یو ځل بیا دفنی او مسلکی مباحثاتو دموضوع شکل وموند او وروسته ادبی فرضیی دیورپ له یوه هیواد څخه وبل هیواد ته په تګ اوراتګ او مبادلاتو پیل وکړ دا نهضت له ایتالیی څخه چه په شپاړسمه پیړی کښی یی د درامی دفن دپوهانو شمیر دیر شروع شوتر دی وروسته په اولسمه پیړی کښی دفرانسی دکلاسیزم دوره راغله چه ورته دیره پاملرنه وشوه دیوآلو ویناوی او خبری چه دکلاسیزم دبدیع اصول چه په انګلستان ایتالیی او هالیند کښی باب شول ددی نامتو لیکوال نظریی دکلاسیزم په تو له دوره کښی دارو پاپه تولو هیوادو کښی فرمانروایی کوله او تول شاعران او لیکوال یی تر اغیزی لاندی تللی وو.

ددی دپاره چه دکلاسیزم له تولو مشخصاتو څخه موخبر کړی وی نو وایو چه پدی سبک کښی

۱- دلیکوالو مقصد او مرام دیو داسی «کلی فرد» په باره کښی څیړنه ده چه دانسانی نوعی یوه کامله نماینده دی نو ځکه خصوصی او شخصی موضوعات پکښی نه لیدل کیږی.

۲- دلغاتو داستعمال دسیمی لمن محدوده او تنګه ده او لیکوال دعامیانه لغتونو له استعمال څخه ځان ژغوری.

۳- څنګه چه ادبیات یو اځی پر اشرافو پوری تعلق لری نو پخپله سیمه کښی د کښتو (پستو) موضوعاتو موجودیت نه منی او په درامه کښی «عالی» موضوعات لکه داتلانو، پالوانانو او پاچایانو ژوند پیښی او کیسی څرګند وی.

٤- ګرد سره موضوعات جدی او جاودانی دی. لیکوال دی دحقیقی ژوند له حقایقو څخه څه ونه وایی. اتلان دیوی انسانی دلی نمایندګان دی او د دغو اتلانو صفتونه عمومی و افراطی تمایلات او غوښتنی لکه ممسکی ځانځانی وفا او داسی نور دی.

٥- موضوعات په عمومی طور سره دیونان او لاتین د ادبیاتو یو سپک او سوړ شانته تقلید دی درومانتیسیزم له دوری څخه دنولسمی پیړی په لومړیو مهالونو کښی (جمالیاتی اغیزی لاپسی زیاتیږی) داځل دفرانسی پخوانی ځای آلمان او انګلستان نیسی او دخپلو نورو اصولو سره پر ادبیاتو باندی اغیزه کوی دآلمان درومانتیک د لیک لومړنی اغیزی ددنمارک او سویدن درومانتیک پر قایدانو

اوداشکل اغیزه دویکتور هوگو« دکرمول دمقدمی» پرفرضیوباندی دتطبیقی ادب له نظره څخه دخاصی پاملرنی وړدی دروما نتیسم بارز مهم خصوصیتونه چه دنولسمی پیړی پربل مخ واړاوه دادی:

۱ـ دلغاتولمن دکلاسیزم په عکس ارته کیږی اوعامیانه لغتونه او اصطلاحات دلیکوالوپه آثارو کښی داستعمال لپاره پرانیزی.

۲ـ دموضوع محدودیت او تنگوالی له منځه ځی، دمثال په توگه ویکتور هوگو دهابیل او قابیل دکیسو دنتردام دکلیسا دمعماری او د سوسیالیزم له اصولو څخه خبری کوی او حتی دخپلی لورد مرینی دپاره مرثیه لیکی.

۳ـ تاریخی موضوعاتو ته پاملرنه کیږی او په ادبی آثارو کښی گرمجوشی هیجانونه او احساسات غوره موقعیت مومی.

٤ـ لیکوالان دانسان دطبیعت احساسات او دعواطفو په توصیف لاس پوری کوی او کله کله شاعرانه خیالونه دحقایقو پرځای ترجیح ورکول کیږی.

٥ـ پدی سبک کښی څوك د ادبی فنونو په چوکات کښی ځان نه بندی کوی هرشاعر او لیکوال په مستقیمه توگه دخپلی نویسندگی سبک او دول تعینوی.

دنولسمی پیړی له اواخر وخخه وروسته ددغه رازاغیز وموضوع لاهم پسی سختیږی ځکه چه دبنکلاپوهی تیوری گانی او دشاعری او نویسندگی فرضیی ته څه پاملنه نه کیږی لیکوالان هرڅه چه وغواړی اوپه هری بڼی چه یی خوښی وی لیکنی کوی او دهکلی اصولو له لومو څخه ځانونه خلاصوی ددی دوری اغیزی او تاثیرات یوازی دلیکوالو متقابلی اغیزی دی چه یوپربل باندی یی غورځوی اوبس.

که څه هم ددی دوری زیاتره لیکوالان دریالیزم «واقعیت پسندی» پیروان بلل کیدای شی خود کلاسیزم اورومانتیسیزم له پیروانو سره مقایسه کیدای نه شی ځکه هغه یوازینی حقیقت چه دوی یو له بل سره نزدی کوی ددوی سرغړول دلرغونو اصولو څخه او دوگړو دعادی ژوند توصیفونه دی ددوی آثارو داسی هیندارونه ورته دی چه ددوی دزمانی تولنی پکښی منعکس کیږی نو ځکه څرنگه، چه موپخوا گوته ورته نیولی ده.

دتطبیقی ادبیاتو دخیړونکی کارپه دی مرحلی کښی سختیږی هر لیکوال په دی دوری کښی ځانته د بنکلاپوهی او نویسندگی داسی خاص اصول لری چه دمشهورو او غیرمشهورو لیکوالو دآثارو له مختلفو منابعو څخه لاس ته راوړی دی.

داخو بنکاره خبره ده چه د سمبولیزم، نیچرلیزم سوریالیزم او نورو ادبی اصولو او سبکونو په باب کښی هم دیری څیړنی او خبری کیدلی شی، خو ددی دپاره چه زمونږ مقصد دادبی اصولو د اغیزو د دولونو ښودنه پرلیکوالو باندی ده په همدغو څو پورتنیو مثالونو باندی اعتماد او اکتفا کوو

احساسات

داحساساتو یوه گڼه اوغوره برخه چه په تطبیقی ادب کښی یی څیړنه کیږی هغه خوندور ادبی او احساساتی خبری دی چه یادلیکوالو له خوا ددوی د باطنی تأثیراتو د څرگندیدلو له امله بیانیږی او یادا چه د آثارو په اتلانو کښی یی ایجاد وی.

کله کله دبیان دغه شیوه دومره خوندوره، جذابه او زړه وړونکی وی چه خلک لیواله کوی او دلوستونکو له ژوند پیښو از مینو او مشاهداتو سره هومره تطابق او آشنایی لری چه دحقیقت په سترگو ورته کتل کیږی.

دا دوه صفته دی چه ورڅخه خوراجذابی قطعی او سترشهکارونه میدان ته راوزی.

ځینی خلک پدی حقیقت باندی انتقاد کوی او وایی چه «که دادبیاتو وظیفه داحساساتو او تأثراتو بیانول وی، نو څنگه دسبکونو ددوام او استمرار او عنعنی اصولو او دلیکوالو له متقابلو اغیزو څخه پکښی خبری کولی شو، او حال داچه احساسات یوه بیخی خصوصی او فردی موضوع ده.

دافکارو په مورد کښی نه استمرار او سنتونو داسی نورو حقایقو څخه له دی امله خبری کولی شو چه ادراك یی دتولو ذهنو له خوا یوشانته کیږی او دمختلفو هیوادونو وگړی کولای شی چه دمنلو په موضوع کښی یی سره توافق ولری اما احساسات په یوه داسی اسرار آمیز او مبهم محیط کښی محبوسیږی چه دمختلفو زمانی، مکانی او اخلاقی شرایطو سره سم تغییر او بدلون مومی حتی چه داسی یوه لحظه هم نشو موندلای چه دده سره جلا انسانان پکښی یو راز احساسات یا یوشانته غوښتنی او هیلی ولری.»

په ځواب کښی ورته وایو داخبره به بیخی صحیح وی خو دا بله خبره هم صحیح ده چه ده احساساتو دبیانولو طرز د هغو ادبی تقلید ونو او سنتونو پوروړی دی چه دفکرونو په مورد کښی یادشول ددی خبری دلایل په ساه پوهنی او تولنپوهنی کښی هم لتولای شو اخلاقی او اجتماعی عادتونه او دکورکهول آداب داسی احساسات تولید وی چه لږ او دیر یوشانته درك کیږی لکه انتقام، میلمه پالنه ترحم، فامیلی احساسات او هغه نور احساسات چه په شرافت ملیت وطنولی او نورو پوری اړه لری.

په دی توگه دهری اجتماعی او نژادی تولنی په زړنو او دماغونو کښی داحساساتو داسی مجموعی ژوندی کیږی چه ددیرو اوږدو زمانو په تیریدلو سره هم دیرلږ تغییر مومی، او ادبیات یی دبیان او تشریح له عهدی نه وتلای شی.

که هغه آداب او عادات چه پر «اورست» باندی امر کوی ترڅو چه دخپل پلار خون په انتقام خپله مور په قتل ورسوی، که دمنځنیو پیړیو خونبها، او یا هغه عادت چه دپولنزیانو ځینی وگړی یی دخپلو لوښو په تقدیمولو و پر دیو میلمنو ته لری دننني نړی له تمدن څخه بهر ښکاری، دداسی احساساتو په اثر دی چه دکورنی وطنی افتخاراتو

ځوانی او سخاوت، وفاداری او داسی نورو عادتونو په شان ددوی داخلاقی ژوندانه بنسټ شمیرل کیږی.

ځینی احساسات مخصوصاً هغه چه له عشق او مینی سره مربوط یږی تغییر مومی او د ملتونو دتقلید او پیروی په وجه زر زر بدلیږی د دارنګه احساساتو بدلون په نندارلیک او رومان کښی په ښه توګه معلومیدای شی. په دی مور د کښی شاعر او دراما تست دبیان هغه طرز ونه غوره کوی چه ددوی په دوره کښی عمومیت اوروا ج لری.

نو ځکه په یوی دوری کښی دګر زنده سازیانو آوازونه (منځنی پیری) اوروا و په بلی دوری کښی (شپاړسمه پیری) له داسی شاعرانو سره چه درنسار په شان پریوی خیالی ښکلا باندی مین وی مخامخ کیږو. کله درومانو نو په صفحو کښی عاشقانه او ښکو سره نغښتل شو و مچو ګانو دبدلولو او دهدیرو دخواشینو ونکو منظروا و، داسی سترګو سره چه په ارمان ارمان دستور و په لوری خلاصی نیولی شوی وی تصادف کو و او ګورو چه ریچاردسن، روسو او ګریته ځخه وروسته ددوی دمکتب دیر دغه رازشاګردان ځان رانبکاره کوی. او بیا کله دبایرون او موسه په تعقیب دشو مو او احساساتی عشقونو او داسی عاشقانو سره آشنا کیږو چه خپل توتی توتی زړه خپلی مینی ته سوغات ورکوی او د روزګار له رنځه ځخه له سوز او ګداز ځخه چه په سخته ژړا لیګیا وی.

ادبیات دبین الاقوامی تأثیراتو او اغیزو له امله په مختلفو اجتماعی او اخلاقی استعدادونو او عادتونو دپاره پر له پسی ارزښت تاکی او د مختلفو پیریو احساسات او تولنی د شوالیو (منځنی پیری) دربساری (۱٦ پیری) او نجیبو اشخاصو (۱۷ پیری) احساساتی افراد و (۱۸ پیری) او جنتلمین (۱۹ پیری) په بنو اتلان مجسم کوی. دار از تیپونه په تولو ملکو کښی تقلید شول او په بین الاقوامی ادب کښی ئی غوری بولی و کړی ادبی سنتونو په نور و سیمو کښی هم ځینو احساساتو په تخلیق کښی برخه واخیستله لکه دمرینی احساس او مخصوصاً هغه احساسات چه دهدیرو او قبرونو له لید لو ځخه دشاعر یادده درومان داتلانو په زړونو کښی پیدا کیږی او یا دطبیعت نور احساسات چه دیرا دبی آثارو ځخه دلګشوی دی دمختلفو احساساتو او تحولاتو دتاریخچی په باب کښی یی بیخی لږی خبرنی شوی دی چه که یو ازی دهغو احساساتو په باب کښی کتنی وشی چه دادبیاتو په وسیله په یورپ کښی ایجادشوی دی دیری ښی نتیجی به ورځخه لاس ته راشی لکه دتولستوی یاد اسا یوسکی هغه آثار چه دمحکو مینو او مجرومینو په باب کښی له ترحم او عطوفت ځخه خبری کوی یا هغه نوی عشقونه چه نو یو آثارو کښی شرح شوی دی او داسی نور.

(پای)

ښاغلی گل پاچا الفت

# یو رښتیانی قصه

څوکاله : پخوا تاماس خان اپریدی له تیرانه دمومند وغرونو ته ولاړ او په لاره دیر بی پروا تیریده ، دده توپک دیر ښکلی او دیر ، باوری وځکه ئی له چانه ویره نه کیده دمومند وبنارس خان چه دهغه قیمتی توپک ولید دومره ئی خوښ شو چه په هیڅ شان ئی زړه نشو صبرولی ، مومند سړی چه ښه توپک ووینی نو بیا ځان نه وینی او دسر په سودا هم ددغسی توپک اخستلو ته تیاروی .

بنارس خان په همدغه اراده له کلی او ودانی نه لری دتاماس خان مخه ونیوله او غږ ئی پری وکړ چه توپک همدغلته کیږده او څه تاماس خان چه داغږ واوریده سمدلاسه ئی یوی تیږی ته ځان پناه کړ او په دزو ئی شروع وکړه داځکه چه یو پښتون هیڅکله داپیغور نشی قبلولی چه په ژوند چاته خپله وسله تسلیم کړی دا کار په پښتنو کښی یوه لویه بی غیرتی ده او ددغسی سړی اولادونه هم دخپل پلار پدغسی نامه شرمیږی تاماس خان پدی پوهیده چه که دده دزی له بنارس خان سره شروع شی نو ارو مرو نو رمومند دهغه په مرسته رارسیږی او لو په شخړه جوړیږی مگر سره لدی دی مجبوروء چه په یوه سر جنگ شروع کړی او دبی غیرتی نوم په ځان کښیږدی پدی جنگ کښی بنارس خان ووژل شو او دتاماس خان گولی دهغه په تندی ونښته مگر ددزو په اوریدو له یوی خوا او بلی خوا دمومندو چیغه راووته او تاماس خان دیر کوشش کاوه چه له دغه ځایه په منده پښی وباسی .

هر کله چه دی دغره سړی واو په غرونو کښی دیر گړندی تللی شو نو سره لدی چه له لری ورباندی دزی کیدی نو بیائی هم یو ځای ته ځان ورساوه مگر په مخکښی ئی له نورو کلیونه نور خلق راووتل او دی پوه شو چه دوه خوا جنگ نشی کولی ځکه ئی دیوه خوړ په غاړه یوه کاله ته پناه وروړه او دځان دحمایت غوښتنه ئی وکړه ، ده ته دامعلومه وه چه که یو خونی او قاتل هم دیوه پښتانه کور ته پناه وروړی هغه پری له سر او ماله تیریږی او چاته ئی په لاس نه ورکوی دپښتنو دغه پښتنی عادت دیر شهرت لری او هر پښتون ترینه هر چیر ته خبر دی تاماس خان چه پدغه کاله ننوت نو ځان ورته په امن او آمان کښی ښکاره شو او باور ئی درلود چه دکاله خاوند که څه هم په قام مومند دی بیا هم پدی هیڅکله نه راضی کیږی چه دی نور و مومند وته وسپاری تاماس خان اپریدی چه دمومند په کاله کښی لږ غوندی دمه جوړه کړه نو خلق له توپکو سره هلته راورسیدل او دکاله خاوند میر اکبر خان ته ئی وویل چه ستا دزوی قاتل ستا په کاله درننووت چه دبنارس خان غوندی یو توریالی ځلمی ئی وژلی دی

له دی خبرسره سم دبنارس خان مړی هم را ورسید او میر اکبر خان دخپل گران ځوی په دیر لوی غم اخته شو. دلته تاماس خان په ځان وویریده او پدی پوه شو چه په لوی لاس ئی لکه اجل نولی ځان مرگ ته وسپاره ده دیر افسوس کاوه چه کاشکی دبل چا په کور کښی ننوتی وای او دځوی مړی له کاله نه په څنگ وای میر اکبر خان پدغه وخت کښی دیر عجیب او غریب حال درلود کله به دانتقام جذبه پری دومره غالبه شوه چه باید سمدلاسه دقاتل په ستونی چاړه راکاږی او خپل زړه یخ کړی ځکه چه ده ته داهم نه وه معلومه چه تیری او تجاوز دبنارس خان له خوا او تاماس خان دځان ساتلو دپاره دغه اقدام ته مجبور شوی دی مگر له دغی جذبی سره به دپښتو او پښتونو الی قانون هم دده مخی ته دریده چه دیوه پناه راوړونکی حمایت نه کول دیره لویه نامردی ده چه پښتون ئی هیڅکله تحمل نشی کولی.

ددی دوه دوله متضادو غوښتنو تاثیر دمیر اکبر خان ځوی مړی فکر او خیال لکه ماشوم لوباوه چه کله به ئی یو تصمیم ښه وگاڼه او کله بل مگر وروستنی قطعی فیصله داوه چه قاتل وبخښی او دځوی په مرگ صبر وکړی ځکه ئی نور ومومندو ته وویل ښه ده چه تاماس خان پناه را وړونکی دبل چا ځوی نه دی وژلی او زما دځوی قاتل دی، دده بخښل یو اځی ځما کار دی که ده بل څوك وژلی وای او س به ئی ماته ساتنه گرانه وه او دده حمایت به ماته په دیر لوړ قیمت تمام شوی و.

تاسی واوری ء چه ماتاماس خان ته عفو وکړه تاسی اوس ده ته څه زیان نشی ء رسولی ځکه چه دی زما پوروړی دی او ماته ئی پناه راوړی ده، زه نه غواړم چه یو پښتنی قانون مات کړم او هغه څوك ووژنم چه زما کور ته په دیر امید راغلی او خپل ځان ئی ماته سپارلی دی که زه دا کار وکړم یو ازی زمانوم نه بدیږی دتولو مومندونوم بدیږی، تاسو باید پدی راضی نشی ء چه مونږ او تاسو په قومونو کښی په بدنامه یادشو او هغه عادت پریږدو چه له پلرونو او نیکونو نه را پاته دی.

مومند پدی خبرو قانع شول او تاماس خان له خپل توپك سره صحیح او سالم خپل کور او کلی ته روان شو چه دمومندو بدرگه هم ورسره وه.

ښاغلی حبیب الله ( تږی )

# د داکتر پنزل د مقالی په باره کښی

## ځینی توضیحات

دکابل مجلی په (٤٦٦) گڼه کښی دداکتر پنزل یوه مقاله تر دی عنوان لاندی چه « دپښتو دلسانی تاریخ په باره کښی » خپره شوه دمقالی یو څه برخه چه دپښتو ژبی دتاریخی مطالعی دڅرنگوالی په برخه کښی لیکل شوی وه دیره خوږه او په زړه پوری وه اوماهم دکابل مجلی په « ۱۷۷ » گڼی کښی پدغی برخه کښی مفصلی خبری کړی دی .مگر دښاغلی پنزل دمقالی ځینی برخی ددی وړوی چه سړی دی دتوضیح اواستیضاح په نامه لږ څه نورهم ورباندی وگړیږی ځکه څرنگه چه ښاغلی پنزل دژب پوهنی داگتر دی نوله دی امله دده لیکنو ته هم په درنه سترگه کتل کیږی اوهرڅوك غواړی چه پوره پری پوه شی.

داکتر پنزل پدغی مقالی کښی دیرپه زړه پوری اویوژوندی بحث شروع کړیدی.

دامقاله سړی دی ته را بولی چه پدغو خبرو باندی دپوره پوهیدلو او دخبرو څخه دښی گتی اخیستلو دپاره موضوع لږ څه نورهم سره وڅیړی. ځکه څرنگه چه پخپله ښاغلی پنزل وائی: « ولس هم غواړی ددی پوښتنو ځواب واوری چه آیا پښتو قدیمی ژبه ده؟ پښتو تر فارسی قدیمی ده اوکه نه؟»

دی خپله مقاله داسی شروع کوی چه:

«خلک له ژب پوهانو نه داسی پوښتنی کوی چه آیا پښتو قدیمی ژبه ده؟ پښتو تر پاړسو قدیمی ده اوکه نه؟ ولس هم غواړی چه ددی پښتنو ځواب واوری چه پښتو لسانی خپلوان لری اوکه یه؟ » داپوښتنی په دیره ښکاره توگه کوی مگر ځواب یی په یوه داسی دول سره ورکوی چه دهرچا سرښه نه پری خلا صیږی .نولازمه شوه چه دا مقاله لږ څه توضیح شی.

ښاغلی داکتر پنزل ددی پوښتنو ځواب چه:

« آیا پښتو تر پاړسو قدیمی ده او که نه؟» داسی ورکوی !

« دادواړه ژبی چه دهندواروپائی لسانی کورنی دهند وایران او مخصوصا دایرانی څانگی برخی دی دعمرله نظره بیخی فرق نشته اوستایی متون دزړی پاړسو تر متونو قدیمی دی موجوده پښتو له اوستایی سره ارتباط لری اوموجوده پاړسی زړی فارسی سره.»

په پورته‌عباراتو کښې داکترپنزل له یوې خوانه‌وایی چه دپښتو اوپارسوترمینځه دعمرله‌مخې بیخې توپیرنشته اوله بلې خواوایی دپښتونسبت له او ستایی ژبې سره دپارسونسبت له زړې پارسو سره دی.

بیا وایی چه اوستایی ترزړې پارسونه ترمخ ده .

اوس‌چه سړې لږ څه ځیرشې پورته خبرې ورته دتا مل وربرینبی . ځکه هغه‌څوك‌چه‌داعامه نظریه منی چه ننني‌پارسودزړې پارسونه‌راوتلی ده، (۱) هغوی داخبره هم‌په تینګه سره منی چه لومړې زړه پارسوپه ساسانی پهلوی بدله شوی اوبیا ساسانی پهلوی دعربی سره دیوځای کیدونه وروسته په ننني پارسوبدله شوی‌ده .

لکه داچه داکترمعین پخپله مقدمه کښې لیکی :خپره شوی عقیده داده چه وروسته دعربانو دیرغل نه په پهلوی ژبه کښې بدلون راغی اوورووروپه ننني‌پارسوبدله شوه .»

داخبره دمخه ترداکترمعین نه دیرونوروپوهانوهم منلی ده و ګوری‌ء (اقبال‌ادبی تاریخ ددانشکدې مجله لومړی کال اتمه ګڼه ۴۱۰ مخ. داکترشفق دایران داد بیاترتاریخ مخ ۲۸ تهران ۱۳۲۱ ، تقی‌زاده دفصیحی‌پارسو دساتلوزوم دیادګار مجله‌څلورم کال ګڼه۶ ،مخ ۶ او ۷ـ کهزاد ، دافغانستان داد بیاتوتاریخ مخ ۵۸ کابل ۱۳۳۰ .)

دغه دول ایران پیژندونکو هم داخبره بیابیا کړی اودپورته لیکوالانو استناد هم دهمدغو پوهانـــورایه ده .

اوس نووروسته‌دپورته خبرودروښانولونه مونږ څنګه کولای شوچه داخوخبرې‌یوځای‌سره ومنو ، چه « له یوې خوانه دپښتو اوپارسوترمینځه دعمرله مخې‌بیخې فرق نشته.

له‌بلې خواد ننني پارسو ارتباط له زړې پارسوسره دپښتوارتباط له اوستایی ژبې‌سره دی .»

وروسته بیا وایی چه « او ستایی ژبه‌ترزړې پارسونه قدیمه‌ده» .

ځکه کله که‌مونږ دښاغلی پنزل دخبرې سره سم اوسنی پارسو زړې پارسوته منسوبـووهلته بیا دپورته اسنادو ،په اساس داهم منوچه ننني پارسودساسانی‌پهلوی لوراودزړې‌پارسولمسی ده مګر دپښتودژوندانه په برخه کښې هیڅ‌یوه خپل یاپردی پوهانوداخبره نه ده کړې چه دی‌پښتو داوستا لمسی‌وی ځکه کله چه‌اوستاله پارسونه لرغونی او اوسنی پارسودلرغونی پارسولمسی شی نوپښتو باید داوستا کړوسی شی ترڅوچه له اوسنی پارسوسره همځولی شی. اما ختیځ‌پوهان اویاخپله

(۱) البته داچه څوك دانظریه نه منی اویاداچه پارسوغیر پارسیک ژبه بولی‌یایی دزړې‌پارسو سره نه تړی هغه بیابله موضوع ده چه سپینول اوخیرل غواړی .

پښتانه پوهان چه دپښتو په مقایسوی برخی باندی غږیدلی او آثاریی پـری لـیکلی دی هغوی واره پښتو داوستا اوسنسکریت ژبی خورگڼی چه پدی ترتیب پښتو دری پښته له پارسو نه مـشره کیږی.

ترنن ورځی پوری هیڅ یوه محقق او یاژب پوهاند داخبره نه ده کړی چه اوستاژبه په پلانی ژبه اوهغه بیاپه پښتوسره بدله شوی ده.

البته په هغو تولو ختیځ پوهانو کښی به چه دپښتو په برخی کښی ئی مقایسوی اوعلمی څیړنه کړی ده. کوم یوه داخبره هم کړی وی چه پښتوله اوستایی ژبی سره پرله پسی پیداشوی ده. مگر دده داخبره هم په دومره تردداوشک سره ده چه اتکل نه لری. ځکه همدغه یوه کله پښتو د ویدی او اوستایی ژبو ترمینځ یوه ځانته مرکزی مستقله ژبه گڼی اوکله یی بیااوستایی ژبی سره پیوندوی. کله یی دهندی ژبو دمطالعی په وخت کښی دهغو ممیزاتو له مخی چه هندی ژبو ته ورته دی ویدی ژبه بولی اوکله ئی داوستائی ژبو دمطالعی په وخت کښی اوستایی ژبه. اما داخبره هیڅکله هم رت دول سره نه کړی چه دی پښتو داوستا لمسی یا کروسی وبولی، ترڅرچه دپارسو سره همځولی شی.

څرنگه چه مودمخه ولیدل ننني پارسو دزړی پارسو نه د را وتلو په شرط برسیره په ختیځ پوهانو پخپله ایرانی پوهان هم په تینگه سره دساسان پهلوی لوراو دزړی پارسو لمسی گڼی.

دخبرو په لړ کښی ښاغلی پنزل داهم لیکی چه: «که څه هم پخپله لیکلی شوی اوستا بی ژبه د پښتو سکه او مستقیمه انانه ده.»

دلته بیاداپوښتنه پیدا کیږی چه ایا پښتو د اوستایی ژبی بالواسطه لمسی یعنی کروسی ده اوکه داچه لوریی؟ که یی لور در دلیل به ئی څه وی او بیادانادکلمی ذکر ته څه ضرورت و؟ اوکه یه بالواسطه لمسی یعنی کروسی ده دابیا په څه دلیل؟

ښاغلی پینزل دخپلو خبرو په لړ کښی داهم وائی چه: «منځنی پښتو (۱) بایددکلمو داسی صورتونه ولری:

لکه: مودر، دمورپه ځای. ورودر، دورورپه ځای. پدر، دبلارپه ځای او، دس، دلس په ځای.»

اما کله که سړی دمقایسوی ژب پوهنی آساسات په نظر کښی نیسی هلته بیاڅرنگه چه دمخه وویل شو دپورته کلمو دغه بڼه دمنځنی پښتو دپاره نه شی تاکلای.

(۱) یعنی دپښتو هغه لرغونی بڼه چه تر اسلام دمخه رائی ځکه کومه هغه دپښتو آثار چه داسلام دلومړی سرنه مونږ ته رارسیدلی دی دپښتو دننني آثارو سره کټ مټ یوشی دی. چه ښاغلی داکتر پنزل هم داخبره پخپلی مقالی کښی تائیدوی.

ځکه دپښتو دلرغونتیا ممیزات» ددی خبری هر راز امکان چه پښتو لغت دی په یو وخت کښې دننني پارسو ښه لرله ، بیخی له مینځه وړی.» یعنی داخبره چه دپښتو د «مور» دکلمی منځنی ښه دی «مودر» یا «مادر» او دور ور دکلمی ښه دی «ورور در» وی خه لزوم نه لری. ځکه له یوی خوا نه د «پلار» کلمه داوستاد پیتر «Pit ar» اودزړه هندی د «P it ar» په مقابل کښې پخپله ښه را پاتی او له بلی خوا نه دپښتو او اوستا اوسنسگریت ژبو ترمینځ دا مقایسوی قانون را خرگند دی چه دا وستا او سنسگریت دکلمو دمینځ «ت او ته» په پښتو کښې «ل» دی مثلاً.

| اوستا | پښتو | سنسگریت | پښتو |
|---|---|---|---|
| سیتم | سل | پتها | پلا |
| ویسایتی | شل | کتوار | څلور |
| پتر | پلار | په تهنه | پلن |
| پیتیه | بل | پایتیه | خپل |

اوس نو کله که مونږ دځینو ستر و پوهانو له دی خبری څخه چه وایی په «آریک» ژبه کښې دا نگلیسی د «مدر» کلمی ته «مور» ویل کیده ، سترگی پتی کړو او داخبره داوس دپاره ومنو چه دویل شوی کلمی اصلی توری دی دری وی هلته هم بیا دپورته دمقایسوی قاعدی له مخی وا یو چه د «ورور پلار او مور» دکلمو ښې دی په پښتو کښې نژدی پدی ترتیب وی.

| پښتو | اوستا | سنسکریت |
|---|---|---|
| پلار | پیتر | پاتری |
| مولر | ملور | ماتوماتری |
| ورولر | ورلور براتر | بهراتر (۱) |

ځکه څرنگه چه دمخه وویل شو پدی برخی کښې داوستا او سنسگریت د «ت» په مقابل کښې «ل» دی نه «د» او دا «ل» د «غ» په دود (گ) په مقابل کښې دپښتو دمرکزیت ممیزه ده نه دنوی والی.

لنډه داچه دپښتو د (پلار ورور او مور) دکلمو منځنی ښه (پدر ورور او مودر) نه شی کیدلای ځکه کله که دا کلمی په منځنی پښتو کښې چه دداکتر پنزل له اتکل سره سمه دپهلوی همځولی یوه ژبه ده په (د) سره وای نو ښائی چه دی پهلوی کښې هم په (د) سره وی. حال داچه هلته هم دور ور کلمه Barat او Baratar او دپلار کلمه Pit او Pitar یعنی (ت) سره ده ، چه معادل یی په پښتو

(۱) کله که سړی دا کلمه په غور سره مطالعه کوی گوری چه دلته د «و» دمقابل والی په اساس د «ب» پښتو دیره زیاته دلرغونتیا پابنده بریښی او له همدی ځایه دپښتو د «ل» دقدامت اتکل هم کولای شی.

کښې (ل) دی نه په (د) سره چه په دی کلمو کښې د (ت) یو دیر نوی او تازه شکل دی.

دغه دول دا کلمې په نورو هندو ایرانی لرغونو ژبو کښې هم په (ت) سره وی چه پښتو کښې یی مقابل (ل) دی. نه داچه دی په (د) سره وی او بیا دی دغه (د) په پښتو کښې په (ل) بدل شوی وی. ځکه پدی ترتیب پښتو تر زړی پاړسو یا پهلوی څه چه تر پاړسو نه هم پدی ځای کښې نوی کیږی.

هو! کله که بیا څوك (ووایی) چه د (ورور) د کلمې منځنی بڼه دی (ورولر) یا (رولور) او د (مور) د کلمې منځنی بڼه دی (مولر) یا (ملور) وه، د منلو به وی. ځکه یو خو د (پلار) کلمه پدغی بڼی موجوده او بله داچه پورته ویل شوی د مقایسی قاعده هم ورسره اړخ لګوی. بر سیره پر دی دژبی د تحول قانون هم دا خبره څرنګه چه (ل) او (ر) دوه رغړنده توری دی منلای او سړی دا ویلای شی چه دی یو له دو و پرله پسی رغړندو تورو نه لویدلا یوی. اما د (د) په برخی کښې سړی دا حکم هم نه شی کولای چه دی وروسته د (ل) له بدلون نه داسی ژر او یدلی وی ځکه د «مودر» یا د «ورودر» په کلمو کښې «د» په دیر او چت دول سره ویل کیدلی شی، نو یی له همدی امله غور ځیدل په دومره لږ وخت کښې له قوی احتمال نه لږ څه لیری ښکاری.

البته په اوستا کښې داسی «د» هم شته چه کله کله یی په مقابل کښې په پښتو کښې خپله «د» راځی لکه داوستا «ګده» چه په پښتو کی «غدی» ده یا «ویدریته» چه په پښتو کی «ودریدلی» دی. اما کله کله په پښتو کښې د «د» په مقابل کښې «ل» راځی لکه «ادهیری» چه په پښتو کی «لر» ده. خو دا بیا ځانته ځای او مقایسوی قانون لری چه پرته د «پلار» له دغه دول نورو کلمو د قانون څخه دی.

دغه دول د اوستاد «دسن» د کلمی بدلون د پښتو په «لس» باندی تر ځانته مقایسوی قانون لاندی راځی او هغه داوستایی کلمو دلومړی «د» مقابل والی دی د پښتو د «ل» سره، لکه داوستاد «دومه» کلمه چه په پښتو کی «لم» ده. او دلته هم ماته «ل» د پښتو یوه مرکزی ممیزه بریښی. ځکه په ځینو مرکزی لهجو کښې هم دا کلمه په «ل» سره ده. لکه وخی چه دا کلمه د پښتو په څیر د «Las» په بڼه پکښې راغلی او په ثغنی کښې هم په همدی بڼه *Las* ده.

د دا کتر پنزل پدغی مقالی کښې بله د توضیح وړ خبره داده چه دی وروسته د دغو دوو کلمو «پلار، لس» د پرتله کولو نه د پښتو سره وایی!

«له داسی مقایسو او مقابلو څخه هم دا ښکاره شوه چه ایرانی ژبی لکه فارسی، اوسیتی، کردی او بلوچی، پښتو ته د کلمو دا صوا تو له نظره دیری نزدی دی... له دی کبله مونږ پوهیدلای شو چه پښتو یوه داسی ژبه ده چه په ایرانی څانګی کښې چه داندو ایرانی یا آریانی برخه ده دژبو لویه هندو اروپائی کورنی کښې شاملیږی.»

دلته زه بیا هم نه پوهیږم چه دغه حکم د دی دوو کلمو د مقایسی له مخی دی او که په نورو دلایلو بنا دی؟

که یوازی دهمدی دوو کلمو دمقایسی له مخی حکم کوی هغه بیا سندنه شی کیدای. ځکه له یوی خوانه په زړه هندی کښی هم دا کلمو په همدی بڼه دی . یعنی دپلار کلمه چه په زړه پاړسو او اوستایی کښی « Pitar » په منځنی « ت » ده په زړه هندی کښی هم په همدی بڼه « Pitar » ده . دغسی د « لس » کلمه چه په اوستا کی « Dasa » او په اوسنی پاړسو کښی « ده » ده په زړه هندی کی هم « Dasa » او په اوسنی اوردو کښی « دس » ده .

له بلی خوا دا کلمی چه یی داکتر پنزل دپښتو کردی ، اوستیی او بلوچی ژبو دنزدی والی دیر ستر دلیل گڼی پدغو ژبو کښی دومره بدلی دی ، چه دځینی هندی لهجو او ژبو دا کلمی به پښتو ته ورڅخه نزدی وی. مثلا د « پلار » کلمه په کردی کښی « Pier » په اوستی کښی « Fide » او « Fid » او په بلوچی کی « Pid » او « Pis » او « Pith » ده . چه په یوه کښی یی منځنی توری او په نورو کښی یی وروستنی توری رټ لویدلی دی.

پدی برخی کښی یوه دڅیړنی وړ خبره داده چه ښاغلی پنزل وروسته ددی کلمو له مقایسی نه وایی : « د پورتنیو لغاتو د آوازو له ارتباط څخه معلومیږی چه د ـ پلار ـ په کلمی کښی اصلی « ت » په منځنی موقعیت پر « ل » تبدیله شوی ده . » کله چه سړی پورته عبارت ولولی نو داسی فکر کوی چه دا خبره هغه خبره چه د « پلار » بڼه په منځنی پښتو کښی باید « پدر » وی ماتوی او هغه مقایسوی قاعده تائید وی چه پدی برخو کښی دنورو زړو ژبو د « ت » په مقابل کښی دپښتو د « ل » توری دی نه دا چه دی « د » په « ل » بدل شوی وی.

دغه دول د « لس » او « د س » د کلمو په برخی کښی هم هغه مقایسوی قاعده تائید وی چه ما دمخه یاده کړه او ومی ویل چه دلته داوستایی کلمو دسر « د » په پښتو کښی « ل » دی . ځکه وروسته د « لس » د کلمی دپرتله کولو نه دنورو ژبو سره لیکی :

« د ـ لس ـ په کلمی کښی اصل لومړی ـ د ـ هم په ـ ل ـ بدل شوی دی . »

دداکتر ددی خبرو نه چه یی وروسته دد غو کلمو د مقایسی څخه کوی دورایه څرگندیږی چه دی پخپله هم دلته د « لس » د کلمی د « ل » مقابل والی دلومړنی « د » سره او د « پلار » د کلمی د « ل » مقابل والی دمنځنی « ت » سره دوه بیلی بیلی قاعدی گڼی مگر کله چه بیا دمنځنی پښتو د کلمو دبڼو په برخی کښی غږیږی هلته بیاد دپاړسو « د » اساسی گڼی او دادوه کلمی په یوه لړ کښی راوړی.

په پای کښی دد اکتر پنزل دا خبره هم لږ څه توضیح غواړی چه وایی :

« موجوده پښتو د آوازو او د کلمو د شکلو له مخی قدیمی نه ښکاری » ځکه څومره چه مونږ ته دهمدغه گایگردار مستتر او مارگنسترن دپښتو مقایسوی څیړنو نه چه دی یی هم پدی مقاله کښی یادوی څرگنده ده ، چه پښتو دغږونو او کلمو دجوړښت په برخه کښی هم بر سیره پر نحوی ترکیب او گرامری نورو قواعدو په کافی اندازه لرغونوالی ساتلی دی.

## د شاعرسوغات

هغه ښاغلی لوستونکی چه دکابل مجله پرله پسی اولی ارومرونیکولای دووریانکوف پیژنی خودا به لږ و لوستونکو ته معلومه وی چه ښاغلی دووریانکوف دشوروی دخاتیخ پیژندنی موسسی معین برسیره پردی چه له دیری مودی راهیسی یی پښتو زه کړی او له پښتو او پښتنو سره مینه او علاقه لری، دشاعری طبع هم لری ده، دپښتو دیر اشعار او خصوصاً دښاغلی الفت ځینی غوره اشعار روسی ژبی ته په شعر سره ترجمه کړی او شوروی جامعی ته یی وړاندکړی دی. اوس یی دابله خواهم نیولی ده یعنی روسی اشعار په پښتو اشعار واړوی.

دمسکو په هغی شپی کښی چه سبایی مونږ دگران هیواد په لور الوتلو دووریانکوف له خپلو نورو پیغلو او ځوانانو اندیوالانو سره چه په پورته موسسی کښی دپښتو دپاره کارکوی زمونږ کوتی ته په خندانه خوله راننوت له رو غبرنه یی وروسته سمد لاسه و ویل «زه دپښتنو دپاره سوغات لرم داسوغات یو ځوشعر و نه دی که یی پښتانه ومنی زه اوزما اندیوالان به دیر خوښ شو» ماتری خوښی وکړه او وروسته می وعده وکړه چه داسوغات به رسوم دادی اوس دده داسوغات دمجلی په صفحو کښی گرانو وطنو الو ته وړاندی کوم.

### ښاغلی دووریانکوف

وروسته له القا بو!

دلوی روسی شاعر میخایل لیرمونتوف شعرونه می ترجمه کړل ددی اشعارو دپاره موسیقی ترتیب شویده او لکه سندری ویل کیږی او خلک یی زیات خوښوی دااشعار زیاتره عشقی او دلوئی فلسفی نه دك دی که زماشعری ترجمه ستاسی خوښه وی نو په مجلی کښی به یی چاپ کړی او که نه هیڅ!

دمیخائل لیرمونتوف لنډه پیژندنه په لاندی دول ده: په ۱۸۱٤ ع کال کښی پیدا شوی و او په ۱۸٤۱ ع کال کښی په دا ویل کښی و وژل شو سره له هغه چه پوره ۲۷ کلن مرشو خو دیر اشعار او دیر آثار ئی پریښوول ترتولو مشهور شعر یی د پوشکین د دسرگ په مناسبت و ویه له نورو آثارو څخه یی یو مشهور رومان دی چه نوم یی «زمو دتز زمانی قهرمان» دی له دراموڅخه یی تر تولو مهم (ماسکاراد) نومیږی دده آثار د وطن پالنی له روح نه دك و وچه دروسی کلاسیکی آثارو ښی نمونی گڼلی کیږی. دده آثارو دروسی ادبیاتو په ترقی او روسی جامعی په ژوند کښی زیات اهمیت درلود.

دمیخایل لیرمونتوف
روسی شاعر اثر

# لار

دښاغلی دووریانکوف ترجمه

زه یوازی په دی لاری روانیږم
چه په شنه رو دکښی ئی شگی دی ځلیږی
شپه آرامه دښت د خدای ږغ ته چمتو ده
ستوری ښکاری په ورو، وروسره غږیږی
داسی ښکلی ښایسته عجب اسمان دی
مځکی شنی جامی اغوستی دی بیدیږی
زړه می ولی په دردیږی حال یی بددی؟
نه دڅه یم منتظر نه زړه سوزیږی
په دی ژوند کښی دڅه نه یم منتظر زه
څه چه وشو نور، ورپوری افسوس نشته
آزادی او هوسائی پیدا کوم زه
آرام خوب غواړم او نور څه خیال می نشته
مگر نه غواړمه خوب په ادیری کښی
چه دتل د پاره ورك شم له دنیا نه
غواړم داسی خوب چه ژوندساتی په ما کښی
او ځگرمی هوا ښه واخلی له خولی نه
چه تمامه شپه او توله ورځ په غوږ کښی
دیر ښه ږغ خوږی سندری وی دمینی
او دپاسه د څېړی شنه ونه تل وی
شښهار کړی او رپیږی په سوړباد کښی

لیرمونتوف

مترجم: ښاغلی دووریانکوف

## لوی غر

دازرینه وریځ چه ده مدام په ریږ دکښی
شپه ئی تیره کړه د لویو غرو په غیږ کښی
چه سهار شونو په بیړه شوه روانه
ښه خوشحاله الوتله په شنه لاره
دباران په غتو څاڅکو وشوی او ښکی
دزاړه غره دلمن چونلی مخ کښی
غر تنها شو مفکوری یی دی ژوری
په صحرا کښی دی په بته ژړا کاندی

لیکونکی: ښاغلی خادم

# د پښتنو د لرغونی تاریخ یو فصل

## (د پارتیانو دولت)

ښاغلی کهزاد او ښاغلی میر غلام محمد غبار په «آریانا ر ساله» «تاریخ افغانستان» او «افغانستان بیک نظر» کتابونو کښی دیونان او غـرب دثقه مورخینو په استناد داسی لیکلی دی.

دپارت ولایت: عبـارت دی د هریرود او انزك (؟) له حوزی، اوشاه رود، جـوین سبزوار، نیشاپور، طوس او ترشیزلـه علاقو څخه ـچه داولایت دآریانایعنی قدیم اوپخوانی افغانستان دغربی ولایاتو څخه ګڼل کیږی.

په یوځای کښی داهم وائی چه دغه دولت څکه په «پارتی» نامه مسمی شوی و چه دری دولت تاسیس کوونکی د «پارت» قبـیله وه او داقبیله دباختر له آریائی قبائلو څخه دمهاجرت په صورت دی هیواد ته راغلی وه وایـی چه پارتیان دباختر دآریائی قوم (پخت = پکت) یوه پښه ده (۱) کوم وخت چه دی قوم دخزر او هـریرود دغاړو ترمنځ علاقی خپل هیواد وګرزولی، اومستقل دولت ئی تاسیس کړ، نو په خپل نـامه ئـی ورته «پارتیا» وویله.

دغه لیکوالو په خپلو لیکنو کښی دپارتیا دولت دتاسیس نیته نه ده ښودلی، خو دومره ئی لیکلی دی چه:

د ۲۵۰، ق، م په خواو شا کښی یو بل پارتی شخص چه «ارساس» نومیدو له باختر څخه پارتیانه لاړ، او هلته ئی دسلوکسی یونانیانو برعلیه داستقلال اعلان وکړ، او نوی دولت ئی تشکیل کړ. وائی چه ارساس (دفری یاپت) زوی اود (ارشک) نمسی واودتیرداد. یا (تری دانس) په نامه یی ورورهم درلود وائی چه ارساس ارشک هم باله شو.

داسی څرګندیږی چه ارشک ئی فامیلی نوم دی. وائی چه کوم وخت ښاغلی ارساس دخپلو ملګرو سره له بلخ نه پارتیانه لاړ، هلته ئی وګړی دیونانیانو پر ضدو لمسول، او دهغه وخت یونانی حاکم چه (فرکلس) نومیدو او په پارتیا کښی مقرر و، هغه یی وواژه او خپل مستقل دولت یی اعلان کړ. وائی چه میرنی ارساس تولواك ښه کلـك اردو ترتیب کړچه دوطن له دښمنانو سره به یی دفاعی جنګونه کول، او داریانا یعنی پخوانـی او تاریخی افغانستان دپـادشاه (دیودوت) سره یی دوستانه روابط درلودل.

(۱) دافغانستان به یـک نظر د ښاغلـی غبار تالیف صفحه ۳۷ د کابل طبع په ۱۳۲۶ ش کښی.

ماته داسی معلومیږی چه دمیرنی او بهادر ارساس ښه روابط چه داریانا دمرکزیونانو باختری پادشاه (دیودوت) سره یی قائم کړی وو، دوطن دوستی او پښتنولی په خوږه مینه بناوودیودوت لومړی باختری شوی یونانی دی چه باختریی له سلوکسیانو څخه آزاد کړ.

څکه نودیودوت د«منجی» پهلقب شهرت لری.

نقل کاچه کوم وخت دغهښاغلی میره ارساس مرشو، وروریی (تیرداد) یادوهم ارشاك دده پرځای دپارتیابادشاه شو. ده پارتی دولت قوی او مستحکم کړ.

او دباختری پادشاه دوهم دیودوت سره یی دوستانه اتحاد وساتلو. دهابیوردته نژدی کلاوی ودانی کړی. اویوځل دسلوکسی کالی نیکوس یونانی په جنګ کښی مغلوب هم شو.

دتیرداد نه وروسته دده زوی ارتیان (۱۹۶-۲۱٤ ق،م) دپاتیاپادشاه شو. ارتیان همدان فتح کړو. لیکن دریم انتیوکوش ساوکسی په زورسره دده په مملکت کښی تیرشو، او دباختر سره ئی جنګ ته ځان ورساوه.

څلورم ارشک چه (فیری یاتس) نومیده پس له پلاره پادشاه شو. (۱۹۸-۱۱٦ ق،م) او تر ده وروسته ئی وروراول (فرهاتس) یعنی لومړی فرها دسلطنت ته ورسید.

ددوی په دوره کښی دپارت دولت کمزوری وه. هر کله چه دپارتیا دسلطنت واګی میترداتس (اول مهرداد) ته پهلاس ورغلی (۱۷٤-۱۲٦ ق م) پارتی دولت ترقی وکړه، او نمر خاته او نمر پریواته ته پراخ شو.

مهرداد «تیوریا» او «تراکزیان» لتی (دکشف رود اوطرس حوزه) له هرات او مرو سره اشغال کړی. اوورپسی ئی په باختر کښی سوقیات شروع کړل، او هیلوکلس یی ښه کمزوری کړ.

له هغه ځای نه ملی سیستان او کندهار ته مخه وکړه. مهرداد دلمرپریواته په خواکښی هم فارس او بابل ته متوجه شو او دسیلوکسیانو سره یی چه یونانیان او اجنبی حکومتونه وو، متعدد جنګونه وکړل.

داول مهرداد نه وروسته دده پرځای دوهم فرهاد او دوهم ارتیان په نوبت کښیناستل. دوی دغرب خواته مخه وکړه او شرقیی هیر کړ. په دغه سبب سره اسکایان او تخاریان په باختر کښی چه دپارتیانو ابائی هیوادو کلک شول او دیونانو باختری حکومت یی دهندوکش جنوب ددوته وشاره. نوبیا غرب ته ارم شول او د هریرو دحوزی ته ورغلل دغلته له پارتیانو سره چه دسلوکسیانو په جنګونو کښی کمزوری شوی وو مخامخ شول، او دجنګونو او نښتو په نتیجه فرهاد داسکایانو او ارتیان دتخاریانو په لاس ووژل شول، په دغه وخت کښی (۱۲٤-۱۲۰ ق م) دآریانا په غربی خواو وکښی دپارتیانو نفوذ لږ شو.

کوم وخت چه دپارت ددولت دحکومت وار دوهم مهرداد ته ورسید هغه دکلکو نښتو په سبب داسکایانو مخه ونیوله او پری یی نښودل چه

پارتیاته ورننوځی نو ځکه دوی هم دجنوب خواته مائل شول او دسیستان پهولایت ورننوتل دغه ځمکه یی په خپل نامه ، ساکستانا ، وبلله . دویم مهرداد دارمنستان او دروم ددولت سره هم دیر جنگونه اومقابلی وکړی ، دغو جنگونو دپارتیاددولت دثقل مرکز له شرقه غرب تهوړاوه نوځکه ددوهم مهرداد په ځای ناستو باد شاهانو دآریانا دمملکت سره تماس نهدرلود .پهآخره کښی «اورودس» دپارتی دولت پایتخت د آریانا لهغرب ځخه «استیزیفون» تهچه ددجلی پهغاړه کښی و نقل کړ . تردی وروسته دپارتیانو تاریخ دآریانا دتاریخ له چوکاته ووت . اودپارتیانو یوشخص چه وینونس نومیدو دپهلوایانو پهنامه دپارتیانو په شرقی سیمو کښی یو مستقل دولت تاسیس کړچهتر (۱۲۰ ـ ۷۰ق م) پوری ئی دوام وکړ .

## نتائج

(۱) دپارت دحکومت داول تاسیس نیته نه ده معلومهخودارساس نه بیاد دوهم فرهاده پوری ئی تقریباً (۱۵۰) کالهدوام کړی دی او دارساس نهدوینونس پوری پوره دوه سوه کاله کیږی

(۲) فرهاد اومهرداد هماغه پارتی شاهانددی چه قصی ئی پهشاهنامه کښی هم شته .

(۳) پارتیان دتاریخ پهشهادت د(پخت ـ پکت) له تکوم ځخه اوپښتانه دی .

(٤) دپارت اوباختر پهمنځکښی تعلقات دثقافت اوقومیت په اساسونوبناوو .

(٥) هرکله چهپارت قوم د(پخت ـ پکت) له ستی ځخه اوپښتون دی نومعلومیږی چه ؟

د(بهارت ـ مند) او ( پارس ـ فارس ) کلمی هم دپارت ځخه جوړی شوی دی .

(٦) اوس نوپدی کښی ځوك شک کولی شی چهموجوده فارسی دی ژبه دپارتیانو دژبی لهبقایاو ځخه وی ؟

مترجم ښاغلی سعدالدین

# دماچی تحفه

یوه روپی اواتیاپوله . روپی یی غوته روپی وه او نوری یی ماتی پیسی وی چه له سودا څخه یی پیسه په پیسه سپمولی وی . ( دیلا ) دری واری وشمیرلی خو هماغه یوه روپی اواتیاپوله وی.

بل سباهم داختر ورځ وه نوکر اری په څوکی کښیناسته او غمونه یی مخی ته ودریدل . ژوند له سلگیو او بی اسروگړیو دك دی ددی غمونو تر منځ کله کله کومه خوشاله شیبه هم راځی خو لکه برق داسی ژر له سترگو تیره شی .

دیلا ومیره یی په یو غریب کور کښی اوسیدل دوی هم لکه نورو خلکو برقی زنگ په وره کښی لاره خوکاریی نه کولو. دوی هم دنورو په شان دخونی دباندی دپوستی بکس اینبی و خو تر اوسه هیڅ پاکت پکښی نه ولویدلی. ددروازی په سر په یوه تت او باران وهلی لیک ددیلا دمیره نوم ( جیمز ) لیکلی و. دیلا له ژړا را پاڅیده او په خپل مخ یی پودر وواهه او دکړکی مخی ته ودریده سبا به اختر وی او دی یوازی یوه روپی اواتیاپوله لرل . دی غوښتل چه خپل میره جم ته یوه تحفه پری واخلی. هره میاشت یی پیسی سپمولی او اخر همدغومره شوی . په رښتیا چه دمیاشتی اتیاروپی تنخوا همدغسی وی. په دی پیسو به داڅه شی واخلی؟ په څو څو ساعته یی دجم دتحفی دپاره نقشی جوړی کړی چه کوم ښایسته ، نادره شی ورته واخلی. دفعتاً دیلا راوڅرخیده او دهنداری مخامخ ودریده کتل یی چه ددی خمار وسترگو په یوه ژړا اخپله ښکلا ورکه کړی وه ژړیی خپلی وریښمینی څنی په مخ راخوری کړی . رښتیا خبره خوداده چه جم او دیلا په خپل کاله کښی دوه شیانه لرل چه دوی پری ځانو ته سر لوړی گڼل او هرچاته به یی ښوول. که دشیبا ملکی ددیلا ویښته لیدلی وای له حسرته به ئی خپلی شوندی زیښلی وای او که ددیر ومړو سترگو خاوندد جم ساعت لیدلی وای له حده به یی خپله ژیره شکولی وای.

ددیلا ویښته لکه دسروزرو درمن پرمخ ورخواره وو. او آن ترزنگنو رسیدل. دیلا ژرژر خپل ویښتان تول کړل . یو دوه تودی او ښکلی یی دسترگو له گوته په مخ را وښویدی بیا یی نو په منده خپل کالی وا غوستل او له کاله په بیره ووته . او دیوه دوکان ترمخ ودریده .

ددوکان په سر لوحی لیکل شوی وو «دسړ فرونی دویښتو پلورلوځای. . هر راز ویښته دلته په ښه بیه اخستل کیږی» (دیلا) په منده و روختله. په دکان کښی یوه غته ښځه ناسته وه . دیلا تری پوښتنه وکړه « زما ویښته اخلی؟» ښځی وویل، هوزه ویښته اخلم ، خولی دی بیرته کړه چه یو نظر پری واچوم .

دیلاخولی لیری کړه اودوینتانو درمن یی په مخ خپورشو. ښځی وویل شل روپی اوپه عین حال کښی یی ددیلاورینمین وینته په گوتو وازمویل.

دیلاوویل «ژریی راکړه» شل روپی یی واخیستلی اووینته یی ښځی له بیخه په بیاتی غوخ کړل. دیلاپیسی راواخستی اوپه زغرد په بازارورسمه شوه چه دجم دپاره تحفه پری واخلی. په آخره کښی یی دخپل زړه شی بیاموند.

داتحفه‌په‌رښتیاچه‌دجم‌دپاره جوړه شوی‌وه اوداسی تحفه په تول‌بازارکښی نه وه. داتحفه دساعت‌یوپلاتینی‌بندو. دی‌بندلکه نوروبازاری شیانو ظاهری‌سینگارنه‌لاره بلکه دموادوله‌خوا یوقیمتی‌اوبی نظیره شی‌و. دابندجم‌دساعت‌سره جوړیده‌دبندپه‌لیدودیلاوپوهیده چه‌همداشی‌وه چه دی‌غوښت.

بیه یی‌یوویشت روپی‌وه. دیلاپه بیره پیسی ورکړی او د بند اوا وه ا تیا پولوسره په کور راوځغاسته‌کورته‌چه‌ورسیده نویی دعشق نشه‌په تعقل بدله شوه.

دجم دراتگ څخه یی پخوا په نغری کښی اوربل‌کړدوینتو اوتویی را واخیست او خپل لنده کی‌وینتان یی غوتی‌غوتی‌اوتوکړل په لږه شیبه‌کښی یی له‌ځان‌څخه‌یوه گلالی نانځکه جوړه کړه سریی لکه‌دښوونځی دهلك‌داسی شو، ځان ته‌یی‌په آینی‌کښی یونظروا چاوه. له ځان سره یی‌وویل‌که‌جم می‌په اول نظرمره نکړی نوپه بل نظربه یی‌پام شی‌زه‌لاهم‌ښکلی‌یم.

په اووبجوکافی‌تیاره وه‌اودپخلی‌دیگی هم‌په اورایښی‌وه. دجم‌دپښوغږپه‌زینوکښی‌واوریدل شو. دیلادساعت‌بند په لاس کښی‌واخیست او دوره ترخنگ په څوکی‌کښیناسته دیلا عادت لرلوچه پهځینوونځوکښی‌به‌یی دځانه ورووروو دعا کوله اوس یی‌دشوند ولاندی ویل «خدایه ماجم ته ښکلی‌ښکاره کړی»

دروازه‌خلاصه‌شوه اوجم‌راننوت. دیرجدی ښکاریده غریب گوتی دوه ویشت‌کلن واوکله دکورسختی‌نه وه پری‌راغلی. کوټ‌یی‌څوځایه شکیدلی ودجم ستر گی چه په دیلاونښتی نویو عجیب‌حال پری‌راغی، دانظر د قارتنفرتعجب اودارنه وه. دی‌تولوشیانوته خودیلاحاضره‌وه. خود جم دانظربیخی بل شانته وجم همدغسی ستر گی‌په دیلاورښخی‌کړی‌وی. دیلاورووروو ورنزدی شوه وی ویل دزړه‌سره جمه! ماته دغسی‌مه گوره ما خپل وینتان ځکه خرڅ کړل چه تاته داختر تحفه پری واخلم. وینتان به بیرته شنه شی، مه خپه کیږه زماوینتان دیرزر رالوئیږی‌جمه! ماته‌اختر مبارکی‌ووایه راځه‌چه خوشاله‌واوسو، ته نه پوهیږی‌چه‌ماځنگه ښایسته تحفه تاته اخستی ده.

جم لکه چه اوس په خبری پوهیدلی وی، وی‌ویل «تا خپل وینتان‌پری‌کړل؟» دیلاوویل «هو» پری می‌کړه اوخرڅ می‌کړه، زه‌بی‌وینتانو

هم په تا گـرانه نه یم ؟ زه خودغه دی شته یم یو اخی و ینبته می کم دی» جم گر دچار پیل و کتل ، وی ویل «ته وایی چه و پښتان دی خرڅ کړی دی؟» دیلا و ویل ( دی کوتـی کښی یـی مه لتوه ، مادرته و ویل چه ویښتان می خرڅ کړل په مامه په قاریزه ځکه چه ماخپل و ینبتان ستا دتحفی داخستلو دپاره خرڅ کـړل اوس راځه چه خوشالـه اوسو ، ته و دریزه چه زه خپل پخلی وکړم .

جم په دی خبری موسکی شوگوری ء! که تاسوله یوه محاسب څخه و پوښتئی چه که څوك په هفتی کښی اته روپـی گټـی اوبل په کال کښی یو ملیون روپـی پیدا کوی ددوی ترمنځ څه فرق دی؟ نو به یو غلط ځواب و اوری ء .

جم دخپل زاړه کوټ له جیبه یوه غوته وکښله اوپرمیزیـی وغورځوله . دیلاته یـی کـړه چه گرانـی چرت مه خرا بوه ماته ستاو ینبتان او نور شیان دومره قیمت نلری. یواخی ته را باندی گـرانه یـی نه ستا ویښتان خوهغه غوته پرانیزه چه زماد خپگان په سبب پوه شـی.

دیلازرزرغوته خـلاصه کـړه په لیدویـی دخوشالی یوه چیغه وکړه خوزریـی خوشالـی په غم واوښته او په سلگویـی پیل وکړپه غوتی کښی یو درجن دو ینبتو زومنځی وی چه جم ددپلا دو ینبتو دپاره راوړی وی. دپلا پوهیده چه دادیری قیمتی زومنځی دی چه په کلو نو کلو نو یی داخستلو مینه لرله خووس یی نه رسیده . زمنځی ئی ښکل کړی اوداو ښکو دکی سترگی یی جم ته را واړولی وی ویل « زما ویښتان دیرزرلوئیزی»

دیلا په زغرده را پاڅیده چـه خپله تحفه جم ته ورکړی . دساعت زنځیرئـی په لاس کښی ونیو او جم ته یـی وړاندی کړ.

وی ویل جمه گرانه ! دازنځیر دی خوښ نه دی؟ ددی په ځای چه جم ځواب ورکړی کرار په ځرکی کښیناست بیرته ئی تکیه وکړه او په خندا شو وی ویل : «دیلا راځه چه خپلی تحفی لیری کړو اوس ئی وخت نه دی ځـکه چه ما خپل ساعت تـاتـه دزمنځو اخستلو دپـاره خرڅ کړا وس نو دیلاگـرانی زرځه خواره را پاڅه کـړه چه وزیم .»

قصه هم دلته خلاصیزی خو دومره بایدو وایم تراوسه چه خلکو یوبل ته کو می تحفی ورکړی په هغو کښی دماجی تحفه ترټولو قیمتی ده .

# دتاشکند جرگه

دساینس او تخنیک په دی چتک پرمختگ سره نورددی امکان نه دی پاتی چه دنړی ولسونه اوملتونه دی یوله بل نه بیخبره پاتی شی یو دبل له کړاوونو او سختیونه دی متاثره نه شی او دیو بل په خوښی کښی دی برخه وانه خلی. که په لومړنیو پیړیو او تاریکو دورو کښی انزوا وا ځان ځانی وه لوی علت یی دمواصلاتی اووړلو اوراوړلو دوسیلو نه لرل وو او یادا چه که وسایل موجود وو خو هغو محلی خصوصیت لاره چه نتیجه یی دبشریت په ځان ځانی اوانزوا تمامه شوی وه مگر دساینس او تخنیک په پیشرفت سره دبشریه تفکر او جهان بینی کښی هم لوی فرق راغی.

دپلتنی او پلتلو حس، دلیدنی حس، دمرکی کولو حس اوله نوروسره دگړیدلو حس قوت پیدا کړ. ځان ځانی او انزوا مخ په کوچ شوه ملی سرحدونه نړی شول او انترنیشنلزم زوره وکړه. جهانی موسسی لکه یونو او نوری منځ ته راغللی داسی فلسفی او نظریی میدان ته راووتی چه اساس یی دملتونو او ولسونو ترمنځ په نژدی او تینگی همکاری باندی ولاړی وی. داتول ددی سبب شول چه بین المللی جرگی اومرکی زیاتی شی نوځکه دولسونو او بیلو ملتونو په نمایندگی ساینس پوهان، سیاستمداران، ښوونکی ژب پوهان، قانون پوهان، بشر دوستان، هنرمندان، گوندیماران، دبزگر او کارگر و متخصصان، سوداگران دولسونو دکولتورد بیل بیل اړخ نمایندگان او متخصصان سره پخپلو کښی کښینا ستل مرکی، غوندی، اوجرگی یی سره جوړی کړی، یو دبل په طرز، فکر، جهان بینی، عادت، رسم اورواج اوکولتور خبر شول او یو بل سره ښه وپیژندل لیکوال هم بیعلاقی پاتی نه شول دوی په دی کارکښی زیات پرمخ ولاړل، هرچیری یی آوازونه پورته کړل، اوپه زغرده راولاړ شول چه له یوی خواد ولسونو دژوند ځرنگوالی ترسیم کړی او نور دنیا وال پری پوه کړی اوله بلی خوامرکی اوجرگی جوړی کړی اونور په ځان یا په خپل ولس خبر کړی او همداسی دنورو ولسونو له حال احوال څخه ځانونه خبر کړی.

نوځکه دوی په دی پسی هڅه وکړه چه دبیلو بیلو ولسونو لیکوالو سره وگوری، او ددی کار دپاره تر دیره حده پوری هغه پخوانی تعصبونه پریږدی او دعصر په نوی روح سره مخ په وړاندی حرکت وکړی له دی کبله دمابه الاشتراك تکی ئی پیدا کړل او داسی کوښښونه یی وکړل چه پخپلو منځو کښی لیدنو کتنو ته دوام ورکړی او دمابه الافتراق تکی پریږدی په دی کارکښی لومړی د آسیاد لویی وچی لیکوال دمخه شوك، ابتکاریی خپل کړاو دلومړی ځل دپاره سره راغوند شول اوپه

دیلی کنبی یی دوه کاله دمخه یوه جرگه جوړه کړه . ددی جرگی مقصد داشوچه باید تول هغه وسایل او ممکنات سره برابر شی چه دلیکوالو ترمنځ دایمی ارتباط قایم شی لدی کبله هلته فیصله وشوه چه دوه کاله وروسته دی همداسی یوه جرگه په تاشکند کنبی وشی ، برسیره پردی په دی هم اتفاق راغی چه را تلونکی جرگی ته دی دافریقی لیکوال هم راوبلل شی ، څرنگه چه دافریقی او آسیاد ولسونو ترمنځ اشتراکات زیات موجود وو او ددی دوه لویو وچو ولسونه له یوی خواد بشریت ددیرو قدیمی مدنیتونو خاوندان وو او له بلی خوایی مشابهی تاریخی دوری لرلی نو په دی پیشنهاد موافقه راغله او افریقائی لیکوال هم په دیره خوښی دیته حاضر شول چه له آسیایی لیکوالو سره څنگ په څنگ کښینی او دادب او کولتور دپیشرفت تولی خواوی سره په گډه وخیږی. نتیجه داشوه چه دبحر الکاهل له څنډو څخه دجاپان له هیواد نه نیولی دا تلس ترشرقی څنډو پوری دسینگال تر هیواد پوری دآسیا او افریقی له هیوادنو څخه به دلیکوالو هیئتونه تاشکند ته دجرگی دپاره وبلل شی داجرگی چه پخپل ذات کښی یی دبشریت له پیدا کیدو نه تر اوسه پوری ساری نه در لودیعنی دبشریت په عمر کښی دلیکوالو ترمنځ داسی لویه اوستره جرگه نه وه شوی دشاملو لیکوالو دپاره یی دامیدنوی گلان وغوړول . دا کتوبر شپی او ورځی نژدی شوی او مقدماتی کومیته چه ددیارلس افریقایی او آسیا یی لیکوالو څخه جوړه وه په دی بریالی شوه چه ددی دوه لویو وچو دیو نیم زر ملیونو وگړو لیکوال نمایندگان تاشکند ته راغوندکړی ، دشاملو لیکوالو شمیر له یو نیم سلو څخه زیات شوچه له ۳۵ هیوادو نو څخه په طیارو او ریلو کښی داز بکستان دسوشلستی جمهوریت مرکز تاشکند ته را تول شول .

په آسیا کښی یوازی دایران او ترکیی نمایندگان را نه غلل او په افریقی کښی زیاتره دهغو هیوادو لیکوالو گډون ونه شوکولی چه اوس هم تر استعمار لاندی دی او له آزادی نه محروم دی ، که څه هم ځینو یی نمایندگان واستول ، په دی براعظم کښی له آزادو هیوادو څخه یوازی دجنوبی افریقی فدرالی دولت وچه له نماینده استولو څخه یی دده وکړه . او هغه هم شاید ددی دپاره چه په دی جرگه کښی ارومرو دنژادی تبعیض او تفوق مسئله ترڅیړنی لاندی نیولکیږی او دانتقاد گوتی به دهغه ملک حکومت ته نیولی کیږی.

په هر حال دا کتوبر په اوومه دتاشکند په یوی دیری ښکلی او درنی ماڼی کښی چه دعلی شیر نوائی په نامه مشهوره ده او هلته داز بکستان ښکلی ، پیغلی او ځوانان دهنر او ارت په نامه سره ناڅی اوسازونه کوی داجرگه دیو نیم سلو نمایندگانو او دامریکی ، اروپا دیو څخه مشاهدینو لیکوالو په شمول شروع شوه. دتاشکند ښار بین المللی حیثیت پیدا کړاو فعالیت او جرگی مرکز پکښی ترپخوانه زیاتی شوی جرگه دیوه تاکلی پروگرام په اساس چه رومبی دمقدماتی کومیتی له خوا ترتیب شوی و. په کارپیل وکړ. پروگرام په لاندی دول و.

دجرگی له شروع ته دمخه د کتابونو نمایش بیادهیئتونو دمشرانو لید نه اوکتنه اوپرپروگرام سره غږیدل .

له هغه وروسته دجرگی افتتاح دمقدماتی کومیتی درئیس ښاغلی شرف رشیدوف له خوا چه په اصل کښی دازبکستان یولوی لیکوال او دهغه جمهوریت مشردی. بیا دتاشکند ښاروال دشوروی لیکوالو داتحادیی دمشرد هرکلی ویناوی وروسته دتاشکند د کوچنیانو هرکلی بیا دپروگرام دطرزعمل اعلان، اووروسته په نورو ورځوکښی دهیئتو دمشرانو له خوا کنفرانسونه ورکول اولوی مجلس په کومیسیونو ویشل کیدل اودمجلس په وروستی غونډه کښی یوه گډه اعلامیه خپرول .

هغه موضوعات چه باید په لوئی اسامبلی اوکومیسونو کښی پری خبری ، شوی وای داوو.

۱ـ دآسیا اوافریقی هیوا دوادب او کولتورانکشاف او دهغه رول دبشری ترقی ، ملی واکمنی آزادی اوجهانی سولی دپاره اوهمدارازدهغه رول داستعمار په مقابل کښی.

۲ـ دآسیااوافریقا دهیوادونو کولتوراودهغه مناسبات دغرب له کولتورسره کومیسیونونه پنځه اوپه لاندی دول ویشل شوی وو.

۱ـ دکوچنیانو دادب مسئله اودهغه تربیوی اهمیت.

۲ـ په ادب کښی دښځوبرخه .

۳ـ دافریقا اوآسیا په هیوادونو کښی ددراماتوری انکشاف.

٤ـ دادب اورادیوسینما اوتیاترترمنځ دارتباط ساتلو مسئله.

٥ـ دآسیاوافریقی دلیکوالوترمنځ ددوستانه روابطو انکشاف.

اوس به نوراشو دی ته چه څنگه اوپه څه دول ویناوی وشوی او څنگه دی تاریخی جرگی خپل کارته دوام اواختتام ورکړ، دلته یوازی هغه لوی اواساسی تکی بیانوواوکه نه امکان نه لری چه داتوورځو جرگی کاراوویناوی دی په یوی مقالی کښی ځای کړل شی.

دکتابود نمایش له افتتاح نه وروسته دهیئتونومشرانوسره ولیدل اوپه پروگرام کښی په بحث شول، دلته په تاکلی شوی پروگرام دهند دنماینده له خوا انتقادونیول شوچه بایدکنفرانس یوازی ادبی اوفرهنگی خواولری اوسیاسی دی نه وی ، خونوروزیاتره نمایندگانو ورسره مخالفت وکړاوښکاره یی کړه چه دادب بیلتون له سیاست څخه امکان نه لری نوځکه داستعمار کلمی پرضد مبارزه په اجندا کښی پرینبودل شوه دلویی اسامبلی دشروع کیدو په وخت کښی نمایندگان دالف باپه ترتیب سره په څوکیو کښی کښیناستل اوپه دی حساب په لومری قطارکښی افغانی

لیـکوال ښکاره شول دهیئتو مشران دنمایندگانو ترمخه دتیا ترپه دریدیځی کښـی کښینا سـتل اودهیئت رئیسه په نامه یـی یوه دله جوړه کړه . عکاسان او فلم اخیستونـکی او اخباری نمایندگان تاوده تاوده گرځیدل او په پروجکتر و اورنا اچولو سره یـی دتیاتر په منځ کښی سپینه ورځ جوړه کړی وه تا کل شوی ونیاوی واورولی شولی.

شوروی لیـکوا اودزړه له کومی تاوده هر کلی په دیرو خوږ و کلمو کښی خپلو میلمنو لیکوالو ته وویل او په عین حال کښی یـی دسوشلستی نظام مثبته اغیزه پرادب اوریلستی ادب ښکاره کړه اوددی نظام لاندی یـی تو ل هغه انـکشافات او امکانات وښوول چه دادب ، کولتور او خـلاقه لیکوالی دپاره مهم اولازمی دی استعمار ، استثمار امپریالیزم ، او متجاوز سیاسـت اونـژادی تبعیض یـی سخت وغانده دنړی حساسی پیښی یـی په لبنان ، اردن ، کوریا ، الجزایر تایوان او نورو ځایو کښی یادی کړی او خپله پوره همدردی یـی دهغو ولسو له مبارزینو سره وښوو له په نورو دوو وروځو کښی دسیلون کمیرن ، برما ، گانا ، کوریا ، اندونیزیا ، سودان ، کمبودیا ، فلپاین ، منگولیا هند ، چین تایلند ، دعرب متحد جمهوریت ، جاپان ، ویتنام ، قبرس ، اردن ، نائیجریا ، قازاقستان نیپال ، پاکستان ، یوگندا ، سومالی لیند ، دهیئت مشرانو داجندا دلومړی مادی په شا وخوا کښی ویناوی وکړی ترهغه وروسته په ځلورمه ورځ لویه اسامبله رخصت شوه او پنځو ذکر شو کومیسونو ددوه وروځو دپاره په تا کلو موضوعاتو باندی په کار پیل وکړ. په دوه کومیسونو ـ دآسیا او افریقی دلیکوالو ترمنځ ددوستانه روابطو دانـکشاف کومیسون او دوړو په کومیسون کښی افغانی غړو گډون وکړ ، دلته هم کومیتو له تشکیل نه وروسته ویناوی شروع شوی او هر نماینده به خپل پیشنهادونه تجویزونه ، او نظریی په مربوطه کومیسون کښی اورولی په کومیسونو کښی فعالیتونه تشبثونه زیات شول دکولتوری. ارتباط په تینگولو کومیسون کښی دزیاترو نمایندگانو نطاقانو پیشنهادونه په دی خرخیدل چه باید دآسیا افریقا دلیکوالو ترمنځ ددایمی ارتباط تینگولو په منظور دی یوه دایمی موسسه جوړه کړی شی ، دلیکوالو ترمنځ دی مشاعری او منا ثری وشی لیکوالان دی دیوبل هیوادو ته دعوت شی دیوبل په ژبو دی دموسسی له خوا ترجمی وشی د آسیا او افریقی دلیکوالو یو ادبی دائرة المعارف دی خپور کړل شی او یوه ادبی میاشتنی مجله دی ددی دایمی موسسی له خوا خپره شی او په پای کښی دی تول هغه امکانات برابر شی چه دشاملو هیوادو لیکوالان ، رقاصان ، هنرمندان ، رسامان ، نقاشان ، معلمان ، جورنالستان او نور دیوبل هیوادو ته سفرونه وکړی دافغانستان نماینده هم دلته یوه ویناوکړه او دلیکوالو ترمنځ یی درابطی تینگولو په منظور ځینی لاری چاری کومیسون ته وړاندی کړی همدغسی په هر کومیسون کښی تجویزونه او سپارښتنی ورکړل شوی چه په آخر کښی د کومیسیونو له خوا

دسپارښتنو او پیشنهادو نو لنډیز دلویی اسامبلی رئیسه هیئت ته وروړاندی شو په دوه نورو ورځو کښی دا جندا په دوهمی فقری باندی لویه اسامبله دایره شوه چه په هغه کښی په ترتیب سره دچین، عربی متحد جمهوریت، هند، افغانستان، موزامبیک گینی، مدغاسکر، کوریا، عراق او نورو هیوادو دهیئتونو دمشرانو او غړو له خوا ویناوی وشوی، له هغی وروسته یوه کومیته دڅو هیوادو له نمایندگانو څخه جوړه شوه او په دی مامور ه شوه چه دعمومی اسامبلی په ویناو و او دبیلو بیلو کومیسونو دسپارښتنو دملاحظی په اساس یوه اعلامیه تالیف او تدوین کړی او بیائی رئیسه هیئت ته وړاندی کړی دا کار چه وشو او اعلامیه چه ولیکله شوه په آخرنی ورځ او آخرنی اسامبلی کښی تولو نمایندگانو ته دتصویب په غرض واورو له شوه اورای گیری وشوه چه په نتیجه کښی دتولو په اتفاق هغه اعلامیه چه ترجمه به یی په دی گڼه کښی وگوری ء تصویب او ومنل شوه بر سیره پر هغه دابیا رئیسه هیئت تصویب کړ چه یوه دایمی دارالانشاء دی جوړه شی او هغه دی غړی هیوادو نه په مالی مرستی سره جوړه او تقویه کړی او بله جرگه دی په ۱۹۶۰ کښی په قاهره کښی وشی په دی دول دتاشکند جرگه دهیاهوی، او دخوښی او جوش او خروش په آواز وسره پای ته ورسیده او ختم شوه.

## یوڅو خبری :

تر اوسه پوری دمرتب پروگرام له مخی یوازی دجرگی په طرز عمل خبری وشوی. اوس به دیته راشو چه دونیاو وڅرنگوالی، او دکنفرانس ماهیت څنگه وو او کوموتکوته پکښی زیات اهمیت ورکول کیده او داچه دتاشکند خلکو څنگه استقبال کړه او له میلمنو سره یی څنگه رویه وکړه.

دجرگی په شروع سره فعالیتونه زیات شول. په دی فعالیتونو کښی اخباری نمایندگانو زیاته برخه لرله په دهلیز ونو، لارو او رستورانو کښی پوښتنی په لاس ولاړ وو او یا به دنمایندگانو کوتوته ورتلل او دجرگی دکار فعالیت، مقصد او همدا راز دتاشکند په باب کښی به یی دنمایندگانو نظریی غوښتلی حتی داسی به وشوه چه نمایندگانو به کله کله له اخبار والا وڅخه کناره گیری کوله او پخپلو کارو پسی به شول.

خو سره لدی هم اخبار والا، رسامان، نقاشان دیر ښکته او پورته کیدل خصوصاً دافریقاتور پوستو نمایندگانو ته به یی ځانو نه رسول، عکسو نه به یی ورنه اخیستل رسمونه به ئی ترینه کښل او حتی دمجسمو جوړولو دپاره به یی خپلی مخی ته درول او یا یی کښینول او دخپلی رسامی مودل به یی کول دافریقاتور پوستو او دهندوستان سکانو ته خصوصاً زیاته توجه کیده واړه، زاړه اخبار والا او دتاشکند خلک به دله دله دوی پسی روان وو او دزیاتی مینی او محبت په سترگو به یی ورته کتل، یعنی داسی بریښیده چه تاشکند دتور پوستو خلکو د خاص احترام ځای دی، نو ځکه ددوی قدر نظر سپین پوستو لیکوالو ته زیات و ددی خاصی توجه

علت داوچه شورویان اودلته دتاشکند اوسید ونکی عملاً دنیا والوته وښئی چه د نژادی تبعیض مفکوره دوی هیڅ نه لری اودوی ته تور اوسپین یوراز دی او فرق پکښی نه کوی بلکه تول هغه ولسونه چه مبارزی کوای وداستعمار په مقابل کښی نیغ ولاړ دی ددوی په نزد دیر محترم دی همدغه سبب وچه دالجزایر دنمایندگانو زیات قدر او احترام کیده اوبرسیره پرحکومتی مامورانو ولسی وگړو هم په درنه او دمینی په زړه ورته کتل .

دیره مهمه مسئله په جرگه کښی دنمایندگانو اصلی خبری وی دتولو نطاقانو دویناو اوریدل او دهغو تحلیل کول چندان آسان کارهم نه و ، ځکه چه نطقونه به اوږده اوپرله پسی ووخوسره لدی هم د ذوق خاوندان ورپسی وویو دیر دقیق نظر دجرگی دشاملینو ویناوی په یوڅه فرق سره په دوه کته گوریو کښی اچولی شی .

۱ـ هغه ویناوی چه دسوشلستی هیوادو لیکوالو یاهغو لیکوالو اورولی چه په انفرادی دول دسوشلستی نظریو خاوندان وو .

۲ ـ هغه نطقونه چه دغیر سوشلستی هیوادو نطاقانو اورول .

دلومړی کته گوری نطاقانو په خپلو هیوادونو کښی دسوشلستی نظام مثبته اغیزه پرادب اوکولتور اوروله او دابه یی ښوول چه ادبی اوکولتوری تول مظاهر په دی نظام کښی په ښه توگه وده او پیشرفت لری او په نتیجه کښی ابتکار ایجاد او اختراع منځ ته راځی تر دی وروسته به یی استعمار ، استثمار ، امپریالیزم ، دنژادی تبعیض مفکوره دزور او قوت سیاست ، تجاوز ، بیعدالتی اوظلم ته بدویل او هغه به ئی زښت زیات غندل . خصوصاً استعمار . استثمار امپریالیزم اوکولونیلزم ته بدویل بالکل ددوی عادت گرځیدلی وه اوکه په کوم نطق کښی داسی کلمی لږی میندل کیدی نو هغه به ددوی له نظره لکه دبل منگی شوروا په شان وبرخلاف دمبارزینو ولسونو ستاینه ددوی په وینا ووکښی زیاته وه ، اوداسی به یی ښودل چه دوی دمغصوبو ، مظلومو لاندی شوو ، ولسونو کلک اوتینگ ملگری او اندیوالان دی دیوه شوروی نطاق داخبری به زماهیری نشی چه ویل یی « مبارز خالق اومبتکر دی په کومو ولسونو کښی چه مبارزه روانه ده هلته یی نتیجه فراوانی ، ارزانی ښه ژوند ، اودشخصیتونو لیدرانو راوتل او هسکیدل او دسعادت ، خوښی اوواقعی ژوند په لوری دولسونو روانیدل اوخوځیدل دی .

دوروستی کته گوری د نطاقانو ویناوی په بل شکل وی ، دوی تول استعمار دیده وونوځکه دوی په دیر وترخو اوشدیدو کلمو سره استعمار په مخ کښی اچولی وداستعمار بدی خواوی به یی ښکارولی

او دابه یی ویل چه استعمار ددوی ادب ، رسم ، رواج ، عنعنه ، کولتور او نور تول ملی او ولسی ممیزات او مشخصات ضعیف کړی او هغه خپل کولتور او ممیزات یی په دوی تپلی دی په دی برخه کښی افریقائی نمایندگان تر نورو دمخه وو .

یوازی دافغانستان دنمایندگانو آواز په دی برخه کښی فرق درلود ، ددوی ویناوی دهیواد دبیطرفانه سیاست په اساس وی نو ځکه یی په خپلو نطقونو کښی خپل هیواد دتولو ولسونو دوست او همکار ښوده ددی کته گوری دنطاقانو دوینا ویوبل خصوصیت داوچه په خپلو هیوادو کښی یی دادب وده ، روزنه ، او تکامل ښووه خوسره لدی هم زیاتر ولیکوالو لدی نه شرم یادده نه کوله چه دخپلو ولسونو دخواری او رحم وړ حالت نورو ته بیان کړی او نور په دی خبر کړی چه ددوی ولسونه بد ژوندلری او زیاتره ولسی خلک دملاکانو ، تاجرانو ، او سرمایه دارانو له خوا استثماریږی دنیپال ، جاپان ، او اردن نمایندگانو لا داهم په زغرده ښکاره کړه چه ددوی حکومتونه دانگ په لاس مترقی او ولس دوستو لیکوالو پسی گرزی او له هغوی څخه یی جیلونه دك کړی دی ، بین المللی همکاری او دوستی او جهانی آرامی او سوله خو دتولو نطاقانو په خبرو کښی وی .

دتاشکند جرگه گردسره رسمی نه وه ، یعنی دلیکوالو آواز و نه حتماً ددوی دحکومتونو آواز گنل کیده ، دا جرگه زیاتره یوه ادبی او علمی جرگه وه ، نو ځکه تبارز او تشخص او فعالیت زیاتره په افرادو پوری تړلی ښکاریده یعنی کوم هغه لیکوال چه فعال ، متشبث ، او دخبرو شوقیان وو ، میدان به دهغو وولدی کبله خپله دلیکوالو شخصیت ، علمی قدرت ، تعلیمی سابقه ، په خارجی ژوندی ژبی پوهیدل او ددوی انرجی او فعالیت زیات مهم وو . په دی برخه کښی دهنداو ورپسی دمصر او اندونیزیا لیکوال پر نورو دمخه ښکاریدل .

دتاشکند دجرگی هر هغه غړی چه دجرگی په باب څه لیکل کوی لدی څخه هیڅ تیښته نشی کولی چه دهغه ښار خلک او ولس یاد نه کړی ځکه چه ددی ښار تولو خلکو دمیلمنو دیرتود او نه هیریدونکی هر کلی کاوه ، دمیلمنو دهر کلی دپاره ددوی زړونه دیرتاوده او خولی یی له موسکا او خندانه دکی وی ، دوی تولو کوښښ داوچه تول هغه وسایل چه دخوښی او آرامی ، سبب گرزی میلمنو ته برابر کړی ، واړه او زاړه نر او ښځی معلمان او متعلمان ، دوکانداران او سیاستمداران ، بزگران او کارگران ، نقاشان او رسامان ارتستان او آوازخوانان او په پای کښی تول تاشکندیان په دی کوښښ کښی شریک وو . تر هغو چه یادکار کوی گمان نه لرم چه ددوی له مینی نه دك او په زړه پوری هر کلی به له غړو لیکوالو او په تیره بیاله تور پوستو افریقائی لیکوالو څخه هیرشی . (پای)

# دنړی له لیکوالو څخه په تاشکند

## کښې د آسیائی او افریقائی جرګې د لیکوالو هیله

مونږ د آسیا او افریقی هیوادو لیکوال په تاشکند کښې سره غونډ شوو او تولی هغه مسئلی مو سره وخیړلی چه مونږ لیکوالو او دنړی د ادب د پاره مهمی وی. مونږ په دی ویاړو چه زمونږ د هیوادو لیکوال د آسیا او افریقی د لویو وچو له لرغونو کولتورو او له هغو بشری افکارو او خیالاتو څخه میراثونه لری چه د عصری نړی په مفکوری کښې ستره برخه لری. مونږ په تاشکند د شوروی ازبکستان سوشلستی جمهوریت په مرکز کښې چه سره جرګه شوو، زمونږ محرك هغه عقیده ده چه پر ادب او د ولسونو پر آینده یی لرو، همداشان زمونږ د دی جرګې محرکات د تولی نړی د ولسونو ترمنځ د سولی او دوستی پاکی او سپیڅلی هیلی وی. مونږ تول په دی فکر یو چه ادب زمونږ د ولسونو له سرنوشت سره نژدی ارتباط لری، او ادب یو ازی د ولسی واکمنی، آزادی او خپلواکی ترمبارك سوری لاندی وده کوی او هم په دی معتقد یو چه د استعمار او نژادی تبغیض محوه کول د ادب ابتکار د پوره انکشاف په غرض لومړنی شرط دی.

مونږ په داسی حال کښې چه د دهلی د قاهری او باندونګ له جرګونه الهام واخیست او هغو جرګو په مونږ کښې یو نوی روح را پوه کړ او قوت یی را وبښه، د اروپا، امریکا او استرالیا لیکوالو او کلتوری کارګرو ته خطاب کوو او په دی خطاب کښې رنګ، نژاد او هیڅ راز امتیاز نه نه ګورو.

په تاریخ کښې تر اوسه داسی نه دی شوی چه د دو دیر ولویو وچو عقلیون او منورین دی په یو ځای کښې سره تول شی یو تر بله دی سره کښینی او دیونیم زر ملیون ګړو پاکی او سپیڅلی هیلی دی تمثیلی کړی د اعقلیون د هغو هیوادو د ګرو هیلی له ځانو سره لری چه له جاپان، کوریا، او چین څخه تر مصر ګانا، او الجزایر پوری، او بیا له مرکزی آسیا څخه تر اندونیزیا او له بحر الکاهل څخه تر اتلانتیک پوری غزیدلی دی.

د او لسونه چه د تول بشریت دوه - دریمی جوړوی د قدیمی مدنیتونو د سیندونو یعنی د آمو ابا سین تیګیرس، دجله، فرات، هانګ هو، یانګ تسی نیل او نائجیر د سیندونو پر غاړو وو چه بشر د لومړی ځل د پاره د ماقبل التاریخ له ترګمی څخه را بهر شو. مادی او روحی الات یی د ځان د پاره سازکړل، او لیکلی شوی ژبی یی منځ ته راوایستلی په چین، مصر، هند، بابل او یونان کښې وو چه لومړنی کتابونه ولیکل شول (۱) په نتیجه کښې د آسیا او افریقی ولسونو هغه عالی کولتورونه منځ

---

(۱) دلته یوه سهوه شوی او هغه داده چه تاریخی آریانا یا تر دیره حده پوری ننني افغانستان یعنی هغه خاوره چه زند او اوستا په کښې لیکلی شوی ذکر شوی نه ده (مترجم)

تەر اغلل چەبشریت دهغه پەشمیر ویاری خوددی مدنیتو نو او کولتور و نو زیات انکشاف ته اغزی او اوخندونه نیغ شول . داخندونه نه یوازی زمان او طبیعی آفتونه و وبلکه دغلامی استعمار ، امپریالیزم استثمار او نژادی تبعیض یادبشریت او انسانیت پەبنکلی ، بنایسته او تازه بن کښی زهرلرونکی گیاوی. پەدی دول زمونږ آزاد ولسونه له خپل استقلال څخه محروم کړل شول ، ددوی مالونه او شتمنی چور او چپاو شوی او دوی پخپله له استعمار او استثمار لاندی راغلل. دوی ذلیل کړل شول او درنگ ، پوست او نژاد پەلحاظ پەدوی کښی بعضیت پیدا کړل شو. داسی کوښښونه وشول چه زمونږ ولسونه دی خپل کولتور پریږدی خپلی ژبی دی له یاده وباسی او خپله سابقه دی هیره کړی.

سره لدی ناپاکو کوښښونو بیا هم دوی ونه شو کړای چه زمونږ کولتورونه دی بیخی نیست او نابود کړی هر دایی وشو کړای چه دودی او پیشرفت مخی ته یی اغزی وکړی او خندونه ورپیدا کړی پەتیرودوه سوه کلونو کښی زمونږ دهیوادو دیری مهمی لیکنی له هغو مبارزو څخه را ووتی چه زمونږ ولسو دخارجی استعمار او استثمار پەمقابل کښی وکړی. زمونږ ددی مبارزو نښتی دپروتست هغه قوی او شدید احساسات دی چه داستثمار دفجایعو پەمقابل کښی ئی ظاهر کړی دی او هم دار از ددی مبارزو بله نښه دبشر پەحقوقو هغه قوی عقیده ده چه بایددی دخپل سرنوشت کنترول پخپل لاس کښی ولری او زمونږ ولسونه دی پەپوره ازادی کښی ژوندو کړی زمونږ دعصر دلیکنو یو دفخر و رفکر دفردیت دشخصیت او هر ولس داجتماعی شخصیت نمانځل دی زمونږ دعصر پەدیر وښو کتابونو کښی زمونږ پەښو نظمو او ښو ترانو کښی زمونږ دولسونو او ددوی دعزم جذم هغه قوی روح پروت دی چه دخارجی استعمار پەمقابله کښی بی لری.

دآسیا دولسونو یو څه برخی لا دمخه ازادی شوی دی ددی هیوادو ولسونه یو ځل بیا آزاد شول چه خپل ادب دخپلو ملی عنعناتو پەمطابق منکشف کړی خو استعمار چیان تر اوسه هم د آسیا او افریقی یو څه برخی تر خپل لاس لاندی لری چه هلته پەهغو علاقو کښی خلک داز ادی له نعمت څخه محروم کړل شوی دی او کولتوری او اقتصادی استثمار تر اوسه هم جدی ساتل شوی دی مگر سره لدی هم پدی ملکونو کښی دسیاسی او کولتوری استقلال پەغرض ولسی مبارزی روانی دی. مونږ خپله همدردی او ملاتړی دتولو هغو مغصوبو ملتونو پەطرفداری اعلامو وچه دآزادی دپاره میرنی جگړی او مبارزی کوی.

دسارد جنگ پەنامه استعماری دولتونه دی کوښښ ته دوام ورکوی چه زمونږ ترمنځ ویره ، بی اعتمادی او نفرت پیدا کړی او وسلی سره خپری کړی دتباکو ونکو از میښتو لمنه یی اوزده کړی او پەدی دول زمونږ ولسونه ودار کړی.

دتاشکند جرګه له خلاقه ادب سره دولسونو دی مبارزو په دیرتینګ ارتباط زیات زور اچوی مونږ دلیکوالو په حیث په دی ښه پوهیږو چه دکولتوری او ادبی ابتکار په غرض یوه وی اوسخت کوښښ یوازی دآزادی په شرایطو کښی ممکن کیدای شی. مونږ په دی هم ښه پوهه لرو چه زمونږ ژوند زمونږ دولسونو له ژوند سره پوره یو دی ددوی مقصد ونه زمونږ مقصدونه دی او ددوی مبارزه زمونږ مبارزه ده او مونږ په کلکه له دوی سره داستعمار، اوذروی جنګ په ضد او دسولی آرامی او، ملتونو ترمنځ ددوستی په طرف ولاړیو.

په داسی حال کښی چه مونږ دآسیا او افریقی لیکوال دنړی له تولو هیوادو سره کولتوری ارتباط غواړو او دکولتورویش دقوی او ضعیف او دشرق او غرب په نامه نه منو او هغه ګرد سره ردوو نو څکه به مونږ دتولو کولتورودذات رښتنی ارتباط دپاره او دجهانی قیمتی کولتو دپاره خپل کوښښ جاری ساتو.

مونږ داستعمار چیانو او استثمار چیانو تول هغه کوښښونه چه دتقسیمولو او خرابولو په غرض دی. ردوو او یو ځل بیا دمشترکو هیلو او مشترکو افکارو دانحاد په غرض خپله عقیده څرګندوو.

ای ددنیا لیکوالو! مونږ له تاسو څخه هیله کوو چه دبشری بدیو په مقابل کښی او دتولو هغو بدیو په مقابل کښی چه له افرادو سره او له ولسو سره کیږی خپل آواز ونه اوچت کړیء بشری بدی یعنی بیعدالتی او استعمار او استثمار. او مونږ له تاسو څخه هیله کوو چه دانسانی لوړو صفاتو او خواصو، دآزادی، زمونږ دولسونو دآیندی او دباقی نړی دآیندی په باره کښی خپلی خوږی او په زړه پوری نغمی سرکړی مونږ لیکوال دولسونو زړه او وجدان یو. مونږ نه یوازی داوسنی بشر دسرنوشت په باره کښی بلکه دآینده نسلونو په مقابل کښی هم لوی لوی مسئولیتونه لرو. لدی کبله ده چه مونږ له تاسو څخه هیله لرو چه دهغو ادبیاتو په مقابل کښی چه پر تبعیض، نفرت ولاړدی مبارزه وکړیء څکه چه دا راز ادبیات دځوانانو دماغونه ګنده کوی او زمونږ دکوچنیانو ارواح رافاسدوی مونږ له تاسو څخه امیدکوو چه یو ځای د، حقیقت، بنکلا او آزادی په لتولو پسی پرمخ ولاړشیء او داسی ادب منځ ته راوباسیء چه دولسونو له ژوند سره تړلی وی څکه چه همدغه ادب لدوی سره دهغی مبارزی دپاره مرسته کوی چه دمځکی په سر دعقل او عدالت دفتح دپاره وی.

تل دی وی دآسیا او افریقی دلیکوالو اتحاد، تل دی وی دتولو ولسونو آزادی او خپلواکی، تل دی وی دولسونو کولتورا او ادب او تل دی وی سوله.

لیکونکی دکتور احمد فوادا لاهوانی
ژباړونکی سلیمان لائق

# فلسفه روزنه ده

اکثره عوام بلکه لاهغه خلک چه په فلسفی بوخت دی او متفلسفان بلل کیږی په داسی وهم کښی لویدلی دی چه دا شغل او صناعت ( فلسفه ) په داسی یوی متفکری دلی پوری اختصاص لری چه گوا کی آسمانی اولوړ خلک دی کاشکی دوی ( متفلسفان ) داسی خلک وای چه څه نه څه یی له خپل فکر څخه مرسته غوښتلای او له خپل عقل سره یی سلا کولای خو له بده مرغه ددی مرستی غوښتلو او سلاکولو په ځای هغه وچ عبارتونه یادوی چه تاریخ دافلاطون او ارسطو له وخته تر اوسه پوری له هغو څخه عبور کړی اولیری شوی دی او دوی ددومره مودی څخه وروسته بیاهم هغه زاړه عبارتونه او اصطلاحات لکه توتیان اړوی رااړوی او گمان کوی چه همدغه وچ مصطلحات فلسفه ده هو ! دا فلسفه ده مگر درسی فلسفه یادارو پایانو په اصطلاح ( سکولاستیک ) ( ۱ ) دا هغه فلسفه ده چه په منځنیو پیړیو کښی داروپا په مدرسو کښی لوستله کیده ، دی فلسفی به الفاظ ، متون او کتابونه شرح کول او دبحث میدان یی یوائی همداشی واوله همدی کبله دنوی پیړی فلاسفه عقیده لری چه فلسفه دمدرسینو په لاس ووژل شوه او اوسنی دنیاته دهغوی له فلسفی څخه بی له یوی مړی جثی نه بل شی نشو پاتی .

ښائی تاسی دلته پوښتنه وکړیء چه نو دسقراط ، افلاطون او ارسطو په وخت کښی چه دفلسفی دژوند وخت و فلسفه څه شی وه ؟ ددی پوښتنی ځواب دادی چه هلته فلسفه دژوند سره تړلی وه او همدا تړون وچه دفسلفی دبقا او دوام سبب شو .

په پورتنی جملی کښی زمونږ مراد له هغه ژوندانه څخه چه دفلسفی د بقا او دوام سبب گرزیدلی دی دانسان اجتماعی ژوند دی ، او داځکه چه دفلسفی دبحث مدار انسان و فلسفی غوښتل چه وپوهیږی یو انسان په کوم سلوك او تگ باندی په ژوندانه کښی یو فاضل سړی کیدای شی ؟ او یا په دولت کښی څنگه سلوك وکاندی چه یو فاضل شهری ورڅخه جوړ شی ؟

---

۱ــ ددی لپاره چه په منځنیو پیړیو کښی علمی او حکمتی بحثونه له یوه پلوه په هغو مدرسو پوری تړل شوی ووچه په دیر او کلیسا پوری یی اړه درلودله . او دنو موړو مدرسو تعلیمات دمسیح ددین دعلماو ترپا ملرنی لاندی و او مدرسو ته به ئی دلاتین په ژبه ( سکولا ) ویل ، له دی کبله دهغی دوری تول علوم او حکمتونه سکولاتـه منتسب شول او سکولاستیک نوم ورباندی کیښود شو . ( مترجم ) .

لنډه داچه دفلسفی وروستنی غـایه دهغه ( خیر ) پیدا کول وچه دعدل اوحق اوښایست څخه لاس ته راته فیلسوفانو له پخوازمانو څخه د خپلی اجتماع په ځیرنـی لاس پوری کړی واو پوهیدلی ووچه انسان دخیر اوشر ، دحسن اوقبحی یو مخلوط دی . دوی لیدلی ووچه ځینی انسانان مناسب کارونه اوځینی دیرمناسب کارونه کوی اوهمدا رازځینی ښه اوځینی دیر ښه کوی ، ځینی دصلاح لارنیسی اوځینی داصلح له همدی ځایه ددوی بحثونه اوخبری په حسن اواحسن په صالح او اصلح په فاضل اوافضل شروع شوی ، ددی لپاره چه احسن له حسن ،اصلح له صالح اوافضل له فاضل څخه ښه وونو فیلسوفانو داحسن ، اصلح اوافضل دمتابعت توصیه وکړله دفـلاسفه وو په عقیده هروخت چه نړمونړی صفات په یوی بشری تولنی کښی پیدا شوی وای هغه تولنه به فاضله ، متمدنه اویامثالی مجتمع وای چه دځینو فیلسوفانو په اصطلاح ( اوتوپیا ) بلله کیده .

مگر اوسنی پوښتنه داده چه دمعاصری تولنی رسول هغی لوړی اومثالی مجتمع ته څنگه امکان پیدا کولای شی ؟ آیا دا کار په نصیحت اولارښوونی کیږی ؟ دکتابو په مطالعی اولیکلو کیږی ؟اویا داچه دمنبر ودپـاسه په ختلو او وعظو ؟ اوآیا داسلوك به دهغه قوم دپـاره چه عاد تونو او تقلیدو په دوی کښی دطبائعو ځای نیولـی وی فائده ولری ؟

افلاطون پدی مسألـی باندی دیرژورفکر وکړ اودی نتیجی ته ورسید چه لیکل یوائی فائده نکوی ، دده په نظریه فلسفه باید له سره ونه لیکله شی . بلکه دتولنی دتغییر یوائنی لارد مروج نظام سره دځوانانو برابره روزنه ده اوهغه هم داسی روزنه چه له نفسانـی امیالوسره مطابقت او موافقت ولری ، افلاطون یوائی له همدی کبله « جمهوریت » ولیکه او په هغه کښی یـی دهلـکانو ددرس اوروزنـی په شاوخوا کښی خبری وکړی .

افلاطون وایـی چه هلـکان دځوانی تروخته پوری باید ژبه اواداب ولولی نوکله چه ځوانی ته ورسیدل موسیقی اوسپورت دی ورزده کړل شی ورسته دی بیاد مختلفو علوموپه تیره بیا دحساب اوهندسی دعلوموتحصیل وکړی . کله چه ځوان دخپل عمر دیرشم کال ته ورسیدل بیادی نو فلسفه ورباندی ولوستله شی وروسته له دی ځوان کفایت لری چه دښارحاکم وگرزی .

افلاطون په پورتنی اساس فلسفه اوتربیه یوشی بولی ، افلاطون دانظریه له خپل ستر ښوونکی سقراط څخه زده کړی وه - سقراط عادت لاره چه ځوانانوته به ئی دلوبو په میدان اوباغچو کښی درس ورکاوه اوله دی څخه دسقراط مطلب داوچه ددی ځوانانو نفسونه پاك کړی او داسی یو آزاد فکر په کښی وروزی چه په شرائعو ، قوانینو ، تقالید واوعاداتو باندی یو آزاد نظر ولری .

دسقراط ، افلاطون اوارسطو تعلیماتو خپل نتائج ورکړل دوی په دی درسو او فلسفو سره وکولای

شول چه دهغه وخت مدنیت یولوی گام پرمخ بوزی او دهغه وخت په تولنی کښی یـو محسوس تغییر راولی.

وروسته بیا عربی تمدن منځ ته راغی ، عربو دیونان فلسفو او علومو ته لاس واچاوه مگر عربو دیونانی فلسفو په اړخ کښی بله فلسفه هم لرله چه له اسلام څخه ئی منبع اخیستله او په قـرآن او سنت ولاړه وه، په دی اساس اسلامی تربیه ددین او علم یوه مجموعه او ددوو پورتنیو اصولو محصول ده.

له پورتنیو اصولو سره سم دمسلمانانو هلکان لومړی قرآن او په قرآن پوری تړلی علوم لکه نحو، لغت او ادب زده کوی او بیا دضروری معاملو دپوهیدلو دپاره یو څه حساب لولی او وروسته له دی چه مکتب او مدرسی ته ځی هلته ځینی عالی علوم لکه هندسه، فلکیات، طب او شرعی علوم لولی.

داسلامی تمدن پیژندنه بی داسلامی تربیی له پیژندلو امکان نلری او همدا راز داسـلامی تربیی پیژندل بی دهغی فلسفی له پیژندلو څخه چه داتربیه ئی منځ ته راوستی ده ممکنه نه ده مونږ نن په داسی یوی انقلابی دوری کښی ژوند کوو چه دیوی نوی فلسفی محصول ده داهغه فلسفه ده چه جمال عبدالناصر په خپل (انقلاب فلسفه) نـومی کـتاب کـښی دیـره ښـه تصویر کړی وائی چه دی فلسفی په پخوانیو او نویو قیمتونو کښی تغییر راوستی دی جمال ناصر وائی دافلسفه یوه داسی محاوله ده چه تقلیدونه له شوائبو او شکونو څخه تصفیه کوی او هـغه تقلیدونه ساتی چه ښیـگنی او محاسن لری او له بل لوری دافلسفه له نوی مدنیت څخه دهغو شیانو اخیستنه ده چه زمونږ له طبیعت سره جوړښت ولری.

دایوه مترقی فلسفه ده چه دتقالیدو جمودنه منی بلکه کوښښ کوی چه دمعاصری نـړی له پرمخ تـگ او گړندی انقلاب سره په تولو علومو، صنائعو او فنونو کښی ملـگرتیاو کړی.

او همدا اصل دی چه انقلابی حکومت دځمکی په ویشلو او اشتراکی نظام راوستلو او ددولت په نظام کښی دتغییر پیښولو په حقله په هغه باندی اعتماد کړی دی.

که چیری دانوی فلسفه مترقی وی نو هر ومرو به دموفقیت په لوری درومی او ملت به هغی ته مثبت ځـواب ورکوی او داځکه چه دافلسفه په تربیوی نظام کښی دهلکانو او ځوانانو لـه روح سره مطابقت لری. نو داخبره څه اریوالی نلری چه و وایو فلسفه له روزنی څخه بیله شی او بشری طبایع او خویونه ونشی کولای چه هغه ومنی نو فلسفه به بیا یو اځی څو تش لفظونه او د کاغذ پرمخ بو څو بی معنی کرښی وی، لنډه یی داچه دابه بیا هغسی فلسفه وی چه له پخوانیو څخه او سنیو ته پاتی شوی او اوس له ارزښت لویدلی ده.

او بی له دی چه په کتابخانو او موزیمو کښې وساتله شی بله فائده نلری.

له دی بی قیمته فلسفو څخه چه شرق له خپلو پخوانیو مدنیتو څخه په میراث راوړی دی یو تصوف دی دصوفیانو لاری او طریقی ته تصوف وائی تصوف دپخوانیو زمانو سره یو مناسب او جوړشی و مگر وروروددرویشی او ملنگی په بڼه واوښت او وروسته بیا دعربی ملت دپاره دفساد مصدر او دعلمی پرمخ تگونو مانع شو.

په دی کښې تعجب نشته چه یوه دله خلک شته چه له دی سلوك څخه دمعیشت دتامین دپاره استفاده وکړی مگر داد تعجب وړدی چه یوه دله متفکرین لا اوس هم پدی باندی ایمان لری.

دافلسفه اوس داسی یوشی ده چه هیڅ وخت دهغی انقلابی فلسفی له روح سره جوړښت نلری کوم چه اوس دکارناری وهی او په نتائجو اعتماد کوی»

پخوانی پیړی چه دتقلیدی فلسفو په اساس روزل شوی دی داوسنی اتومی او علمی پیړی له روح سره مطابقت او جوړښت نلری، داوسنی پیړی روزنه چه دکچنیوالی له وخته شروع کیږی خلک دایمان، علم . بحث او عمل لوری، ته بیایی داروزنه پـه دوودیرو مهموعناصرو (موسیقی او رسم) باندی ولاړه ده او دعصر دایجاباتو سره غواړی چه حرکت وکړی.

(پای)

لیکونکی : نینا نیکولایوا
مترجم : ښاغلی محمد حسن «ساپی»

# لیو تولستوی

دلیو تولستوی لیکنی دبشر دهنری انکشاف په لوری یو ښکاره او مشخص قدم گڼل کیږی ما گزیم گورکی دده دنبوغ په باره کښی وایی : دده نبوغ دنیا حیرانه کړه او دتولی اروپا توجه ئی دروسی خواته واړوله دتولستوی ادبی آثار دلنین له خواهم دیر ستایل شوی او دستاینی په منظور خو مقالی هم پری لیکلی دی لیو تولستوی د۱۸۲۸م کال دسپتامبر په نهمه «یاسنا یا پولیانا» نومی ځای کښی چه هلته دده دپلار کونت نیکولای تولستوی مینه ده زیږیدلی دی ده پخپل کور کښی دمتد اوله پوهنوزده کړه کوله تر څو چه په ۱۸٤٤ کال دکازان په پوهنتون کښی داخل شو. خو هغه څه چه پوهنتون ده ته ورزده کول دی ئی قانع نشو کړای اوبی لدی چه خپله شهادتنامه په لاس راوړی، له پوهنتون څخه ووت اوبیرته خپل تاتوبی یاسنایا پولیانا ته ورستون شو او پدغه ځای کښی دبزگرانو دژوندانه دانکشاف ورکولو په لارکښی په فداکاری او آزاده مطالعه لگیاشو تولستوی د۱۸۵۱ کال دمی په میاشت کښی دقفقاز عسکری خدمت ته داوطلب، او هلته د۱۸٥٤ کال پوری پاته شو.

ده د۱۸٥٤ کال نه تر ۱۸٥٥ کال پوری دسواستوپول په جگړه کښی برخه واخیسته په قفقاز او سواستوپول کښی ئی خپلی لومړی قصی ولیکلی چه دغه قصی د ۱۸٥۲ او ۱۸٥٥ کالو ترمنځ د(سوری مینیک» دمجلی په پانو کښی ښکاره شولی.

په دغو لیکنو کښی د« کوچنیتوب »او «هلکتوب» په نامه خوازه ناولونه اولند نکلونه لکه ناڅاپه داره ،او د«ونو پریکول » او د (سواستوپول حکایتونه )موجودوو. دتولستوی لومړنی ادبیانه کوششونه دچرنی شیوسکی دروسیی دنومیالی متفکر او منقدله خوا په دیر ښه صورت سره ستایل شویدی.

دی وائی : تولستوی د موضوعاتو په صحیح افاده کولو او پوهولو کښی دیره ژوره پوهه درلوده او ددیالستیک په ترسیمولو او تشریح ورکولو کښی حیرانوونکی لیاقت درلود دتولستوی هنری امتیازلا دمخه دده په ادبی آثارو کښی په دیر قوت منعکس شوی و ، او دده تول ذهنی فعالیتونه اوپرله پسی کوښښونه دی ته متوجه وو چه دژوند په حقیقی معنی او غایه وپوهیږی.

دتولستوی ادبی لیکنی همیشه په روسی کښی ددیموکراسی دنهضت په لوری او په هغه عصر کښی دیو مترقی ادبیاتو دانکشاف خواته متوجه وی.

دهغی تینگی او نـژدی رابطی په ترڅ کښی چه تولستوی په قفقاز او سواستو پول کښی له روسی عسکر وسره درلوده دده جهان بینی دیره پراخه او هیله یی ددنیا دوگـړو دقوت او انکشاف دپاره زیاته قوی شوه .

دروسیانو داخلاقو سپیڅلتیا زړه ورتـوب او ثبات او په ځان ویسا تولستوی ځانته سخت جذب کړی و .

او دی پدی پوهیده چه دوگړو دغه صفتونه دسواستو پـول دمدافعی دپاره یوستر قهرمان او یونه ماتیدونکی قوت گڼل کیږی .

تـولستوی پـه ۱۸۶۳ کـال کښی د « جنگ او سولی » په نامه دیولړ خوند ورورزمیه اشعارو په لیکنه پیل وکړ ، او وروسته له شپږ وکـالو یعنی په ۱۸۶۹ کـال کښی دغه اثـر چه د ۱۸۱۲ کـال دجگړی حکایت کوی بشپړ شو .

دی وایـی : « مازیار وکیښ یـوازی ددی دپاره چه دوگړو یو تاریخ ولیکم . »

ده د « جنگ او سولی » په ناول کښی لیـکلی دی چه ددی ناول قهرمانان وگړی دی او بس .

د ۱۸۱۲ کـال جگړی دا سوال حـل کـړ چه آیا روسیه به ولویږی او که به ودریږی ؟

دناپلیون یرغلونو دوگړو دوطن پرستی احساسات وپارول او دماسکو ددښمن مخی ته په دیر شدت او قوت سره ودریدل .

دوگړو سره رابطه او صمیمیت یو لوی اخلاقی قوت وچه د تولستوی په ناول کښی ئی دلیدری کرکتر اصلاح کړ .

دتولستوی دذوق او استعداد تولی نښی ، لـه حادثاتو سره د هغه طرز العمل هغه هم د رزمی شعر په قالب کښی دهغه تحلیلی روحیات او دطبیعت په مقابل کښی دهغه قابل ملاحظه او استثنائی احساس داتول دده په « جنگ او سوله » نومی ناول کښی په ښکاره دول سره منعکس شوی دی .

( اناکاری نینا ) چه حقیقتاً مونږ ورته د ۱۹ پیری په او یا کالو کښی دروسانو دژوندانه یـو دائرة المعارف ویلای شو . د ۱۸۷۳ او ۱۸۷۷ کالو ترمنځ لیکلی شویدی .

دغه ناول دیری مسئلی تر بحث لاندی نیولی دی مثلاً فامیلی مناسبات او تعلقات ، په ۱۸۶۱ کال کښی دغلامی له نړیدونه وروسته د خانانو او دهقانانو ژوند ، سائنس ، فلسفه هنر او داسی نور

دتولستوی په « محشر » نومی ناول کښی دده دجهان بینی په اثر دیر متناقض عناصر په دیر شدت او قوت سره ښکاره شویـدی ( ۱۸۹۹-۱۸۸۹ ) تولستوی خپل دژوندانه وروستی کالونه په خپل تاتوبی یا سنایا پولیانا کښی تیر کړل او پدغه ترڅ کښی دڅه مودی دپاره ماسکو ته هم تللی و .

ده په آخر عمر کښی هم خپل ادبی لیکنی نه دی بس کړی او وزگار نه دی ناست . او په دیر جدیت او صمیمیت او حقیقی طور سره یی له مبهماتو څخه نقاب لیری کړ او دروسانو دژوندانه دتجدید او اصلاح دپاره یی دضرورت وړ تبلیغ لکه دپخوا په شان په دیر جوش او خروش کاوه .

د ( ۱۹۱۰ ) کال دنوامبر دلسمی په سهار تولستوی یاسنایا پولیانا دهمیشه دپاره پریښود او تری ولاړ . [ ٭ ]

# دشوروی ننني جامعه

زمونږ زیاتره لوستونکی به په دې خبروی چه له پښتو تولنې څخه یو هیئت اتحاد شوروی ته بلل شوی و، دا هیئت چه زه هم پکښې وم یوه میاشت دشوروی په ملك کښې تیره کړه، لومړی دتاشکند دجمهوریت له خوا کولتوری میلمانه وو، وروسته بیا دآسیا او افریقی هیواد ودلیکوالو په جرګې کښې موګډون وکړ، دجرګې له ختم نه وروسته ستالین آباد ته لاړو، هلته درودکی په ۱۱۰۰ کالیزې کښې موګډون وکړ له هغه وروسته دمسکو په خوا روان شو په دې دول موږ په پورته ښارونو او هم دارازپه ثمرقند کښې دشوروی تاریخی، علمی، صناعتی زراعتی او کلتوری موسسې ولیدلې او له شوروی وګړو، لیکوالو، پوهانو، کارګرو، بزګرانو، حکومتی لوړو مامورانو، کوچنیانو، مغازه دارانو او ښوونکو، زده کوونکو، نوی نسل او زاړه نسل او هم دارازدآسیا او افریقی هیواد وله لیکوالو او پوهانو سره موولیدل، ورسره په زیاتو موضوعاتو وګړیدو ددوی له حال احوال، طرز تفکر او جهان بینی څخه موځان خبر کړو او مونږ هم په زیاتو موضوعاتو باندې وغږیدو او په دیروتولنو، میلمستیاو او نورو ځایو کښې مو خبرې وکړې. په دې دول یو تربله اشنایان شو، او پدې نوی اشنائی کښې دیوه بل دژوندانه په طرز عادت، او رسم ورواج او نورو خصوصیاتو مستقیماً پوه شو، دتاشکند دجرګې په باب کښې په بیل دول څه لیکم دلته یوازې دشوروی ننني جامعې په باره کښې غواړم څه ولیکم، خپل پخوانی مطالعات او نوی مشاهدات دواړه یو ځایږم او کوښښ کوم چه دشوروی دجامعې بیلې بیلې خواوی وڅیړم او په نتیجه کښې دا جامعه ترسیم کړم او ګرانو لوستونکو ته یې وړاندې کړم لدې کبله دهغو پرنسیبونو کلیاتو او اساساتو خبرې کول او څه لیکل غواړم چه دشوروی جامعه پرې ولاړه ده، له تفصیلاتو، جزئیاتو، او دسفر له خط سیر او

[*] داورګادی په دریم واګون کښې دنمونیا په ناروغی لتاړاو په استاپوف کښې داورګادی دستیشن دمشر په کور کښې دنوامبر دمیاشتې په (۲۰) مړشو...

تولستوی ددنیا دادبیاتو په دګر کښې دیرستر او قوی اثار منځ ته راوړی دی.

دغه اثار دبشر دهنری انکشاف په لارکښې یو کامل تاریخی عصر ګڼل کیږی.

دتولستوی اثار په (۹۰) جلاجلا توکونو کښې څای شوی او دشوروی داکادیمی دمطبعی له خوا چاپ شوی دی.

وروستنی توك ئې سږ کال له چاپ څخه راووت دشوروی خلك په تولستوی باندې دیرزیات ویاړی ځکه چه دده اثار یوه درنه پانګه او سرمایه ده دهغو دپاره چه په شوروی اتحاد کښې اوسیږی.

نورو څخه دلته ځان ژغورم او دمجلې له سوئې سره برابرې خبرې کوم ، ځکه چه پدې دول دانوی جامعه نوی سیستم په ښه دول پیژندل کیدای شي . پیژندنه او معرفت دداسې جامعې ، داسې وګرو او داسې هیواد چه له یوې خوا ۱۲۰۰ کیلومتره له مونږ سره ګډ سرحد لري او له بلې خوا دنړې په ستر و هیوادو کښې حسابیږي او نوی نظام او نوی سیستم پـکښې چلیږي خصوصاً پښتنې لیـکوالو او ځوانانو لپاره لازمي دي.

هغسې چه په یوې کړنې کښې دفامیل دغړو او په شخصي دول دفامیل دمشرانو او کشرانو ژوندیو دبل متمم دي همدارازپه ننني نړۍ کښې لوی او واړه هیوادونه همدا حال لري یو هیواد که هرڅومره ستر او لوی وي نشي کولی چه له نورو هیوادو نو څخه بې نیازه شي ، همدارازواړه هیوادونه هم په دیرو مواردو کښې لویو هیوادونو ته اړدي او نشي کولی ځانله ژوندوکړي، او له نورو هیوادونو څخه مستغنی وګرزي. همدغه دوجانبه او متقابله ارتباط او احتیاج لازموی چه یو بل ښه وپیژني ، ترڅو چه په ذات البیني معاملو کښې یو دبل ښه مرستیال وي او هر یو خپل شخصیت وساتي او په عین حال کښې یو دبل دوست او انډیوال وګرزي ، ځکه هره هغه دوستي چه په معرفت ولاړه وي دواړو خوا وته ګټوره وي پدې صورت کښې یو دبـل په نزاکـت او خصوصیت ښه پـوهیږي او په نتیجه کښې لازمي او باخبره رفتار سره کوي. برسیره پردې دعصر نبض داوائي چه هیوادونو ترمنځ دي متقابل معرفت عمومي وي او دیـوی جامعې تول هغه کسان چه په داسې ارتباطاتـو پوهیدل غواړي باید پوه او مطلع شي. پدې برخې کښې یعنې دولسونو دمتقابل معرفـت په باب کـښې لیـکوال زیات مسئولیتونه لري ، اوور باندې فرض ده چه آفاقي لیکنې وکړي او یوه جامعه څرنګه چه وي همغسې ترسیم کړي او له ځانه پـکښې شیان ورګډ او یا ځینې شیان ترې کټ نه کړي دپورته مقصد یعنې دافغان او شـوروی ولسونو دمتقابل معرفت دپاره زه کوښښ کوم چه په دې مقالې کښې دشوروی جامعې په باره کښې آفاقي لیکنه وکړم او پدې لیکنې کښې ددې نوی جامعې څرنګوالی وښیم او په دې دول دخپل ولس دپاره خدمت وکړم نـو دادې دجغرافیوی ، تاریخي ، سیاسي ، حزبي ، اقتصادي زراعتي ، عرفاني عنوانونو لاندې دامقاله او زدوم او په پای کښې ددې نوی سیستم اغیزه په شوروی انو باندې بیانوم.

## جغرافیوی وضع :

شوروی خاوره دمځکې دسر شپږمه برخه نیسي داخاوره دارو پاپه نیمائي ختیځې اود آسیا په مرکزي او شمالي خواو کښې پرته ده نو ځکه شوروی هم آسیائي او هم اروپائي هیواد باله شي داخاوره په میل ( ٤و٨ )ملیونه مربع او په کیلومتر مربع (٨و٢١) ملیونه ده. (٩و١) ملیونه مربع

په اروپا اونوره په آسیا کښې پرته ده نوځکه دموقعیت له مخې ویلی شوچه اتحاد شوروی زیاتره یو آسیائی هیوادددی دامریکی دمتحده هیوادو نوخاوره دری واره اوبرتانیه ، فرانسه ایتالیه اوهسپانیه که تول سره یوځای شی نوخوارلس ځله تری کوچنی ده ، سیندونه دندونه اوبحیری پریمانه اری ،خوغرونه پکښې نسبتاً لږ دی .یوازی دیورال ،قفقاز ، اوپامیر غرونه یی دیادونې وړدی ، خو سره لدی هم دلوړی اوژوری فرق یی زیات او څه کم (۹۰۰۰) متره دی دری بحرونه یی له ساحلی خاوری سره مستی کوی دادری واره قطبی اتلانتیک اوپاسیفیک نومیږی چه دیرش زره میله ساحلی خاوره مینځی ددی خاوری ځینی متقابلی څوندی دومره سره لیری دی چه که په یوه ځای کښې دسباون رنا خپریږی په بل ځای کښې دماښام تیاره څپری وهی . دومره ارته او پراخه خاوره به ارومروهر راز اقلیمونه لری لهدی کبله له استوائی اقلیم نه غیر نور تول اقلیمونه پدی خاوری کښې موجود دی داقلیم دتنوع او زیات اختلاف له کبله دی چه هر راز حیوانات اوهر راز نباتات پکښې میندل کیږی برسیره پردی دامځکه دمعدنی پیداوار له مخې په عمومی صورت په تولهنړی کښې لومړی مقام نیسی.

## نفوس ، ملیتونه اوژبی :

اتحاد شوروی (۲۰۰) ملیونه وګړی لری لدی کبله دوګړو په لحاظ په تولی نړی کښې ور وسته له چین او هند څخه دریم دی سره لدی هم کوښښ روان دی چه نفوس یی زیات شی اوخرنګه چه شوروی ارته اوپراخه خاوره لری اوبرسیره پردی دپیدا وار له مخې غنی او شتمن دی ، نو دزیات نفوس ګنجایش لری نفوس ئی مخ په زیاتیدودی اوپه څلوروکلونوکښې له ۱۹۵۱ څخه تر ۵۵ پوری ۱۶ ملیونه پکښې زیاتی راغلی دی په پخواوختوکښې نفوس دیرنا منظم ویشل شوی وواوپه تیره بیاسایبریااو نوروختیځوعلاقوته څوك نه تلل اوهلته نه اوسیدل مګر اوس نفوس ورووروخپریږی او په هرځای کښې دنووښاروپه آبادولوسره نفوس هم کوچ. کوی او هری خوامیشته کیږی . په دی برخی کښې دوړلواوراوړلووسایل لکه ریلونه اونور اوپه تیره بیادسایبریا ریلوای زښت زیات کومک کوی. ملیتونه اومختلفی ژبی په دی ارتی خاوری کښې زښتی زیاتی دی یوازی روسانسل میلونوته رسیږی ، قفقازیان چه په یوی غرنی علاقی کښې اوسیږی ، دملیت له مخې متعدد دی دمثال په توګه په داغستان کښې یوازی شل بیل ملیتونه ژوند کوی له دوه سوو ژبو څخه زیاتی په شوروی کښې شته اوس تولی لیکلی شوی دی مګر رومبی دارازنه وی یعنی الفبا لاندی نه وی راغلی یوازی پهدی وروستیو کلو نوکښې څلوینښت ژبی دالفبا څښتنی شوی او کتابت لاندی راغلی دی ترسلوزیاتی ژبی په ښوونځیوکښې تدریسیږی مګر روسی

ژبه اوس عمومی ده. اوپه هر ثانوی ښوونځیو کښی ویله کیږی یعنی هرڅوك چه په شوروی کښی تحصیل کوی له خپلی ملی ژبی نه غیر باید روسی هم پوه شی په واقع کښی روسی اوس یوه عمومی او مشترکه ژبه ده دهر ملیت کو لتورته خاصه توجه کیږی ژبه یی، عنعنه یی او نور خصو صیتونه یی ساتل کیږی. مگر کولتور دسوشلزم په چوکاټ کښی دننه په ملی رنگ او شکل سره انکشاف کوی.

## تاریخی سابقه :

دنولسمی پیړی په زیاتر واروپائی هیواد ونو کښی لبرالزم (د آزادی خواهی) اوکاپیتلزم (سرمایه داری) کوښښ کاوه چه خپلی ریښی وغزوی او تینگی ئی کړی. سره لدی هم روسیه بیرته پاتی وه او سیاسی او اقتصادی حال یی تر نورو بیرته و. یو روکراسی پکښی قوت لاره، مگر مخرب، ناوړه او بیکاره وه. سره له خپلی بی کفایتی یی لویو کاروته ملا وتړله او دیته ئی شروع وکړه چه ترسلوزیات مختلف ملیتونه سره یو کړی او روسی رنگ ورکړی. دروسی کولو سیاست په زور او قوت عملی کیده خو ددی سیاست نتیجه داشوه چه وحدت په ځای تشتت راشی او لږه کی ناراضه شی. اوکینه او حسد پکښی زیادت وکړی.

د ملکی کاترینی اولوی پیترله کوښښونو سره بیاهم په روسیی کښی صنعتی پرمختگ زیات نه وهیواد تول زراعتی حال لاره په ۱۹۰۰ کښی روسی بزگران په سلو کښی اتیاوو. دمځکو زیاتره برخه داشرافو ملکیت وی، که څه هم سرف دم یانیمه غلامی یاد مځکو غلا می په رسمی دول منع شوی وه، خو بزگرانو بدحال لاره په لیک اولوست نه پوهیدل. ظلمونه پری جاری وو. او تراوږو پوری په پور کښی دوب و وسره لدی هم له لویدیځی اروپا څخه مترقی افکار ودی هیواد ته لاره پیدا کړه. همدغه سبب وچه دمشروطه خواهی او قانونی حکومت آواز ونه جگ شول. دا آوازونه ورځ په ورځ درانده شول او قوت یی پیدا کړ هغه وخت چه حکومت دی دروند ولسی اوازونو ته زوروښو داوخلک یی پراره او تبعید کړل مبارزو خپل شکل ته تغیرورکړ وژل اوترورشروع شول په ۱۸۹۶ کښی معتدل گوند اجتماعی دموکراتیکی کارگری په نامه او په (۱۹۰۱) کښی انقلابی گوند داجتماعی پارتی په نامه جوړ شول په ۱۹۰۳ کښی ړومبنی گوند خپل دوهم کانگرس پرانیست په دی کانگرس کښی حزب دوه ځایه شو، دیوه نوم بلشویک (دیره کی) او دبل نوم منشویک (لږه کی) شو. منشویکانو معتدل پروگرام غوره کړاو یوازی دسیاسی مقاصد وپه لوررهی شول یعنی دائی خپل سیاست وگرزاوه چه یو قانونی ولسی رژیم په معتدل صورت دموجوده رژیم په ځای ودروی او خپله دیوی اصلاحی پارتی

په شان وظیفه اجـرا کـړی. خـوبو لشویـکان دلینن په مشرتا به لدی هم وړاندی لاړل. دوی داپروگـرام غوره کـړچه د زوراوقوت او عمومـی قیام له لاری سیاسـی قـدرت تـه ورسیږی او د بـزگـرو او کـارگـرو د کـتاتوری جوړه کـړی او په دی وسیله تول ضد انقلابی اعمال شند کـړی او داسی سوشلستی پروگرام عملی کړی چه دهغه لـه مخی تولی مځـکی او کارخانی یاپه پراخ مفهوم سره دثروت تولیدی وسایل اجتماعی وگـرزوی، په ۱۹۰٤ کښی له جاپان سره دروسیی جنگ ونښت دی شخړی د ملـک حال لا هم کړ کیچن او دافراطی دلو مـوقف یـی تینگ کړ دوخت رژیـم په قتل عام لاس پوری کړ او امریـی وکړچه یو نیم زرعریضه والاو باندی اوربل وکړی داپینبه په پیتروگراد یانی لیننگراد کښی وشوه اوآرام خلـک یـی وپارول دوهم نیکولای لږ څه ودارشو اوولس ته یـی ددومایعنی انتخابی شوراوعـده ورکړه او دایی هم ومنله چه خلـکو ته سیاسی او مدنـی حقوق ورکړی. خوبیا هم تـکیه په زوراوقوت شوه او وعدی نیمگړی ترسره شوی. نارامی اوبحران دوام پیدا کړ اوهـری خواته ئـی ریښی وغزولی په همدی وخت کښی وچه بولشویکانو دلومړی ځل دپاره شوراگـانـی وایستلـی او هغه یـی د کارگرو، بزگرو اولښکرو لهخواوتاکلی، دبحران پـه شدید حال کښی دلومړی جهانی جنگ لمبی پورته شوی (۱۹۱٤). حکومت په جنگ کښی داخل شو. زیاتره وگړویـی ملاتړی وکړه، داخوځکه چه وگړی له یوی خوابیریـدل چه جرمنیان یـی ونه نیسی اوله بلی خواگوندی که د جنگ اه کلیه دننه په هیواد کښی اصلاحات وشـی. دبولشویک د گـوند زیاتره مشران پـه دی عقیدی ووچه دروسیی ماتی به دتحول دپاره موقع برابره کړی.

جنگ دروسیی دپاره زیان ورساوه، دبری او فتح پهځای بـی اعتمادی اوویره راولاره شوه، مخرب حکومت او نظامـی مشرانو پـه بند لاس پـوری کړ. دیر خلـک بی ونیول اوجیلو نوکښی یـی واچول. داخلـی حال لاهم خراب شو، قحطی او قیمتی زیاته شـوه او دملـک اقتصادیات لاهم پسی خراب شول د. ۱۹۱۷ کال دفروری په شلمه دپتروگـراد په ښارکښی عمومی اعتصاب شروع شو، دولتی کارخانی اوفابریکی ودریدلی. لښکریان ددی په ځای چه دآمرانو امرونه په ځای کړی او په اعتصاب کوونکو دزی وکـړی لـه هغوی سره یوشول. بولشویکی شوراگـانی دعمل میدان ته راووتلـی او دیوه لوی قیام دپاره یـی خلـک راوینښ کړل. دمارچ په ۱٦ تزار نیکولای پاچایـی نه لاس واخیست او په دی دول درامانوف کورنی خاتمه وموندہ. یو موقتی حکومت منځ ته راغـی او معتدل جمهوری خواهان یـی مشران شـول، خوځرنگه چه دوی دانقلاب بنا په اصل کښی نه وه اینبی نوځکه یـی ونشوای کړای چه سیریـی وتاکی له هغه وروسته دکرنسکی

(چه اوس هم دیوه امریکا یی له خولی په امریکی کښی دی) مشرتابه سوشلستی حکومت جوړ کړ نوی حکومت هم جنګ ته دوام ورکړ. ددی سیاست په مقابل کښی بولشویکان راولاړ شول او دامی ناری اوشعارونه یی واورول چه دجنګ نه ستومان ملت په زړه کښی یی کاری اثر وکړ.

«سوله، مځکه، اودودی» ددوی شعار شول. ددی دپاره یی دالاروښوو له چه باید تول واك او قدرت شوراګانو ته وسپارل شی دنومبر په اوومه چه دزړی جنتری له مخی د اکتوبر انقلاب یادیږی دکرنسکی حکومت سقوط وکړ او په ځای یی بولشویکان راغلل په دی دول دشوروی حکومت دلینن ترمشرتا به لاندی جوړ شو. دنوی کال دجنوری په سرکښی نوی شوروی حکومت له جرمنیانو سره روغه وکړه او د(برست لتوسک) مشهوره سوله یی ورسره لاس لیک کړه څلور میاشتی وروسته دجولای په لسمه دلومړی ځل دپاره دشوروی حکومت اساسی قانون میدان ته راووت. ددی قانون له مخی د زمیندارانو او ملاکانو مځکی ضبطی شوی او دملت مال وګڼل شوی او پدی دول دخوارو او پورو ړوبزګرو په مینځ کښی وویشل شوی، همدارنګه طبیعی منابع بانکونه او مالی دارائی اوشتمنی تولی دتول ولس مال وګڼل شوی.

ددی قانون په مطابق دارائی حق عمومی شو، خوکارفرمایان، سوداګران، روحانیان او ملاکان تری محروم شول. سره لدی هم له ۱۹۱۸ څخه تر ۱۹۲۱ پوری دنوی رژیم دپاره داحتیاط ورځی اوشپی وی. داخلی جنګونه دهیواد زړه توتی توتی کړ. دمتحدینو وسله والو لښکرو دنوی رژیم په هیوادکښی دننه دخالت وکړ او برسیره پردی داخلی ناراضه عناصرئی دنوی رژیم په مقابل کښی ولمسول. په دی دول دسرمایه داری هیوادوله خوا دشوروی نوی جوړ شوی نظام له اقتصادی بلوکاد سره مخامخ شو سره له تولو مشکلاتو بیاهم سرو لښکرو میدان وګاته او دجنګ په دیرشو محاذونو کښی ئی داخلی اغتشاشونه کرار کړل او خارجی تیری کونکو متحدو لښکرو ته ئی ښه سبق ورکړ په ۱۹۲٤ کښی لینن مړ شو. ستالین دکمونست ګوند مشر په حیث په واك راغی خو دده واکمن کیدل وروسته له هغو شخړو څخه ووچه ستالین له سرسخت او نه تسلیم کیدونکی تراتسکی سره وکړه ددوی ترمنځ اختلاف دیر عمیق و، تراتسکی په جهانی دایمی انقلاب معتقد واودائی نظریه وه چه باید کارګر او کمونستی ګوندونه په هرهیواد او هرملک کښی چه وی تقویه شی او ورسره مرسته وشی چه دوخت رژیمونه ونړوی او دزور له لیاری واك او اختیار خپل کړی؟. دده په عقیده په دی دول به سوشلزم عمومی شی او توله دنیا به ونیسی مګر ستالین ددی په خلاف داوویل چه دیوه ښه سوشلزم تعمیل به دننه دشوروی په خاوری کښی نور هیوادونه دیته را وګماری چه سوشلزم غوره کړی.

د اختلاف نتیجه دا شوه چه تراتسکی له تبعیدنه وروسته له شوروی څخه وشړل شو خو څرنګه چه دی سخت انقلابی او دجهانی دایمی انقلاب دپاره ئی دخلورم بین المللی موسسه جوړه کړی وه هیڅ هیواد به خپل ملک کښی نه پریښود ترڅو چه مکسیکو ومانه ، خو هلته په ۱۹٤۰ کښی ووژل شو دزراعتی او صنعتی چارو دپرمختګ دپاره په شوروی کښی پنځه کلن پلانونه جوړ شول، لومړی پلان په ۱۹۲۷ کښی شروع شو. داپلان چه دنپ (نوی اقتصادی پالیسی) نه وروسته جوړ شوی و ددی مقصد دپاره و چه دهیواد زراعت او صنعت دسوشلایزی یعنی اجتماعی کولو دپاره تیار او اماده وګرزوی ، دهمدی پلان دموفقانه تعمیل نه وروسته ددوم پلان په دوره کښی وچه دلومړی ځل دپاره دسوشلستی په اساساتو سره برابر په ۱۹۳٦ کښی نوی اساسی قانون میدان ته راووت. پدی قانون کښی رومبی تبعیضات اومحدودیتونه تول رفع او تشکیلات نوی شول د سوشلستی کولو دریم پلان په موده کښی دنړی ددوهم جنګ اوربل شو (۱۹۳۹) د جنګ په سرکښی شوروی له جرمنی سره ددوستی تړون وکړ. داتړون دشوروی دپاره دیره ګټه ورسوله ، ځکه چه په شرقی اروپا کښی ئی شپږ ملیونه وګړی ددوی له ملک سره لاندی کړل . خو په ۱۹٤۱ کښی جرمنیانو دتړون نه سترګی پټی کړی او په شوروی ئی ودانګل په پنځو لومړنیو میاشتو کښی بری ددوی و او نژدی ۸۸ ملیونه شورویان ئی لاندی کړل مګر په آخره کښی ئی په ستالین ګراد کښی دماتی سخته څپیره وخوړه چه په نتیجه کښی ئی برلین هم له لاسه ورکړ او ملک ئی څلورتوتی شو. د جنګ له کبله د شورویانو پروژی پلانونه ، بیرته وغورځیدل او برسیره پردی نژدی پنځلس ملیونه شورویان هم پکښی مړه شول ، ابتکاری پروژی اوعمرانی پلانونه له هغه وروسته بیا په شوروی کښی شروع شول په ۱۹۵۳ کښی بله پیښه وشوه چه هغه دستالین مړینه وه . ستالین په دیر شوکلو نو کښی په شوروی کښی بیجوړی لیدرو. له مړینی څخه ئی وروسته لومړی مالنکوف او وروسته پسی بولګانین دحکومت مشران شول ، خودی دواړو دوام ونکړ او په ځای ئی خروشچف راغی چه هم دحکومت او هم دګوند مشر شو.

## دولتی تشکیلات :

کال ۱۹۱۷ داتحاد شوروی دجامعی دپاره خط فاصل ګڼل کیږی ، چه دوه بیلی جامعی چه داساس له مخی سره بالکل توپیری لری ، بیا لدی کال نه راپه دی خواشوروی انو له پخوانی رژیم ، او رومبی کلچر سره مخه ښه وکړه . نوځکه له هغه وروسته ددوی کوښښ په دی کښی شو چه جامعه له سره جوړ کړی او بیل نظام او جلا مناسبات ورته وتاکی ددی کار یعنی دجامعی دبیاتنظیمولو او جوړولو دپاره نوی اساسی تشکیلات لازمی شول. څرنګه چه جامعه نوی شوه یعنی نوی اساس ورته وتاکل شو ، نو اساسی تشکیلات ئی هم غیر له هغو څخه شول

چه په خواپکښې موجود وو او یا په غربي نړۍ او نورو هیوادونو کښې معمول وو په دې دول ئې په ۱۹۱۸ او ۱۹۲٤ کښې نوي قوانین راووتل خو دواړه جامع او مکمل نه وو او حتی په لومړنی قانون کښې دافرادو دحقوقو یا دونه هم نه وه شوي په دې سندونو کښې دیر سهم او قوي تکي داشول چه مځکې، کارخانې، او نور تول هغه آلات چه دهغو په مرستې ثروت پیدا کیده له شخصي افرادو، سرمایه دارانو، ملاکانو، خانانو، روحانیانو، او نورو څخه ضبط شي او ددولت مال وګڼل شي. همدا راز پورته کسان او دتزاریانو پاتې شونکي له ړومبیو امتیازاتو او دارائي ورکولو له حقوقو څخه محروم کړل شول. خو څرنګه چه دشوروي جامعه دیو نوي دسرمایه داري له جامعې له ګیډې څخه راوتې وه په دې بریالي نه شوه چه سمدلاسه سوشلزم عملي کړي او سوشلستي مناسبات او قوانین په دایمي دول سره میدان ته راوباسي نو ځکه نپ (نوي اقتصادي سیاست) راووت چه دهغه په اساس کاپیتلزم او سوشلزم په غلبې سره په ۱۹۳٦ کښې نوي لیکلي شوي اساسي قانون جوړ او ومنل شو. داقانون چه زیاتره دستالین په نامه یادیږي پر سوشلزم بنادي نو ځکه دنړۍ هغه لومړي قانون باله شي چه د سوشلستي جامعې دپاره یې نظام او تشکیل وربرابر کړي دي. داقانون پوره په هغه وخت کښې جوړ شو چه په شوروي کښې دزړو طبقاتو افراد یا سرمایه داران، ملاکان تجاران، او داسې نور بې بیخ او بنیاده شوي وو او په ځای یې دوه طبقې خلک - کارګران او بزګران قوي شوي او دسوشلزم پر لارې رهي کړل شوي وو خو دمارکسستي اصول له مخې څرنګه چه سوشلزم دسرمایه داري او کمونزم ترمنځ یوه انتقالي موقتي مرحله ګڼل شوي ده، نو ځکه په زغرده ویلي شو چه داقانون هم موقتي دي او کله که اوسني جامعه خپل رنګ او څیره بدلوي او بله بڼه او شکل دځان دپاره غوره کوي نو داقانون به هم کډه کوي او ځای به خالي پریږدي. په هر حال اوس همدغه قانون په اتحاد شوروي باندې مسلط دي دقانون نوري خواوي مونږ نه څیړو، یوازې هغه خواوي یې روښانو وه چه په دولت کښې داساسي تشکیلاتو باعث ګرزي خو دومره لیکو چه قانون وائي «کار دهر مستعد فرد دپاره یوه وجیبه ده، هغه څوك چه کار نه کوي، خوراك دي هم نه کوي یا داچه هر یوه ته داستعداد په مطابق او هر یوه ته دکار په اندازه».

اوس به را شو دیته چه په دې قانون کښې ددري واړو قواو - مقننې، اجرائي، او قضایي - حداو حدود څنګه تاکل شوي دي او هره قوه ترکوم حده پورې واك او اختیار لري او څنګه منځ ته راځي.

## داتحاد شوروي جوړښت :

دقانون له مخې شوروي یو فدرالي دولت دي چه پنځلس (۱) جمهوري دولتونه پخپلې خوښې او

---

۱ - ړومبي شپارس جمهوریتونه وو. خو اوس په دې تازه وختو کښې دکارالین جمهوریت په آزاد جمهوریت بدل شوي دي.

رضا سره تول شوی او اتحادیه یا فدرالی دولت یی منځ ته راایستلی دی. هر جمهوریت ځانله اساسی قانون لری، مگر شرط دادی چه باید له فدرالی قانون سره موازات ولری. دقانون له مخی هر جمهوریت حق لری چه که وغواری له اتحادیی څخه بهر شی. هر جمهوریت ددی حق لری چه له نورو باندنیو هیوادو نوسره دپلوماسی او تجارتی روابط راساتینگ کړی همدغه سبب دی چه داوکراین اوسپینی روسی جمهوریتونه دپوتسدام دجرگی په اساس اوس دملگر وملتو په موسسه کښی هم غړیتوب لری. هر جمهوریت دخاوری دوسعت په لحاظ دننه پخپله خاوره کښی په آزاد جمهوریت آزادی علاقی، اوملی آزادی ناحیی سره ویشلی شوی دی.

مقننه قوه:

په شوروی کښی ترتولو لوړ مجلس عالی شورا ده. عالی شورا په نورو هیوادو کښی پارلمان اوکانگرس باله شی. عالی شورا دوه مجلسونه لری، دواړه یی انتخابی دی اوپه مستقیم، مساوی اوعمومی انتخاب سره دمخفی رای ورکولو په اساس انتخابیږی. دشوروی هر وگړی چه اتلسو کالو ته ورسیږی دانتخاب حق لری خو انتخابیدونکی باید له ۲۳ کلنی څخه کم نه وی. یو مجلس یی دملتونو شورا او بل یی داتحاد شورا نومیږی. دملیتونو شوراله ملی شورا یادوهم مجلس سره ورته دی په داسی حال کښی چه داتحاد شورا ددار العیان؛ یالومړی مجلس په شان ده داتحاد شورا د افرادو په سر او دملیتونو شورا دجمهوریتونو یاملی واحدونو په اساس انتخابیږی په دی معنی چه داتحاد په شورا کښی ددری سوه زر وشورویانو په سر یو نماینده هلته ورلیږل کیږی او دابل مجلس ته له هر اتحادی جمهوریت نه (۲۵) له آزاد جمهوریت نه (۱۱) له آزادی علاقی څخه پنځه او له ملی ناحیی څخه یو نماینده انتخاب شوی استول کیږی. دهری انتخابی شورا دوره څلور کاله ده دانتخاب په سر کښی دواړه مجلسونه په گډه سره غونډه کوی او لومړی دځان دپاره رئیسه هیئت انتخابوی دهمدغه رئیسه هیئت مشر دی چه دجمهور رئیس یادولت دمشر په نامه یادیږی او اوس دغه رئیس مارشال وراشیلوف دی رئیسه هیئت (۱۵) معاونان چه له هر اتحادی جمهوریت نه به یو یو پکښی وی، (۱۵) غړی او نور منشیان لری چه تول شمیریی نژدی څلویښتو ته رسیږی. عالی شورا دقانون له مخی دکال دوه ځله غونډی کوی. په فوق العاده دول هر وخت درئیسه هیئت او داتحادی جمهوریت له خوا غونډیدای شی مگر رئیسه هیئت کال دولس میاشتی غونډی لری او دعالی شورا په غیاب کښی کار کوی. عادی قوانین په لږ اکثریت سره راوځی مگر اساسی قوانین یا داساسی قانون ترمیمات درایو په دوه دریمو اکثریت سره وی.

## اجرائیه قوه :

په شوروی کښې ترتولو لوړ اداری مجلس دوزیرانو شوراده داشوراوظیفه لری چه دعالی شورا تصمیمات ، قوانین اوتصویبونه عملی کړی دوزیرانو شورا دعالی شوری دګډی غوندی له خوا انتخابیږی نو ځکه هغی شوراته مسئولیت لری دوزیرانو شوراله رئیس (صدراعظم) دهغه معاونانو ، وزیرانو ، دبیلو بیلو کمیتو له رئیسانو ، او دمرکزی بانک له رئیس څخه جوړه ده وزیران دوه قسمه دی یو قسم ته یی دتول اتحاد وزیران ویل کیږی او بل رازیی داتحادی جمهوری وزیران دی. لومړی قسم وزیران داتحادی جمهوریت دمشابهو وزارتخانو له لیاری کار ونه په مخ بیائی په قانون کښی (۳٦) اتحادی وزیران او (۲۲) جمهوری وزیران ذکر دی چه په دی حساب دوزیرانو شوراله (٦۰) غړو څخه زیات لری مګر ددی دپاره چه دولتی کار ونه زراجراءشی په کابینی کښی تول نه دی شامل ځکه چه دشپیتو وزیرانو غونډیدل او په یوی موضوع خبری کول دیروخت نیسی ، نو له دی کبله کابینه یوازی له صدراعظم او دهغه له لومړیو معاونانو څخه چه هریویی څو وزارتونه ترلاس لاندی لری جوړه ده .

## قضائی قوه :

قضاوت داتحادیی دعالی محکمی ، دجمهوریتونو او دبیلو بیلو علاقو اوناحیو دعالی محکمو دخاصو محکمو او دوګړو دمحکمو له خوا کیږی. ترتولو لوړه او پورته داتحادئی عالی محکمه ده همدغه محکمه ده چه هم په بیلو بیلو جمهوری واحدونو او هم په تول شوروی کښی قضائی محکمی ترمراقبت او څارلاندی نیسی. پورته تولی ذکر شوی محکمی هم په اتحادی جمهوریت او هم په جمهوریتونو کښی دمربوطه عالی شوراګانو او یا دمحلی شوراګانو له خوا دپنځو کالو دپاره تاکلی کیږی. دولتی مدعی العموم بیاترتولو لوړ دی. دی داوو کالو لپاره دعالی شورا له خوا تاکل کیږی او په دی موظف دی چه په تول شوروی کښی دسوشلستی قانون مراعات ترمراقبت او کتنی لاندی ونیسی. دا بیا دلوی مدعی العموم کار دی چه په لاندی قانونی واحدونو کښی بل مدعی العموم دځان له خوا وتاکی. په قانون کښی ویل شوی دی چه دوی د هیچا تابع نه دی او یوازی عالی شوراته مسئولیت لری که له لاندی خوا راشو. اول به دوګړو محکمه یا ده کړو چه له یوه قاضی او دوه مفتیانو څخه جوړه ده ترهغه پورته بیادآزادو علاقو محکمه ده . چه ورپسی پورته دجمهوریت او بیا دتول اتحاد محکمو ته رسیږو.

یو څو خبری : داتحاد شوروی (۱۹۳٦) کال داساسی قانون له مخی مود دولت دری واړه قواوی په لنډ دول سره یادی کړی او دولتی تشکیلات مووښوول . خو هغه اساسی پرنسیپ او نظریه

چه پورته دری گونی قواوی پری ولاړی دی یاده مونه کړه اوس به ښه وی چه په دی باره کښی هم یوڅه وګړیږو ترڅو چه ښه پری پوه شو .

په نورو غیری سوشلستی جمهوری یاشاهی دولتونو کښی ددولتی تشکیلاتو په باره کښی دوه مهمی نظریی موجودی دی چه یوی ته یی دقوا واتحاد او بلی ته یی دقواو بیلوالی وائی ، دقواو داتحاد په اساس دبرتانیی شاهی دولت جوړ دی ددی معنی داده چه په هغه ملک کښی حکومت یا په مشخص دول سره اجرائیه ارګان هغه وخت جوړیږی چه دپارلمان دا کثریت ځینی غړی د کابینی په جوړولو مامور شی داسی کابینه تر هغه دوام لری چه پارلمان تری راضی وی خو هر کله چه عدم اعتماد یانارضایت ددوی ترمنځ راشی اجرائیه قوه ړنګیږی او ماتی کوی . دقواو بیلوالی دمانتسکیو نظریه ده چه په زیاته اندازه دامریکی دمتحده هیوادونو اساسی قانون پری بنادی ددی نظریی په مطابق دری واړه قواوی یو له بلی نه بیلی او جلا دی . اعتماد او عدم اعتماد یو او بل نه جوړوی او نه یی ړنګوی مګر په عین حال کښی یو په بل کښی په ځینی اساسی موارد و کښی داسی نښتی دی چه ددکتاتوری او خودسری مخه ونیسی . هو دومره ده چه قاضی القضات یادقضائی ارګان ، دمشر په هغه ملک کښی دجمهور رئیس یاداجرائیه ارکان دمشر له خوا تاکلی کیږی . خو په اتحادشوروی کښی دارازنه ده هغه ملک دبیل پرنسیپ په اساس سیاسی او دولتی تشکیلات لری چه هغه ددموکراتیک سنترالزم یا دموکراتیکی مرکزیت په نامه یادیږی . ددی اصل په قرار داتحاد شوروی ددولت اساس دهرم په څیر دی . داهرم په خپل اساس یا په هندسی عبارت په خپلی قاعدی کښی پرشپیتو زرو محلی شوراګانو ولاړ دی . هرڅومره چه له قاعدی ته دراس یا څوکی په لور لوړیږو په همغه تناسب شوراګانی کمیږی ، مګر قوت او اختیاریی معکوساً زیادت کوی . په دی دول عالی شورا ته رسیږو چه دقانون له مخی په قوت او اقتدار کښی ساری نه لری . په بل عبارت دپورته اصل یعنی دموکراتیک سنترالزم په اساس عالی واکمنو شوراګانو ته دولسی انتخاباتو له لیاری واکمنی ورکوله کیږی او بیا همدغه ولسی واکمنی په عالی شورا کښی مرکزیت پیدا کوی چه هغه بیابیرته له پاس نه ښکته په ولس باندی تطبیقیږی . په ولس باندی دهمدغسی واکمنی دتطبیق او تعمیل څرنګوالی دی چه ددموکراسی مفهوم تری اخیستل کیږی . هغه لوی اختلاف چه دکمونستانو او کاپیتلستانو ترمنځ موجود دی دهمدغی واکمنی له تطبیق نه دیرښه څرګندکیداشی . بورژوایا کاپیتلستان (سرمایه داران) یاهغه چه ددموکراتانو په نامه شهرت موندلی دی او معمولاً تری غربی دموکراتان مرادیږی ، ددی واکمنی په تطبیق کښی دولس خوښی اورضا ته ګوری نو ځکه په داسی جامعو کښی دولتی کارونه زیاتره په سستی سره اجراء کیږی او دیرځله دګوندیماری له کبله دبیلو بیلو مفکورو په اساس نوی حکومتونه منځ ته راځی چه د پخوانی حکومت

دپروگرام ممدنه گرزی مگرسوشلستان یا کمونستان یا مارکسیستان یاهغه‌چه‌دکارگروپه دکتاتوری عقیده لری‌وائی چه ددی واکمنی په‌تطبیق کښی دولس له‌خوښی اورضا څخه دتول ولس رښتینی هوساینه ، ارامی اوسعادت معتبر اولومړی دی اووائی چه تول هغه پلانونه پروژی اوکارونه چه‌په نهائی تحلیل کښی دولس په‌حقیقی خوښی اوسعادت تمامیږی باید له‌پاس نه دښکی په لوری په ولس باندی تطبیق شی اوعالی شوراگانی باید له هغی ورکړل شوی متمرکزی واکمنی څخه کارواخلی اودنوروخوښی اورضا ته دومره ونه گوری څکه چه‌عامه شعور خطاوزی اومنفعت جویان او غولوونکی سیاستمداران اوسرمایه داران یی دخپلی گټی دپاره استعمالوی دهمدی اصل په اساس ددوی سیاسی فلسفه دکارگروپه‌دکتاتوری مشهوره شوی‌ده نوکه په اتحاد شوروی یانوروسوشلستی هیوادوکښی عالی شورا اودوزیرانوشورا وته‌ځیرشوهلته به ووینوچه‌واکمنی په محدود ومرکزی واکمنوجرگوکښی دواکمنوقوی انتخابی کسانوپه لاس کښی ده چه دوی‌کمونستان دی یعنی دوی دانتخاب له لیاری دهمدغی متمرکزی‌واکمنی تطبیق په وس‌باندی داوس دپاره دسوشلزم دفلسفی په اساساتوکوی . داودسوشلستی اوکارگری ددکتاتوریت نظریه چه غواړی تول دولتی کارونه د مارکسزم لیننزم دفلسفی‌په اساس دیوه معین هدف‌په لوری په چټکی سره په مخ بوځی اوله زیاتوخبرواترواوبحث اومباحثوڅخه چه دیروخت نیسی مخ نیوی وکړی‌اوپه دی‌دول له سوشلستی انتقالی مرحلی څخه واوړی اوکمونستی بی‌طبقاتو مطلوبی جامعی ته ورننوزی

دشوروی‌دنوی نظام اوچلند مطالعه بی‌دحزب له کتنی نه نه پوره کیږی‌که‌څوك داغواړی‌چه شوروی‌جامعه وپیژنی‌اوله بیلوارخوسره‌یی‌آشنا اوخرنگوالی‌ئی‌ورته‌معلوم شی ، لازمه‌ده چه دهغه ملک دحزب‌په فلسفی هم تریوڅه حده پوری خبروی اوخصوصیت‌اواساس یی ځانته معلوم کړی. داکار دومره آسان هم نه دی ، څکه چه‌دحزبی اصولیاتوپه‌باب‌کښی مواد اوخپرونی نشته خولدی‌کبله چه دشوروی‌دولت‌له مطالعی‌سره دحزب‌مطالعه ترلی‌ده اوبیله هغه هرڅومره تشریحات اولیکنی‌چه وی‌تولی‌نیمگړی‌معلومیږی ، نولازمه ده‌چه‌دحزب‌په باب‌کښی هم‌هرڅنگه چه وی یوڅه ولیکو .

هغسی‌چه‌دشوروی‌موجوده نظام نوی‌دی‌علمی‌اواجتماعی اصطلاحات ، تعریفات ، اوتعبیرات یی‌هم جدید اودیوی‌نوی‌نظریی‌اوفلسفی‌په اساس دی. دانوی‌نظر هرڅه اوهرشی‌له بلی‌لاری څخه گوری. دانوی‌لار ، نوی‌میتودله نورونه فرق لری اودا فرق دیراساسی اوعمیق دی ، دوه اصطلاح گانی‌به دمثال په‌توگه را واخلو واوهغه‌به‌ددی‌دواړوله‌نظره تعریف‌کړو . ددیموکراسی کلمه خواوس دیره پکاریږی اودیری‌خبری‌اولیکنی‌یی په باب‌کښی روانی‌دی خوهغه

مفهوم چه له دی کلمی څخه مشخص کیږی او هغه په یوه تا کلی حداو معین چوکـات کښی لویږی دپورته جهان بینو له نظره بالکل توپیر لری. ابراهام لنکن وائی چه « دیموکراسی پرخلکو، دخلکو له خوا دخلکو لپاره حکومت دی» او یاداچه امریکائی پروفیسر واسرمن په خپل کتاب « سیاسی عصری فلسفه» کښی لیکی « دیموکراسی هغه اجتماعی فلسفه ده چه پرتولو بشری مناسباتو فردی وی او که مجموعی حکومت لری» خو ددیموکراسی تعریف دنوی جهان بینی په اساس له پورته تعریفاتو نه فرق لری هغه داسی چه :

دیموکراسی هغه سیاسی تشکیلاتو او تطبیقاتو ته وائی چه دهغو په واسطه طبقات دخپلو اقتصادی منافعو دوړاندی بیولو دپاره خپل ځانونه قوی کوی چه په دی معنی دیموکراسی دطبقاتو دمبارزو وجود ښیئی. دلینن له خولی ددیموکراسی تعریف لدی څخه هم مشخص کیږی . دی دیموکراسی په یوه طبقی باندی دبلی طبقی حاکمیت بولی په کاپیتلستی نظام کښی لږه کی په دیره کی او په سوشلستی نظام کښی برعکس دیره کی په لږه کی یعنی اکثریت په اقلیت. دالږه کی او دیره کی ثابت نه دی گڼل شوی بلکه دلږ یدو او دیریدو په حال گڼل شوی دی یعنی دیره کـی په دیریدو او لږه کـی په لږیدو کښی فرض شوی دی دا کمی او زیاتی به ترهغه دوام کوی چه رومبی دخپل دیریدو په آخرنی حد کښی دجامعی تول افراد په ځان کښی شامل کړی او ورستنی دلږیدو په سلسله کښی دصفر درجی ته تقرب وکړی او بالکل ورك او محوشی. او په دی حساب دکارگری یوه سوچه جـامعه جـوړه شی پدی اساس دحزب په باب کښی هم ددوی نظر بل راز دی دوی حزب دمتشابهو او متجانسو افکارو څخه جوړ بولی او دا کار یوازی هلته ممکن کیدای شی چه دیوی واحدی طبقی هغه منورین چه له عادی کسانو څخه دفکر او نظر په لحاظ دمخه دی سره تول او متحد شی او په کامل نظم او دسپلین سره دیوه تا کلی او معین هدف په لوری فعالیت او عمل وکړی په دی حساب حزب کومه بیله دله نه ده بلکه دیوی طبقی پرمخ تللی او مترقی برخه ده چه اساس او بنسټ یی پخپله طبقه گڼل کیږی په عمومی دول سره دانشی کیدای چه سرمایه داران او مزدوران یادهقانان او زمینداران به سره متحدشی او ځانله کوم بیل حزب جوړ کړی دا ځکه چه دوی له آره په بیلو طبقاتو پوری تړلی دی چه داقتصادی منافعو په لحاظ یو دبل ضددی ددی معنی داده چه دیوه گټه دبـل تاوان دیوه ژړا دبل خندا او دیوه قوت دبل ضعف دی ، دلته ارومرو داسوال منځ ته راځی چه طبقه یعنی څه ؟ ددوی له نظره طبقه دوگړو هغه برخه ده چه تولیدی وسایلو پوری یو خاص ارتباط ولری ، سرمایه داران دفابریکو کارخانو او په عمومی دول سره دثروت دتولیدی وسیلو خاوندان سرمایه او پانـگه لـری نو ځکه دوی سرمایه داران یا پانـگه لرونـکی یا کاپیتلستان شمیرل کیږی او ځانله یوه بیله او جلا طبقه

جوړوی. کارګران او مزدوران په کارخانو ، فابریکو او همداسی نورو ځایو کښی مزدوری او کار کوی. دوی ددی آلاتو څښتنان نه دی دوی هیڅ نلری او ددی دپاره چه ژوندو کړی دمجبوری و رځی خپل د کار قوت په نورو خرڅوی او یوه بیله طبقه جوړوی چه هغه ته دمزدورا نو یا کارګرو طبقه ویله کیږی. دهمدغو پورته دوه متضاد و او متخالفو طبقو پرمخ تللی او مترقی برخی دی چه بیا ځانله دلی تشکیلوی او دحکومت په نیولو سره کوښښ کوی چه دخپلو مربوطو طبقاتو په نمایندګی او ددوی دمنافعو او ګټو دساتلو او دیرو او په منظور قوانین ، نظامات ، او مقررات وضع کړی او ولسونه دهغو په تطبیق او تعمیل سره مجبوریا تشویق کړی.

داچه اتحادشوروی نن ورځ خپل ځان دکارګرو نماینده ښئی او امریکا دیو سرمایه داری نظام په حیث پیژندل کیږی ددی سبب دادی چه په شوروی کښی دکارګرو او بزګرانو دطبقاتو مترقی اوپرمخ تللی برخه یعنی د کمونست ګوند مسلط دی او په امریکی کښی کله دجمهوریت خواه او کله ددیموکراث ګوند و نه حاکمان وی چه ددواړو ګوندونو اساسات په یوڅه فرق سره دسرمایه داری په فلسفی ولاړدی دشوروی او امریکی دموجوده نظامونو ترمنځ دهمدغه عمیق او اساسی تضادله کبله دی چه نن ورځ ددوی مربوطه حکومتونه په بین المللی او ذات البینی تولو مسئلو کښی سره مخامخ او متضاد دی او نړی یی په دوه متخالفو او دښمنو قوی کامپو سره ، ویشلی ده ترهغو چه دوی په اساس او فلسفه کښی سره وران وی ګومان نه کیږی چه په دنیا کښی په دایمی دول آرامی قایمه شی او دګډ ژوندون لاری او په سوله او آرامی سره دمختلفو او بیلو نظامو دولسونو ژوند کولو دپاره هڅه او کوښښ او همدارازدقوت موازنه به دومره وکړای شی چه هغه عمیق اختلاف چه په اصل اساس کښی موجود دی یوڅه لږ او تخفیف کړی. ددواړو بیلو نظامونو منوران او روشنفکران په دی اختلاف دیرښه پوهیږی خو څرنګه چه ددوی موقف سره فرق لری او دوی دبیلو شرایطو او حالاتو لاندی ژوند کوی نو ځکه یوازی دخپلو مربوطه طبقاتو دګټی او تقویی دپاره په مرګ کوښښ کوی او په زیات قوی کیدو سره زیاد باسی چه په نورو هیوادو کښی دعسکری فتح او ملک ګیری په عوض نن دخپلو نظامونو په رنګ نوی سیستمونه پکښی مسلط او رواج کړی او په خپل کامپ کښی یی راولی ددی خبری دیر ژوندی مثالونه د آلمان کوریا هیوادونه دی چه دواړه هیوادونه په دوه برخو شمالی او جنوبی ، شرقی او غربی سره ویشل شوی او دوه راز مختلف سیستمونه- سوشلستی او سرمایه داری پری مسلط شوی دی.

اوس به راشو دیته چه په شوروی کښی دکادګرو او بزګرو دطبقاتو مترقی برخه یعنی کمونستی ګوند څه تشکیلات لری او ولی هلته یوازی یو ګوند موجود دی او لکه غربی هیوادونه متعدد

احزاب نه لری . دوروستی برخی په باب کښی ددی گوندرو شنفکران داسی ادعالری چه اوس په شوروی کښی یوازی دوه طبقی موجودی دی چه یوه یی دکارگرو اوبله یی دبزگرو ده دا دواره طبقی لدی کبله چه دثروت دتولیدی وسایلو په باب کښی بیل غوندی ارتباط لری دوه طبقی شمیرلی کیږی اولدی کبله چه ددوی مفاد اوگته سره یووی یوه طبقه شمیرله کیږی او دکمونست گوند ددواړو طبقو دمفاد محافظ او دضرراوشر مدافع دی او په هغه ملک کښی داکتوبرله انقلاب نه راهیسی نورطبقات لکه دسرمایه دارانو ، زمینداران وروحانیانو ، اونورو مضمحل شوی او دورکیدو په حال کښی دی نوځکه په هغه ملک کښی یوحزبی سیستم رواج لری او دمتعددواونورو احزابو دپاره اساس اومورد نه دی پاتی. ددی ادعاپه مقابل کښی دباندنی منقدین او په تیره بیا دبورژواو دطبقاتو منوران اوروشنفکران وائی چه په شوروی کښی نوراحزاب ځکه نشته چه کمونستی حزب په دکتاتوریت اوزورولاړدی اونه پریږدی چه نور احزاب ولاړشی اوسرهسک کړی.

داچه وائی په شوروی کښی دیموکراسی نشته آزادی نشته اوولسی مخالف آواز ، نه اوریدل کیږی اودکتاتوری پهزوراوقوت سره روانه دهله همدی انتقاد څخه ولاړیږی .

دکمونستی گوند دتشکیلاتو په باب کښی باید ووایو چه هغه گوند په دیموکراتیک سنترالزم یعنی دیموکراتیکی مرکزیت ولاړدی دیموکراتیک سنترالزم یعنی دکمونستی گوند هغه پرنسیب چه له یوی خوا په اعلی درجه ددیموکراسی تطبیق پکښی اجراء کیږی اوله بلی خوا قدرت او اختیارمترقی اولارښوونکوجرگه گیو یا تشکیلاتو او یا کومیتوته ورسپارل کیږی. داجرگه گی له هغوکمونستانو څخه جوړی دی چه په فکر او نظر کښی ترنورود مخه وی او دمشری اولیدری اوصاف اوخواص یی ترنوروزیات وی اوماتریالزم اومارکسزم لوی مجتهدان اوپاخه مفسران شمیرل شوی اومنل شوی وی . دیموکراتیک سنترالزم داچه:

۱ـ تول حزبی تشکیلات اوموسسی له پورته نه ترښکته اومعکوساًله لاندی خوانه ترپورته لوړوپوری انتخابی وی.

۲ـ حزبی لوړی جرگی باید وخت په وخت دخپل فعالیت اوکارپه باره کښی تولوحزبی موسسوته حساب اوځواب ورکړی.

۳ـ باید یوقوی اوسخت دسپلین اونظم په حزب کښی موجود وی اولږه کی دیره کیوته انقیاد اطاعت ولری.

٤ـ دعالی اولوړوجرگو تولی فیصلی بایددښکته تشکیلاتواوحزبی غړوله خوا پسه مطلق دول سره ومنلی شی.

په کمونستي حزبي تشکیلاتو کښې تر تولو لوړ او عالي تشکیل دتول اتحاد کانګرس یالوی کانګرس دی چه دشوروی دجمهوریتو او اداري واحدو په نمایندګي ۲۰۰۰ غړي لري دا کانګرس یالویه جرګه په دري یا څلورو کالو کښې یو ځل غوندي کوي دحزب دمقننه مجلس په شان حیثیت لري عامله موسسه یا دحزب حکومت هغه او یا کسیزه مرکزي کومیته ده چه دکانګرس فیصلي او وضع کړي مقررات او قوانین عملي کوي دا کومیته دکانګرس له خوا انتخابیږي خو لدي کبله چه او یا کسیزه کومیته دچنګ او موءثر اقدام دپاره لویه او پراخه ده نو زیات قوت او اختیار ددي کومیتي رئیس، عمومي منشي او نورو منشیانو او ددي جرګه ګیوته چه پولت بوریو (سیاسي څانګه) او آرګ بوریو (تشکیلاتي څانګه) نومیږي ورکول کیږي.

## پولت بوریو :

لکه چه دمخه وویل شوه دمرکزي کومیتي سیاسي څانګه ده چه یو ولس غړي لري په دي کومیتي کښې دحزب زبده او قوي مشران شامل وي او رئیس یې معمولا دمرکزي کومیتي رئیس وي چه اوس خروسچف دی.

داڅانګه دتول حزب دپاره متفکره او مجتهده څانګه ده دمارکسزم او کمونزم په تعبیر او تفسیر کښې داڅانګه لوړ اختیارات لري داڅانګه مطاع او وا کمنه ده څه فیصلي چه کوي باید دتولو غړو له خوا بې له کوم تردید او شک څخه ومنل شي، هر راز مخالفت ددي څانګي له فیصلو سره ستره او لویه ګناه بلل کیږي چه هیڅ نه عفو کیږي.

فیصلي درایو یه اکثریت سره کیږي هر غړي د پیشنهاد په وخت کښې د هر راز مخالفت او نقیض استدلال حق لري او هر غړي د هر راز پیشنهاد حق هم لري. خو ددي څانګي له چوکات نه بهر دهري فیصلي په باب کښې یې مخالفت دیره سخته او نه بښوونکي ګناه ده.

پولت بوریو هر وخت په منظم دول غوندي لري او معمولا په هفته کښې څو ځله سره تولیږي.

## آرګ بوریو :

هم بوه وړه څانګه ده چه دحزب له مشرانو او لیدرانو څخه جوړه ده وظیفه یې داده چه په تول شوروي کښې حزبي تشکیلات تر مراقبت او څارلاندي وساتي د مرکزي حزب ځای ماسکو دی چه هلته په زرګونو حزب کمونست غړي پکښې کار کوي او په تول شوروي او په حقیقت کښې په توله نړي کښې دحزبي فعالیتونو وظیفي څاري. داحزب په داسي رقم سره جوړ شوي او تشکیل شوي دي چه کولي شي حکومت او حکومتي کسان تر څارلاندي ونیسي او هغوی ته لارښوونې وکړي او پرې یې نږدي

چه له حزبی اصولیاتو او پریکړونه انحراف وکړی او گمراه شی حزبی تشکیلات او بنکته موسسی یا په بل عبارت دحزب وزارت خانی او خانگی دشوروی له حکومتی دایرو سره توافق لری او هره خانگه یا وزارت خانه او موسسه په حکومتی دایرو پسی خار او مراقبت کوی یعنی هر خومره چه حکومت تشکیلات لری هغومره یی حزب هم لری. دماسکو ترمرکزی خانگو لاندی په جمهوریتونو او اداری واحدونه کښی بیا نوری خانگی دی چه دهغوی تشکیلات هم دمرکز په شان دی او له هغو سره پوره توافق لری تر تولو لاندی او ابتدائی تشکیل چه معمولا دوه یا دری کسه غړی لری دواحدونو او حجرو، په نامه یادیږی چه نژدی (۱۳۵۰۰۰) واحدونو ته رسیږی او په تول شوروی کښی خواره دی په کوم ځای کښی چه اجتماع کیږی او یا داجتماع امکان موجودوی داواحدونه جوړیږی په کارخانو فابر یکو، کولخوزو سوخوزو، کلیو، باندو مکتبونو، کښی داواحدونه شته دی او هیڅ مجتمع ځای تری خلاصی نلری حزب په تولو جمهوریتونو کښی ځانله مکتبونه لری، تول هغه ځوانان چه دانرجی او کمونستی فکر خاوندان دی دکمونستو بنوونکو او متفکرینو له خوا تدریسیږی او مارکسزم کمونیزم ورته درس ورکول کیږی او برسیره پردی په کوم هغه ځای کښی چه باید یو کمونست غړی وظیفه ولری دهغه ځای خصوصیت، عرف عادت رسم او رواج ورښوول کیږی پدی دول تولو ځوانانو ته دمشوتابه لاری چاری زده کړلی کیږی تول حزب او ملیونه غړی لری او کمونست کیدل آسان هم نه دی، شرایط یی دیر سنگین دی چه زیاته انرجی او دیر فعالیت غواړی نوی کاندید باید دوه نفره کمونستان معرفی کړی دوه یا دری کاله تر نظارت لاندی نیول کیږی، دهغه شخصیت کرکتر، فعالیت، او طرز تفکر ښه سنجول کیږی او له یوه امتحان نه وروسته بیا په حزب کښی شامل یږی دحزب تصفیه هر وخت وی. تول هغه غړی چه بدگمان پری وشی او یا له مارکسزم او لینزم څخه یی انحراف کړی وی له حزب نه ایستل کیږی او ورتل کیږی پـه دی دول ویلی شو چه په شوروی کښی اصلی او حقیقی حکومت او واکمنه موسسه خپله دکمونست حزب دی او دشوروی حکومت یوازی د حزب دفیصلو، پریکړو تصمیماتو، او پروگرام اجراکوونکی دی. هر هغه تغیر چه په شوروی کښی راځی او یا هر هغه پلان او پروژه چه میدان ته راوځی او یا هر هغه سیاست او طرز چه باید شورویان بی په داخل او خارج کښی غوره کړی تول دحزب له خوا وی چه له حزبی لیارونه حکومتی دوایرونه وړاندی کیږی او حکومت یی بیا اجراکوی.

(پاتی لری)

# یو ضروری عذر

لکه چه گران لوستونکی ددولتی مطبعی د افسوسناکی پیښی څخه خبر دی ، د کابل مجلسی دری پرله پسی گڼی ٤٦٨ ـ ٤٦٩ ، او ٤٧٠ هم سوی دی مونږ ددی دری واړو گڼو غوره مضامین په یو جلد کښی دملی دفاع په مطبعه کښی د گرانو لوستونکو د استفادی دپاره بیا چاپو و ، خو بښنه غواړو چه دملی دفاع مطبعه مجهوله او ثقیله « یا » او د پښتو « ډ ا ل » او پښتو « ټ » نه لری که له دی کبله څه غلطی پیښه شی معذور مو وگڼئ .

( اداره )

دملی دفاع د وزارت مطبعه